منبع الجهاد

عِلمي او جهَادِي مياشتنۍ خپرونه

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

لَا يَسۡتَوِي الۡقَاعِدُوۡنَ مِنَ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ غَيۡرُ اُولِي
الضَّرَرِ وَالۡمُجَاهِدُوۡنَ فِيۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ بِاَمۡوَالِهِمۡ
وَاَنۡفُسِهِمۡ ؕ فَضَّلَ اللّٰهُ الۡمُجٰهِدِيۡنَ بِاَمۡوَالِهِمۡ وَ
اَنۡفُسِهِمۡ عَلَى الۡقٰعِدِيۡنَ دَرَجَةً ؕ وَكُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ
الۡحُسۡنٰى ؕ وَفَضَّلَ اللّٰهُ الۡمُجٰهِدِيۡنَ عَلَى الۡقٰعِدِيۡنَ
اَجۡرًا عَظِيۡمًا ۙ‏ دَرَجٰتٍ مِّنۡهُ وَمَغۡفِرَةً وَّرَحۡمَةً ؕ
وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوۡرًا رَّحِيۡمًا

ترجمه : نه دی برابر (الله ته) کښېناستونکی (په کورکې) له مؤمنانو (له جهاده) بې له خاوندانو دعذره اوجهادکوونکی په لاره دالله کې (ددین دترقۍ لپاره) په مالونوخپلوسره او په ځانونوخپلوسره فضیلت ورکړی دی الله جهادکوونکوته په (لګولو د) مالونوخپلوسره او په (جارولو د) ځانونوخپلوسره پرکښېناستونکوباندې (له معذرته) په درجې اوله ټولوسره (که مجاهدوي اوکه معذورناست) وعده کړې ده الله دنېې جزا (جنت) اوفضیلت ورکړی دی الله جهادکوونکوته پرکښېناستونکو (له معذرته) په اجرعظیم چې مرتبې دي (لوېې چې په عزت اوکرامت کې سره متفاوتې دی) له (جانبه د) الله اومغفرت دی اورحمت دی او دی الله ښه بخښونکی (دخطیاتو) ډېرزحم والا (په انعام دا جر اوثواب سره).

الجهاد

علمي او جهادي مياشتنۍ خپرونه

مؤسس: الحاج مولوي جلال الدّين حقّاني
دتأسيس کال: ۱۴۰۹ هـ ق / ۱۳۶۸ هـ ش
مسوول مدير: عبدُالکريم محِبّ
مرستيال: سيّد محي الدّين هاشمي

لومړی کال، دويمه - دريمه گڼه، محرم الحرام - صفره، ۱۴۱۰ هـ ق   اسد - سنبله، ۱۳۶۸ هـ ش کال

په دې گڼه کې

عنوان	مخ
۱- د مشرانو تاريخي مسووليت	۲
۲- د خدای د حبيب صلی الله عليه وسلم د هجرت . .	۵
۳- د ځينو مهمو مسايلو په باب د مولانا جلال الدّين حقاني . .	۱۱
٤- آيا اسلام د تعدي په خاطر جهاد کوي که د . . .	۲۲
۵- په خوست کې د روانو عملياتو لنډه راپورتاژ	۲۶
٦- د جهاد د سنگرونو خبرونه	۳۸
۷- پر افغانستان باندې د روسانو مستقيم تېری او . .	٤۸
۸- په سرخ د يوال کې د شهيدانو وينو له دښمن نه . . .	۵٤
۹- د ملحدينو جنايات	۵٦
۱۰- د حق د لارې قربانيان	٦۰

پته: پېښور - بورډ - ناصر باغ روډ
تليفون نمبر: (٤۳٤۷۳۱)

بسم الله الرحمن الرحیم

د مشرانو تاریخي مسئولیت

په دغو شپو ورځوکې چې زمونږ جهاد تقریباً د بشپړ بري درشل ته رسیدلی دا ضرورت ډیر محسوسیږي چې راتلونکې مرحلې ته ضروري هځې وشي .

د جهاد په تنظیمونو کې د عبوري حکومت د مترادفو او مماثلو ادارو موجودیت او فعالیت زمونږ مزل د اسلامي واقعي نظم د تأسیس عالي هدف ته سست ، مترد د او دریږ دیدونکو پښو مزل گرځوي دلته تر اوسه پورې د ادارو د وحدت لپاره عملي گامونه نه دي اخیستل شوي . د مشرانو ترمنځ د بل مهم گام لپاره د ضروري تماس او د پلان د طرحې خبرونه نه دي اوریدل شوي .

دا هغه آرمان ته زیان رسوي چې د مُقدس جهاد وروستی هدف دی . مونږ د متحد او آزاد اسلامي افغانستان جوړیدلو ته په دې حساسه تاریخي مرحله کې یو متحد ، ثابت او غیر متحول موقف ته ضرورت لرو . دا وخت د دې ایجاب کوي چې ټول تنظیمي امتیازات دې عبوري حکومت ته منتقل شي او جلا فعالیتونه دې زوال و مومي . دیو وران شوي هیواد د گډو ډیو رفع کول د مشرانو د امتیازاتو د ترك او زوال غوښتنه کوي . دا په هیواد کې د اسلامي نظام د حاکم گرځولو او د یو بشپړ اسلامي هیواد د جوړولو تاریخي مرحله ده . هغه مرحله نژدې شوې چې مونږ یې په مینه کې خپل جهاد شروع کړی ؤ . دا مرحله د جهاد د مرحلې غوندی د هر ډول امتیاز د حرص نه د کرکې غوښتنه کوي . د جهاد تنظیمونو او زمونږ محترمو مشرانو

خپلې اسلامي وظيفې د کفر او الحاد د مغلوبولو په برخه کې پخپلو کاميابو تدابيرو ترسره کړې دي . اوس له دوی نه هيله داده چې دهماغو مثبتو گامونو په دوام کې د دې مرحلې په تقاضا جلاجلا تشخص ترک کړي . زمونږ خلکو د وروستی کاميابی لپاره ډيرې قربانی ورکړي ، ددې قربانيو د ثمر د ترلاسه کولو ډيره برخه د تنظيمونو چې هريو د جلاجلا حکومت حيثيت لري د منحليدلو او د تأسيس شوي عبوري حکومت چې د دويم گام لپاره د يومعبر حيثيت لري تقويه تسلط او تحکم دی . مونږ د خپلو ټولو مشرانو جهادي خدمتونه اسلامي متانت، راسخ ايمان او هغه مهمې هلې ځلې ستايو چې د جهاد د پيل راهيسې يې کړي ، خود جهاد داحساسه مرحله اوس له دوی نه د يو آزاد آباد او اسلامي افغانستان د جوړيدلو لپاره چې زمونږ د ټولو گډ آرمان او گډ هدف دی دا تقاضا لري چې تنظيمي جلا والی دې د اسلام د کاميابی په هڅو کې او د هغو خلکو د پلانونو د ناکامولو لپاره ترک کړي چې زمونږ د قربانيو ثمر د خپلو غير اسلامي اهدافو لپاره استعمالول غواړي . اوس د دې وخت رسيدلی چې ټول او وه کاروانونه که څه هم پخوا د دوی لاروډ منزل لوري ته د جهاد مزل کې يوه وه خو اوس د منزل لوري ته دا وه کاروانونه په اووجلاجلا لارو باندې روان دي . په دې تلوار کې بايد د يو واحد انتظام لاندې بيړه وکړي . زمونږ کاروان په اوسنيو شرايطو کې يو قاطع ، صلاحيت لرونکی او د تردد او تذبذب نه محفوظ او مصئون او په شرايطو او اوضاعو باندې مسلط عبوري حکومت ته چې تنظيمونو ورته د ټولو انفرادي او اختصاصي موقفونو نه لاس اخيستنی وي ضرورت لري . زمونږ ددې مرحلې د کاميابۍ او ناکامۍ اندازه د همدغو محترمو مشرانو چې ديوې اوږدې مودې راهيسې د جهاد قائدين دي د تنظيمي اقتدار نه د لاس اخيستلو په تناسب او اندازې پورې مربوطه ده . مونږ د خپلو مشرانو نه د سياسي لوبو وعدې اوژمنې نه غواړو بلکې د دوی نه د اسلام د کاميابۍ لپاره د دې فيصلې هيله لرو چې هررنگه جلا امتياز ، جلا اداري ، مالي ، فرهنگي او جهادي تشکيلات دې ترک کړي دا هم د ټولو د گډ عالي هدف لپاره د جهاد سنگرونو غوندې د بري يوه هڅه او د راسخې اسلامي عقيدې يو ايجاب دی . دا ډول ايثار او دا فيصله د وران افغانستان د خير او فلاح يوه مينه او دافغانستان د اسلامي بنسټ د کلک گرځولو په منظور يوه ضروري فيصله ده ، نن سبا په بين المللي صحنه کې ډير لاسونه د شرق او غرب د قدرتونو د اغراضو د رعايت په منظور پټ او ښکاره فعاليت کوي ، بين المللی استعمار هڅه لري چې زمونږ ټوله کاميابي د دوی د ناوړو اهدافو ته استخدام شي . روس

ملحدينو ته د سوونو زروټنو مخربو وسلو چې قيمت يې ملیادردونو ډالرو ته رسيږي اود زرگونو په شمير د سکډ ميزايل برابروي چې د هريو قيمت يو مليون ډالر دی دا هلې ځلې مونږ ته نورهم دا تاريخي واقعيت واضح کوي چې روس د افغانستان نه د لاس اخيستلو يو حالت کې نه دی اونور قوتونه داسلامي حکومت د تأسيس لاره کې د يوبل په گډ کوښښ خنډونه پيدا کوي . که په دې مرحله کې د جهاد مشرانو کې لړغوندې ورو حرکت وليدل شي د اسلام ـ ټول د ښمنان ورنه د اسلامي اهدافو د ناکامی لپاره زياته استفاده کولی شي .

زمونږ وروستی هدف ، زمونږ اسلامي مقدس جهاد کې د کفر او الحاد نه د افغانستان نجات او په افغانستان کې د يو واحد او مستحکم اسلامي حکومت جوړول دي چې د الحاد او کمونيزم ټول اشکال محوه کړي او د بې دينی جرړې په هغه اسلامي هيواد کې و چې کړي . اوس په دې ورځو کې زمونږ تکل منزل ته نژدې شوی او مونږ نه د هغه عالي او غوره هدف لپاره د وحدت ، ايثار تقاضا او د قدرت او مطلقيت د ترك او پريښودلو غوښتنه کوي . دا يوه تاريخي مرحله او د سياسي دقت او احتياط ورځې دي که لاهم په سياسي ډگر کې وروگامونه واخلو هدف ته درسيدلو مزل اوږديږي او د دښمنانو د اهدافو پلانونه او دسيسې قوت مومي .

د خدای جل جلاله د حبیب صلی الله علیه وسلم د هجرت لومړنۍ شیبې

لیکوال: چکنوری وال

د خدای منلی رسول صلی الله علیه وسلم داسلام د مقدس دین د تبلیغ لاره کې د اسلام د دښمنانو له سختو مخالفتونو ، دښمنیو او اذیت سره مخامخ شوی. کوم وخت چې د کفارو اذیت د دوی د مبارك ذات په مقابل کی ډیر زیات شو ، تل په دې انتظار کی ؤ چې لوی خدای جل جلاله یوسبب ور پیدا کړی او یو قوم دیته چمتو کړی چی د ده د پاك رسالت او د رسالت د پیغام تائید او تصدیق وکړی او ورته د مهاندینو او د حق دین د دښمنانو په مقابل کې نصرت ورکړي. هغوی ټولنو ته دیوې نورانی رڼاپه ډول تشریف وړه او هغوی ته یی داسلام د پاك دین منلو ته بلنه ورکوله. خو هغو کفارو به تردد ښکاره کړ او داسې به یې ویل چې خپل قوم یی چې ورته نیژدې دی ، دی ته نه حاضریږي چی رسالت یې ومنې، نو نور خلك به یې څنگه ومنی، په همدې مودو کې دبنې عبدالاشهل د قبیلې ځینې خلك د تحالف او تعاہد په نیت له مدینې څخه مکې ته راغلل، د خدای رسول صلی الله علیه وسلم هغوی اسلام ته راوبلل. له هغوی څخه یوتن چې ایاس بن معاذ نومیده هغوی ته وویل: ای خلکو! دې شخصیت سره بیعت وکړی په خدای قسم دی چی د دې شخصیت سره عهد له هغه عهده څخه غوره دی چې له قریشو سره یې کوئ. له بده مرغه یو بل تن چی د قام رئیس ؤ د دې سعادت مخکې خنډ شو او ویې ویل چی وگورئ چې څه پیښیږي. ددی سردار د خبرې په او ریدو سره نورو هم له ویری نه سکوت وکړ او بی له کومې نتیجې څخه مدینې ته بیرته لاړل. وروسته بیا دخزرج د قبیلې یوه ډله د حج په وخت کې له مدینې څخه مکې ته لاړه. د خدای حبیب دوی ته هم راغی او هغوی ته یی و فرمایل چې د عالمیانو رب زه خلکو ته په رسالت مامور کړی یم او زماقام ما د خدای داحکامو له تبلیغ څخه او د دین داحکامو له بیان څخه منع کوي ، که تاسو ایمان راوړئ او ددین مرسته وکړئ، خدای به تاسو ته د دنیا او آخرت نیکمرغي درکړي. د دې خبرې په او ریدلو سره هغوی یو بل ته وکتل او ویی ویل چی دا هماغه د آخرې زمانې پیغمبر دی چې یهودانو به ویل چې زربه د آخرې زمانې د پیغمبر د رسالت دلمر رڼاخپره شي او مونږ به د هغوی د حمایت په سیورې کې تاسو له مینځه یوسو ، ای خلکو! خبر واوسئ او بیړه وکړئ

ایمان پری راوړی، څو د دنیا او آخرت نیکمرغی درپه برخه شي او د یهودو د تیري لاسونه له تاسو څخه لنډ شي. هغوی د خدای جل جلاله له حبیب سره بیعت وکړ او له بیعت نه وروسته مدینې ته لاړل.

څرنگه چې دا بیعت د مناغره ته نیژدی د عقبی په برخه کې وشو، دی بیعت ته «عقبة الاولی» بیعت ویل کیږي. د صحیحٌ قول لـه مخې د عقبة الاولی بیعت کوونکي شپږ تنه وو چې په هغوی کی اسعد بن زراره او جابر بن عبدالله هم شامل وو. کله چی هغوی مدینې ته ورسیدل د حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم د رسالت خبر خپور شو.

دا کال د بعثت یو ولسم کال ؤ. د دې ځل نه وروسته د حج په وخت کې مکې ته په یو روایت د اوس او خزرج دولس تنه، په بل روایت شپږ تنه او په بل روایت پنځه تنه لاړل چې هغو کی عباده بن الصامت او عویم بن ساعده هم شامل وو او دوی د هماغې عقبی څنگ کی په اسلام مشرف شول. لـه دوی څخه ذکوان بن عبدالقیس زرقی هغه شخصیت ؤ چی خپل وطن یی پریښود او مکه کی د خدای د حبیب په خدمت مشرف شو او بیا بیرته له هغوی سره مدینې ته راغی او هغه انصاري مهاجر گڼل کیږی. د خدای رسول صلی الله علیه وسلم د دې ډلی په غوښتنه مصعب بن عمیر له هغو سره واستاوه چی هغوی ته د دین د فقهی تعلیم وکړي او په لمانځه کې د هغوی امامت وکړي او د قرآن عظیم الشان تعلیم هغوی ته ورکړی. په همدغه کال کې په مدینه کې دلومړي ځل لپاره د جمعې لمونځ و شو او مصعب بن عمیر ددی خلکو په مرسته داسلام په تبلیغ بوخت شو.

یوه ورځ یی دبنی عبدالاشهل په یوبڼ کې خلکو ته داسلام احکام بیانول چی سعد بن معاذ ته چی د قام له سردارانو څخه ؤ او د سعد بن زراره د ترورزوی ؤ، خبر ورسید. سعد بن معاذ ددی خبرله او ریدلو سره لینده او غشی واخیست او دهغه بڼ لوری ته وخوځید او له رسید وسره یې مصعب بن عمیر له هغه تبلیغ څخه منع کړ.

بلـه ورځ بیاهم مصعب داسعد بن زراره سره دهماغه بڼ خواته داسلام د بلنې په مقصد او د قرآنکریم د تلاوت لپاره ورغی او د دوی دورتلو خبر سعد بن معاذ ته ورسول شو، خو په دې ورځ سره لـه دی چی لـه اسلام څخه دانکار په یو حالت کې هغه ځای ته راغی خو هومره بده رویه یې چې په تیرو وختونو کی درلو ده په دې ځل یې نه درلوده.

اسعد چی د سعد حالت کی څه ناڅه بدلون ولید ورته وراندې شو او و یی ویل چې: ای دترور زویه! لومړی واوره چی دې څه وائي، که چیرې خلك یې کومې غلطی لارې ته بلل نو ته ترې کوم شه او غوره پیغام راوړه او که چیرې ښې خبرې کوی، نوبده رویه ورسره مه کوه.

له دی خبرونه وروسته یی دا پاك آیت تلاوت کړ:

بسم الله الرحمن الرحیم:﴿حم والکتاب المبین انا جعلنه قرآناً عربیا لعلکم تعقلون وانه فی ام الکتاب لدینا لعلی حکیم افنضرب عنکم الذکر صفحاً ان کنتم قوماً مسرفین وکم ارسلنا من نبی فی الاولین﴾

ترجمه: قسم دی په دغه کتاب روښان بیانوونکی چې بیشکه گرځولی مودی دغه (کتاب) قرآن په عربی ژبه، د پاره د دې چی تاسې پرې و پوهیږی (عقل پکې وچلوئ) بیشکه دغه کتاب (ثابت دی) په اصل د کتاب (لوح محفوظ) کې په نزد زمونږ. خامخا خاوند د لویی مرتبې ډیر محکم دی. آیا پس بند کړو یا

(وگرځوو) دغه ذکر پند (قرآن) بند يدل (گرځيدل) له دې سببه چې يې تاسې يو قوم مسرف له حده تيريدونکی او ځومره ډير موليږلی دی له انبياءو ځخه په پخوانيو (خلکو کی):

دې پاك كلام پر سعد ډيره ژوره اغيزه وكړه. سره له دې چې په ښكاره ډول يې ايمان ځرگند نه كړ، خود ايمان نوريې په ضمير كی ژوره لاره وكړه، نو خپلو خلكو ته ستون شو او ټول بنی عبدالاشهل يې اسلام ته راوبلل او ايمان يې راوړ او خپل قام يې هم مسلمانان كړل او بيا د حج په موسم كی مصعب بن عمير د اسلامي احكامو له تعليم نه وروسته د انصارو له لويې ډلې سره د مكې معظمې لوري ته روان شو. دا خلك چی مشركين هم پكې وو، د اوس او خزرج د قبيلی خلك وو چی شمير يی په يو روايت درې سوه تنه وو او په يو روايت د دوی يوه ډله چی درې اوياتنه نارينه او په يو بل روايت دری او ياتنه نارينه او ښځی وی په ټاكلې شپه عقبی ته نيژدې ورسيدل او د خدای جل جلاله منلي استازي صلی الله عليه وسلم هغه ځای ته د خپل تره عباس بن عبدالمطلب سره چې لاپه اسلام نه ؤ مشرف شوی، خود خدای پر حبيب يې شفقت درلود، هغه ځای ته تشريف راوړ او هغوی يی په اسلام مشرف كړل. دې بيعت ته دوهمه عقبه او ځينو دعقبه كبری په نامه ياده كړې چې د بعثت په ديارلسم كال له نبوي هجرت ځخه درې مياشتې مخكې ؤ، وروسته بيا حضرت رسول الله صلی الله عليه وسلم له هغوی ځخه دولس كسه و ټاكل چی د هغو مسلمانانو داحوالو مراقب او د سختې په وخت يې مددگاران شي. دوی د خدای له حبيب صلی الله عليه وسلم ځخه اسره وكړه چی له دوی سره مدينې ته لاړشی. د خدای حبيب صلی الله عليه وسلم و فرمايل: ماته له مكې ځخه دوتلو حكم تر اوسه پورې نه دی شوی او زما د هجرت لپاره ځای نه دی ټاكل شوی، كله چې د خدای امروشو زه به هجرت وكړم. د دې خبرې سره يی له انصارو سره مخه ښه وكړه.

د كائناتو سردار تل د هجرت د حكم په انتظار كې ؤ، خو ځينې صحابيان يې د مدينې منورې لورې ته رخصت كړل. څه موده وروسته يو زيات شمير صحابيان مدينې منورې ته په هجرت روان شول لكه حضرت عمر بن الخطاب او زيد بن الخطاب، عياش بن ربيعه، حمزه بن عبدالمطلب عبدالرحمن بن عوف، طلحه بن عبيدالله، عثمان بن عفان، زيد بن حارثه، عمار بن ياسر، عبدالله بن مسعود او بلال رضوان الله تعالی عنهم.

په معارج النبوة كی ويل شوی چی اكثر صحابيان په پټه هغه لوری ته وخوځيدل، خو حضرت عمر بن الخطاب رضی الله عنه په داسې حال كې چې توره يې ترملا او غشی اولينده يی لاس كې وه، د كعبې شريفې خواته وخوځيد او په داسې حال چی قريش د كعبی شريفی ځنگ كی ناست وو، حضرت عمر رضی الله تعالی عنه كعبی شريفی ته ننوت او او وه ځلې يې په ډيره آرامی طواف وكړ، او د ابراهيم عليه السلام مقام كې يې دوه ركعته لمونځ وكړ او بيايې غږ كړ:

«وران دې وې ددې خلكو روزگار چی د ډېرو ټوټی خپل خدايان گڼی.» بيايی غږ وكړ چی: «هر څوك چی غواړی زوی يی يتيم او ښځه يې كونډه شي ماپسې دې راشي.»

د دی اعلان سره د هيچا داجرئت نه ؤ چی پاځيږی، په دی ډول ټولو صحابه و هجرت وكړ او له صحابه ؤ ځخه يې له حضرت ابوبكر صديق رضی الله تعالی عنه

او حضرت علی کرم الله وجهه څخه چی له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره پاتی وو ، نور هیڅوك نه ووپاتې شوي.

دلته له دې روایت څخه داسې څرگندیږي چی د صحابه ؤ له اعیانو او مشرانو څخه څوك نه وو پاتې شوي، څکه لکه چی د سیرت او اسلامي تاریخ په کتابونو کې راغلې د خدای د رسول له هجرت څخه وروسته هم ځینې هغه صحابه چی د پاك رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ونه وتلی شول هلته پاتې وو او کفارو به هغوی ډیر ځورول، او قرآن کریم هم په دې گواه دی چې مستضعفینو به ویل:

«ربنا اخرجنامن هذه القریة الظالم اهلها .. الایة»

ترجمه: ای ربه زمونږ، و باسه مونږه له دې کلي (مکې) څخه، چی ظالمان دي اوسیدونکی دهغې.

ویل شوی چی حضرت ابوبکر صدیق هم عزم وکړ چې مدینې ته د هجرت په غرض د سفر تیاری وکړي، خود خدای منلې استازې د کائناتو سردار ورته و فرمایل: صبر وکړه، زه امید لرم ماته هم د هجرت اذن وشي، بیابه نوسره یوځای هجرت وکړو، په یو بل روایت کې راغلې چې د خدای حبیب ورته و فرمایل: بیړه مه کوه زه امید لرم چی په دې سفر کې می ته مصاحب یې. حضرت صدیق رضی الله تعالی عنه د دې خبرې په اوریدلو ډیر خوښ شو.

مشرکانو چی د صحابه و هجرت یو په بل پسی ولید اټکل یی وکړ چی د خدای حبیب او منلی استازی صلی الله علیه وسلم به هم هجرت وکړي، نودکینې اوعناد له مخې دانیت رسولو په دسیسو بوخت شول. په دسیسو کی دهغوی مشر ابو جهل لعین ؤ، او په دسیسو کې شیطانان هم ورسره ملگری شول. ابلیس لعین دوی ته دیو نجدی زاړه سړی په جامو کې راغی او ددوی د پلانونو دسنجولو په غونډه کې کښیناست. ځینې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د شړلو او ځورولو غوښتونکی وو ځینویې د محبوس گرځولو اټکل وکړ او ځینو د هغوی د مبارك حیات په ضد دسیسه وکړه، لکه چی خدای تعالی د دوی دافاسدې اندیشنی په دی مبارك آیت کی یادوې:

«وان یمکربك الذین کفروالیثبتوك اویقتلوك اویخر جوك ویمکرون و یمکرالله والله خیر الماکرین»

ترجمه: او یاد کړه ای محمده! هغه وخت چی مکر ـ فریب به کاوه له تاسره هغو کسانو چی کافران شوی وو، لپاره ددې چی بندی کړي تایاووژنی تا، یاوباسي تا (له مکی نه) اوپټ فریب کوی دوی (له تاسره) اوجزاً د فریب ورکوي الله (دوی ته) او الله بهتر د جزا ورکوونکو د مکر دی»

ابو جهل لعین داسې وویل چې باید له پنځو قبیلو څخه پنځه تنه یوځای پرحضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم یوځای توره وچلوي څوچی بنی هاشم د هغو مختلفو قبیلو څخه قصاص ونه غوښتلی شي.

د خدای حبیب ددې حالاتو په ترڅ کې د هجرت قصدوکړ. ابن عباس روایت کوي چې پاك رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د هجرت اجازه د دې آیت حکم دی چی خدای جل جلاله فرمائی:

«قل رب ادخلنی مدخل صدق واخرجنی مخرج صدق واجعل لی من لدنك سلطانا نصیرا»

ترجمه: ووایه ای محمده! ای ربه زمانننبا ماپه ننویستلو رښتیا او و باسه ماپه ویستلو رښتیا (ښو سره مکې نه) او وگرځوه ماله له جانبه خپله یو قوت مرسته کوونکی.

«ترڅو اسلام په کفر غالب شی.»

د خدای رسول قصد وکړ چې سبایې وختې په هجرت ووځې. حضرت علی کرم الله وجهه ته یې و فرمایل چې د خوب په مبارك ځای کی یی ویده شی. په دی برخه کی روضة الاحباب کې روایت شوی چې د خدای رسول الله صلی علیه وسلم ورته و فرمایل: «زړه پاړه ولره، تاته هیڅ زیان څوك نه شي رسولای.

بیانو په داسې حال کی چی ابوجهل او نورو کفارو د ابوجهل په ملتیا د خدای د رسول لاره نیولې وه، د خدای رسول پر هغو ورغی او دهغو ستر گوته د خاورو په شیندلو له هغوی څخه تیرشو. خدای جل جلاله خپل حبیب ته د هغوی له دسیسو څخه نجات ورکړ. بیانو د کائناتو سردار صلی الله علیه وسلم د هجرت په وخت کی د حرم شریف یوه برخه کې و درید او مکی معظمې ته یې خطاب وکړ: والله ته د خدای له ټولو ځمکو څخه ماته ډیره محبوبه یې او که ستا اهل زه له تاڅخه نه وای بهر کړی زه نه وتلم. بیا د خدای حبیب حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه کره لاړ. د د حضرت عایشې رضی الله تعالی عنها څخه روایت دی چې په داسی حال کې چی مونږ د حضرت صدیق کورکې ناست وو د خدای حبیب د غرمې په گرمی کې هلته تشریف راوړ. پخوایی په هغسی یوه شیبه کې هلته هیڅکله تشریف نه راوړلو، نوځکه حضرت صدیق وویل: زمامور او پلار دې ورنه جارشي هغوی په داسې یوه شیبه کی خامخا د کوم مهم کار له کبله تشریف راوړی دی. د خدای حبیب اجازه وغوښته او هلته دننوتلو سره سم یې و فرمایل: هغوی چی په کورکی درسره دی، بهر رخصت کره.

حضرت صدیق و فرمایل: یارسول الله صلی الله علیه وسلم کور کی ستاله اهل څخه پرته بل څوك نشته. د خدای رسول صدیق رضی الله تعالی عنه ته د هجرت خبر ورکړ، بیانو صدیق پوښتنه وکړه، چې دی به هم د خدای له حبیب سره په دی سفر کی وې؟ حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم مثبت ځواب ورکړ.

روضة الاحباب کی د حضرت عایشې رضی الله تعالی عنها څخه د دې شیبې په باره کې روایت شوی چې کله چې د خدای رسول صلی الله علیه وسلم حضرت ابوبکر رضی الله تعالی عنه ته د «هو» په ویلو ځواب ورکړ حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه له ډیرې خوښی څخه په ژړاشو تر هغه وخته پورې ماگمان نه کاوه چې څوك به له ډیرې خوشحالی څخه وژاړي. حضرت ابوبکر رضی الله تعالی عنه پدغه وخت کې دوه اوښان درلودل چی په څلور سوه درهمواو په یو بل روایت په اته سوه در همویې اخیستې وو او څلور میاشتې یی ورته واښه ورکړې وو او ځار به یی ساتلې وودواړه اوښان یی د حضرت رسول کریم صلی الله علیه وسلم حضور ته راوستل ځویو له هغو څخه ومنې. هغوی یو و مانه خو یو شرط یې ورسره یو ځای کړچې قیمت به یی صدیق رضی الله تعالی عنه ته تادیه کوي. بیا هغه اوښ یی په نهو سوو درهمو و پیرود او د پیرو دلو علت یی داؤ چې د خدای رسول نه غوښتل چې د خدای په لاره کی له چاڅخه مرسته وغواړي بیایې دبنی دیل څخه یوتن چی عبدالله بن ارقیط نومیده او د مدینې لاره ورته ښه معلومه وه د بدر گې په ډول ومنل شو.

د خدای حبیب صلی الله علیه وسلم د حضرت ابوبکر صدیق په ملتیا د حضرت صدیق له کوره د شپې په تیاره کی د کور د شالورې څخه چی کور هغه لورې ته یوه کړکی درلوده دکړ کی څخه ووتل او هغه لورې ته

روان شول چې د ځان له پاره یې د حرکت تروخته پورې تاکلی ؤ . د حضرت عایشې رضی اللّٰه تعالی عنها څخه روایت دی چې له هغې شیبې څخه وروسته هغوی د سفر د لوازمو په برابرولو بوخت شول ، د ډوډۍ دارتیاو له برابر یدلو څخه وروسته دوی د ثور د مغارې خوا ته وخوځیدل او وروسته له ډیر تکلیف څخه هغې مغاری ته ورسیدل. لومړی حضرت صدیق و ردننه شو څو وگوری چې کوم مضر ځیز نه وي او د خدای رسول صلی اللّٰه علیه وسلم ته زیان ونه رسوي . دامغاره تپه تیاره وه او ډیر واړه سورې پکې وو حضرت صدیق به د هر سورې له بندولو له پاره د خپلې جامې یوه برخه ځیر وله او هغلته به یې ایښودله ، څو ټول سورې یې بند کړل او یوازی یو سوری پاتې ؤ . په هغه کی یې خپله پښه ونیوه بیایې پاك رسول ته و فرمایل چې مغاری ته دې ننوزی د خدای حبیب هلته وردننه شو خپل مبارك سریې د حضرت صدیق پرزنگانه کیښود او ویده شو . د مکې کافران دوی پسې ووتل او حتی ځینې د مغارې سرته هم ورسیدل او حضرت انس رضی الله تعالی عنه له حضرت ابوبکر رضی الله تعالی عنه څخه روایت کړی چې که د هغوی یو تن لاندې خپلو پښو ته کتلای وای نوموږ به یې لیدلای وای : خو خدای جل جلاله هغوی پدې تکل کې ناکام کړل او د خدای حبیب صلی الله علیه وسلم د حضرت صدیق رضی اللّٰه تعالی عنه سره بریالی شو چې له هغه ځایه څخه مدینې منورې ته هجرت وکړي.

دځینو مهمو مسایلو په باب دالحاج مولانا جَلَالُ الدِّیْنْ حقّاني نظر

دمنبع الجهاد خبریال څه موده مخکې دعبوری حکومت داهدافو او بریو په باب دمجاهد مشر الحاج مولانا جلال الدین حقانيِ سره یوه مرکه کړې وه چې دموضوع داهمیت له کبله لوستونکو ته دیوې جلارسالې په ډول وړاندې شوه.

دادی بیا هم مونږ په ځینو موضوعاتو کې د هغوی نظر او د ځینو پیښو په باره کې داسلام د حکم د توضیح غوښتنه وکړه چې بشپړ متن یې لوستونکو ته په لاندې ډول وړاندې کیږي:

(اداره)

پوښتنه: محترم حقاني صاحب! تاسو په او سنیو شرایطو کې دعبوري حکومت د کامیابۍ لپاره کوم عمل ضروري ګڼئ؟

ځواب: بِسمِ اللّٰه الرَّحمٰنِ الرَّحیُمْ ، نحمده و نصلی علی رسوله الکریم؛ په او سنیو شرایطو کې د عبوري حکومت د کامیابۍ لپاره له هر څه نه مخکې دا ډیر ضرور دی چې داحکومت د خپلې وعدې او فیصلې په مطابق داخل ته منتقل شي ځکه چې په لومړي وخت کې وعده شوې وه چې ټول حکومت به دیوې میاشتې په موده کې داخل ته منتقل کیږي او همدارنګه وعده شوې وه چې دحکومت ټول رسمي فعالیتو نه به د داخل نه پیل کیږي ، لیکن متاسفانه چې د کابینې غړو اوپخاص ډول محترمو مشرانو په دې کی تکاسل او تا خیر وکړ . خو اوس هم د کامیابۍ لپاره لا سهار سبا او دپیل وخت دی ، وخت ندی تیر شوی،خو پدې شرط چې دوی دا څوټکي عملي کړی:

اول ټکی دادې چې دوی دډې حکومت کابینه داخل ته نقل کړي او ټول رسمي فعالیتو نه د داخل نه وکړي او په داخل کې هغه شوراچې فیصله پرې شوې وه ، فعاله کړي او په هغو کې که څه کمښت راغلی وي د هغه دې ترمیم هم وکړي . کله چې په داخل کې حکومت ځای په

ځای شو او په عملي اجراآتو یې شروع وکړه، بیانو ددې حکومت په سیوري کې دې ټول قوماندانان دیته تشویق شي چې دحکومت د ټولو اوامرو اطاعت وکړي او همدا رنگه د حکومت له واحد قیادت نه د قوماندانانو د قوماندې اخیستلو موضوع ته دې توجه راجلبه شي.

بل دحکومت تقویه او کامیابۍ پدې کې لیدل کیږي چې دوی ته دې د عملیاتو او جهادي فعالیتو نو واحد پلان ورکړشي. دا به د حکومت لپاره ډیره لویه کامیابي وي چې د قوماندانانو اطاعت تر لاسه کړي او دوی دیوې واحد ې قوماندې لاندې تنظیم کړي.

دویمه نکته داده، کله چې دقیادت وحدت راغی او د جنگ قوماندہ واحده شوه،نو بیاد هغو نااهله او نا پوهو خلکو داعمالو مخنیوی هم کیږي چې ددښمن دخدعې او فریب په جال کې راځي او ملحدین هغوی ته ځان ځان ته دصلحې پیغامو نه لیږي او ورسره کښیني او په شخصې توگه مصالحې او اوربند ورسره کوي او دا چې یو قوماندان په خاصو خاصو منطقو کې د حکومت په شکل امر چلوي د خلکو نه محصول یا عشر اخلي یا عبوري دروازې ږدي، داتکلیفونه به هم ختم شي او یا داچې چیر ته د مجاهد په نامه غله او کمونستان راجگیږي او په داخل کې د مسلمانانو په مقابل کې دغارت، لوټ او قتل مرتکب گرځي او پدې باندې مجاهدین تومتي کوي ددې ډول مجرمینو دجرمونو مخنیوی به هم وشي.

همدا ډول دلویو ښارونو د فتح کولو په وخت کې د عامو قتلونو، لوټماریو او د ملي شتمینو دتباه کولو خطرات به هم د حکومت دموجودیت په صورت کې له

په عکس کې مجاهد مشر الحاج جلال الدین حقاني او مولوی نظام الدین حقاني له نورو خلکو سره دشورې په حال کې لیدل کیږي.

منځه لاړشي .

کوم حوادث او شخړې چې دننه په هیواد کې رامینځته شویدي ، دحکومت دموجودیت په شرایطو کې به هغه محوه شي او په سلو کې تقریبًا د پنځو دواقع کیدلو احتمال به هم نه وي .

دعبوري حکومت په وظایفو کې یوه مهمه وظیفه داهم ده چې ددې حکومت ترسیوري لاندې داهل الحل والعقد یوه شورا جوړه شي او دهغې شورا له غړونه دې کابینه جوړه شي .

ددغسې یوې شورا دانتخاباتو لپاره باید حکومت دننه په هیواد کې ډیر زر دقوماندانانو ، علماؤ او مخلصو مسلمانانو په همکارۍ او ملګرتیا یوه لاره پیدا کړي . نو د کامیابۍ لپاره لومړنی ګام د هیواد داخل ته تلل او هلته په هره منطقه کې د قوماندانانو سره په تماس کې کیدل ، دهغوی جنګي عملیاتو ته توحید بخښل ، دداخلي مشکلاتو په حل کولو کې دهغوی همکاري غوښتل ، ددښمن په مقابل کې دجنګ تیزول ، په شخصي ډول ورسره تماس نه نیول ، دحوادثو د مخنیوی لپاره پروګرامونه طرح کول او دیوې منتخبې شورا او حکومت د جوړولو لپاره لارې چارې لټول ،دا ټول ګامونه دحکومت اهداف او دکامیابۍ اساسي شرطونه دي .

پوښتنه :ـ ستاسو له پورتنیو توضیحاتو څخه خو داسې معلومیږي چې عبوری حکومت په موجوده شرایطو کې ،چې دهیواد نه بهر فعالیت کوي ،ډیره کامیابي نشي تر لاسه کولی که ددې نظر په باره کې لږ څه نور توضیحات هم ورکړئ موضوع به لا ښه روښانه شي؟

ځواب :ـ دمخکینۍ پوښتنی په ځواب کې مې هم ددې پوښتنی اساسي نکتې حل کړیدي ، پدې باره کی زما نظر دادی چې په مشرانو او کابینه کې هر څوك چې دا دعوالرۍ چې دی د افغانستان د جهاد دحمایت او دافغانستان د مسلمان ملت دتحفظ او دجهاد ثمر دلاسته راوړلو اهتمام کوونکې دی او وائي چې ددی هدف لپاره مې قرباني ورکړیده او ځان ددې مدعي هم ګڼي،او لکه څنګه چې ملت پرې اعتماد هم کړی،هغوی ته دا لازمه ده چې دلته په خارج کې پښې ښخې نکړي .

ددوی حکومت ، ددوی کابینه او ددوی ریاستونه په خارج کې هیڅ قیمت نلري،دوی باید زرتر زره داخل ته دتلو دپاره اقدام وکړي څکه چې اوس دهیواد په داخل کې دوه سوه دیرش ولسوالۍ او علاقدارۍ آزادې دي . دهغو په څنګ کې ډیرې بانډې ، کلي ښارونه او رغونه آزاد دي او دهغو تر منځ ټولې مواصلاتي لارې آزادې دي ، ټولې زراعتي ځمکې او ددې منطقو مدرسې او جوماتو نه او شفاخانې آزادې دي،ډیر کم شمیر ، یعنیدوه سوه پنځوس ولسوالیو او علاقداریو له جملې څخه یوازې تقریبًا شل ولسوالۍاو علاقدارۍ او پنځه لس مرکزونه ددښمن په لاس کې دي ، خو هغه هم تر شدیدې محاصرې لاندې دي .

تاسو هره ورځ آورئ چې پلانکۍ ولسوالي فتح شوه ، پلانکۍ علاقداري فتح شوه ، لکه مخکې و رځوکی مووا وریدل چې دنادر شاه کوټ «۹۰» نمبر غنډ او علاقداري فتح شوه او له هغې نه څو ورځې مخکې مو واوریدل چې دعلیشیرو کنډك او علاقداري فتح شوه .

همدغسې به په څو ورځو کی انشاالله واورئ چې دځاځي میدان او درګي ولسوالی فتحه شوی .

(دامصاحبه ددرګۍ ولسوالي له فتحې نه مخکې شوې وه اوس ددرګۍ ولسوالي د مجاهدينو لاس کې ده) نو له همدې سببه که داحکومت داخل ته د تللو اقدام وکړي او هلته خپل فعاليت پيل کړي، نو لو مړني مهم خدمتونه به ئې دهيواد د مسلمانانو د مشکلاتو حل کول، دقوماندې دوحدت لپاره کوښښ کول، واحد قيادت ته دهغوی راټلل او دهغوی تر سيوري لاندې هيواد ته په امن سره دمهاجرينو ننوتل او هلته ئې په خپلو سيمو کې ځای په ځای کول او دخير په مؤسسو او نورو کومکونو تر حکومتی څارنې لاندې په عادلانه ډول ويشل وي. په دې وظيفه کې به هڅه وشي چې هغه مرستې دليوانو لاس کې ونه لوئيږی او دحکومت لخوا دانصاف په طريقه په مستحقينو باندې تقسيم شي. ددې وظيفې ترسره کولوکې به هڅه وشي چې دځينو هغو خيريه مؤسسو دضررونو مخه ونيول شي چې دخير په څنګ کې افغانانو ته ضررونه متوجه کوي او دافغانانو يو-يو تن په بيل-بيل ډول په بيه اخلي. دادحکومت وظيفه ده چې هغوی له داسې اضرارونه وساتي . داهغه ضروري او مهم قدمونه دي چې حکومت ئې بايد په آينده کې په داخل کې واخلي او که د تبعيد حالت کې وي نو د پورتينو وظايفو له سلو څخه پنځه هم نه شي تر سره کولای.

پوښتنه: داسې ويل کيږي چې دحکومت دغړو تر مينځ ضروري وحدت نشته ستاسو نظر پدې باره کې څه دی؟

ځواب: په سياسي نظرياتو کې دحکومت دغړو تر منځ څه نا څه اختلاف شته او دسياسي نظرياتو اختلاف ځکه موجود دی چې داسې هيڅ مملکت نشته چې هلته ړلې او تنظيمونه موجود نه وي او بيا دړلو ترمنځ په سياسي نظرياتوکې اختلاف نه وي. دا ډول اختلاف خامخا راځي، نو څرنګه چې پدې حکومت کې دمختلفو تنظيمونو او دمختلفو نظريو خلك راجمع شويدي په دې کې شك نشته چې د هغوی ترمنځ څه نا څه اختلاف موجود دی، ليکن انشاالله العظيم ددوی په منځ کې داسې بنيادي مخالفت نشته چې دحکومت دړنګولو او ناکامولو سبب وګرځي. دليل ئې دادی چې دسياسې ړلو دا اختلاف نظر تقريبًا د پوولس کالو راهيسې موجود دی خو دايو اجتهادي او داسلام داحکامو لاندې او دخير په نيت اختلاف دی ، نو ځکه تراوسه پورې ددوی په منځ کې داسی تصادم ندی راغلی چې داتحاد او ديو ځای کښينا ستلو او ديو حکومت دکابينې جوړولو او په يوه کابينه کې دګډ غړيتوب مانع ګرځيدلی وي.

تاسو ته پته ده چې دنظر اختلاف او سياسي ړلې تپلې په ملحد حکومت کې هم شته خو څرنګه چې هغه يو جزری اختلاف دی، داسلام دحدودو دننه اختلاف ندی، هغه دشخصي ګټو او ما دياتو دپاره يو مضر اختلاف دی، دمثال په ډول تاسو وليدل چې روسان دخپل ښه ګران ملګري داؤد په مقابل کی هم خپل پلان نه تير نه شول چی دروسانو داهدافو لپاره يې کار کاوه او روسانو ته ئې ډيرې عمراني پروژې سپارلې وې او وروسته يې چی بيا کودتا وکړه خپله اکثره کابينه يې دهغوی دنوکرانو خلقيانو او پرچميانو نه جوړه کړې وه خو دهغه په مقابل يې اقدام وکړ او هغه يې دکورنۍ دټولو غړو سره په هلاکت ورساوه، وروسته يې بيا دحفيظ دپاره سره ددې چې تره کی يې ډير ګران ملګری ؤ ليکن څرنګه چی ددوی د نظر اختلاف اسلامي او دخير په مقصد نه ؤ او په ماديات او مادي او نفساني خواهشاتو باندې اختلاف ؤ.

نو حفیظ ، تره کی په ډیر بې شرمانه شکل سره ، چې بالبنت ئې په خوله ورکښیښود ، وواژه. بیا تاسو ولیدل چې د هغه حفیظ په مقابل کې ئې چې روسانو ته ئې ډیر خدمتونه کړي وو ، دهغوی ډیره غلامي او نوکري ئې کړې وه او په زرګونو مسلمانان ئې دهغوی دنظریاتو د تطبیق لپاره په شهادت رسولي وو ، کارمل ودراوه ، کارمل هغه مردارکړ. بیا نو هغه کارمل چې روسانو یې په ډیر جوش او خروش ملاتړ کاوه څرنګه چې دهغوی ترمینځ دنظر جزري اختلاف ؤ او هغه اختلاف هم د اسلام په چوکاټ کې او د اسلام او اسلامي امت دخیر دپاره نه ؤاو د مادیاتو او خواهشاتو په خاطر اختلاف ؤ ، نو بیا ئې هغه کارمل بندیخانې ته ولیږه او دده او دده دنژدې ملګرو نوم داقتدار له صحنې نه ورك او محوه شو. نو پدې کې شك نشته چې د نجیب او دده د پلې په سر به هم یوه ورځ تجارت وکړي. داډول اختلافات جزري او د حکومت دړنګولو سبب او ددوی دیو ځای کښیناستلو مانع ګرځي. خو زمونږ د مشرانو تر منځ تر اوسه پورې هیڅکله یو ناوړه اختلاف ندی راغلی او په ټولو غونډو او مجلسونو او ټولو ملي او مذهبي مراسموکې سره یو ځای ګډون کوي او یو د بل نه دفاع کوي او د کفر په مقابل کی د عمومي جهاد سنګر ټول یو ځای تقویه کوي لیکن داخلي شخړې چې دځینو خلکو د جهل او یا پدې سبب رامنځته کیږي چې ځینې کمونستان ددوی صفونو ته ننوزي او په منځ کې ځینې شخړې او حادثې راولی لکه د تخارد موضوع غوندې ، نو په هغسې شخړو کې هم دوی په ګډه د مشکل د حل لپاره ګډه هڅه کوي. تاسو به اوریدلي وي چې اوس هم ددوی ددغې شخړې لپاره حکومت محکمه مؤظفه کړه او یوه ګډه اعلامیه یې صادره کړه چې هغه به زر تر زره ټولو قوماندانانو ته ورسول شې چې هغه مسئله یوه جزیي ، سمتي او منطقوي مسئله ده او دخاصو خلکو تر مینځ مفاجاتًا یا هر ډول چې وه ، پیښه شوه لیکن یو دبل په مقابل کې د ټول تنظیم د جنګیدلو مسئله نده. هغه کومه سیاسي حادثه یا سیاسي قتل هم نه ؤ. ددوی ګډه اعلامیه ددې څرګند دلیل دی چې ددغو مشرانو په منځ کې کوم جزري او بنیادی اختلافات چې هغه د حکومت د ړنګولو سبب او د فتحې او نصرت مانع ګرځي نشته. هغسې مخالفت چې په اسلام کې حرامې منازعې او مشاجرې دي انشاءالله العزیز ددوی په منځ کې نشته او وجود نلري. او دا چې ویل کیږي چې ددوی په منځ کې کلك اتحاد نشته ، داخبره خطا ده. هو! داخبره صحیح ده چې دوی په سیاسي نظریاتو کې یو څه اختلاف لري چې د هغه دله منځه وړلو دپاره هم مونږ کوښښ کوو څو ددوی ترمینځ صمیمت پیداشي . تراوسه ددوی تر منځ تر یو حده پورې تالیف راغلی او مونږ دعا کوو چې الله پاك دې ددوی پرزړونو کی نور زیات تالیف راولي،پروردګار دې ددوی په منځ کې صمیمت ، وحدت او اتحاد راولي چې دهغه په نتیجه کې او ددغسې اتحاد په سیوري کې دوی د حکومت چارې پرمخ بوزي او د ټولو مسلمانانو دیو واحد قیادت سبب شي او دوی ددغو شخړو او مشکلاتو نه چې دښمن هم پکې مداخله کوي، مخنیوی وکړي.

پوښتنه: پدې ورستیو وختونو کې لکه څرنګه چې تاسو هم ورته اشاره وکړه د تخار ولایت کې د مجاهدینو د صفونو تر منځ یو د تأسف وړتصادم وشو،ددې عمل د مخنیوي لپاره ستاسو په فکر کومې لارې چارې

ضروري دي؟

ځواب: مخکې مې هم دې موضوع ته اشاره وکړه چې دداسې شخړو مخنيوی په هغه صورت کې کېږي چې عبوري حکومت داخل ته انتقال شي او د حکومت چارې په داخل کې سمبال شي او هلته د حکومت سلطه قائمه شي پداسې شرايطو کې به بيا د جنگ قوماندانان سمدلاسه ددوی اطاعت او ملاتړ کوي او همکاري به ورسره وکړي او په دې ترتيب به حکومت او قوماندانان يو دبل په څنگ کې همکار وگرځي او يو به په بل باندې اعتماد وکړي. ددې شخړو دراتلو وجه داده چې هلته په داخل کې اسلامي حکومت موجود ندی او هر قوماندان په خپل اختيار، او د منطقې کل اختياره حاکم دی او د ځينو قوماندانانو سره اسلامي درك، اسلامي علم او داپوهه موجوده نه وي چې د مسلمانانو وينې تويول او مسلمان ته اذيت رسول د الله تعالی په نزد باندې څه مسؤليت لري بيا نو داسې حوادث مينځته راځی يا داسې وي چې ددوی د مفسدينو او د «کی - جی - بی» دجاسوسانو تميز نه شي کولای،هغوی ددوی صفونو کې ننوزي او هغې وجهې نه دوی کې تصادم راځي، کله چې حکومت موجود نه وي نو څوك داويره نه کوي چې مجازات به شي له همدې سببه داډول مشکلات منځته راځي. ددې د مخنيوي دپاره يوازينی لاره د هيواد داخل ته د حکومت تلل او حکومت ته د قوماندانانو حاضريدل او داطاعت اطمينان ورکول او دحکومت او امر تمثيلول دي. يوه بله بنيادي وجه ئې دا ده چې د افغانستان اکثر علماً له يوولسو کالو راهيسې په جهاد مصروف شوي يا په شهادت رسيدلي او يا چيرته دهيواد نه بهر په سرحداتو کې مهاجرينو طالبانو ته په تدريس مصروف شوي، يا چيرې په دفترونو کې په وظايفو مقرر شوي يا چيرې خارج کې خصوصًا په سعودي عربستان کی په کار کولو مصروف دي نو هغوی ټولو ته د عبوري حکومت لخوا دا اعلان کول ضرور دی چې بيرته دې خپلې خاورې ته ستانه شي او وظيفی دې ورته ورکړل شي چې دوی د مجاهدينو په صفونو کې او د مجاهدينو تر تسلط لاندې ولاياتوکې او د مجاهدينو مرکزونو کې داسلام تبليغ پيل کړي او اسلامي احکام او مسئو ليتو نه خلکو ته وښيي. او دادې ورته وښيي چې مسلمان د مسلمان په مقابل کې خادم او متواضع دی او د کافر په مقابل کې متشدد، غضبناك، قهرناك او هميشه ورسره جنگيدونکی دی، دادې ورته وښيي چې عامو مسلمانانو دپاره د مجاهد وجود زغره او ډال وي او مجاهد بايد د قرآنکريم ددې حکم په صفت موصوف وي چی «اذلة علی المؤ منين اعزة علی الکفرين» يعنی متواضع او مهربان به وي پر مؤمنانو باندې،غالب زبردست به وي پر کافرانو باندې.

مسلمانانو ته ددې موقف او ددې صفاتو بيا نول او علماؤ ته حکومت کې ځای ورکول او دعلم په رڼا کې حکومت او قوماندانان خپلو مسئو ليتونو ته متوجه کول به انشاءالله هغه راغلي خاليگاه ډکه کړي او ددې حوادثو مخه به په مطلق ډول ونيسي.

پوښتنه: محترم حقاني صاحب! دتخار حادثه او دتخار حادثې غوندې نور حوادث په اسلام کې نظاير او امثال لري که نه؟ ستاسو په فکر داحادثې له څه نه نشئت کوي؟

ځواب: داحقيقت دی چې امت اسلامي د داسې حوادثو نه ترقيامته پورې نه خلاصيږي دداسې حوادثو وقوع په افغانستان کې داسلامي انقلاب نه مخکې هم موجوده وه او داسلامي انقلاب په جريان کې دداسې

حوادثو امثال ډير موجود دي او دافغانستان مسلمانانو نه پرته پرنورو اسلامي حکومتونو کښ ان تر خيرقرونه پورې دداسې حوادثو دوقوع مثالونه شته . تاسو ته بهتره معلومه ده چې حضرت عثمان رضى اللّٰه تعالى عنه درسول کريم صلى الله عليه وسلم دريم خليفه او له عشره مبشره ؤ څخه يو شخصيت ؤ ، خو دمسلمانانو د اختلاف له سببه،چې د مسلمانانو په ډلو کښ ځينې منافقين ننوتي وو او مسلمانان ئې په جنګ کښ اخته کړل،شهيد شو . او تاسو پدې خبر يئى چې د عبد الله بن سبا يهودي او د نورو منافقينو او خوارجو او روافضو په سبب د حضرت معاويه رضى اللّٰه تعالى عنه ، چې يو جليل القدر صحابي او د وحې له کاتبينو څخه او درسول کريم صلى اللّٰه عليه وسلم له اصهارو څخه ؤ او د حضرت على کرم اللّٰه وجهه ترمينځ چې درسول کريم صلى اللّٰه عليه وسلم ډير قريب او له بنى هاشمو څخه ؤ ، د مسلمانانو څلورم خليفهٔ ؤ ، داسد اللّٰه په صفت يا ديده ، تصادم پيښ شو . د دواړو خواؤ نه يوه خوا داجتهاد په حکم کښ مصيب او بله ډله ئې خطاؤ حال داچې د دواړو خواو نه يو ډير لوى شمير مسلمانان په قتل ورسيدل . په هر حال داسلام په تاريخ کښ دداسې شخړو نظاير او مثالونه موجود دي او اصلي خبره داده چې د حضرت رسول کريم صلى اللّٰه عليه وسلم يو حديث دى او دا حديث غالبًا په ابن ماجه او دار قطنى او تذکره کښ موجود دى چې رسول کريم صلى اللّٰه عليه وسلم يو وخت کښ ډير اوږد لمونځ وکړ کله چې له لمانځه نه فارغ شو نو صحابه کرامو ترې پوښتنه وکړه چې ډير اوږد لمونځ مو وکړ ، ده ورته و فرمايل چې ما اللّٰه جل جلاله ته په لمانځه کښ درې سوالونه وکړل ، تاسو ته بهتره معلومه ده چې د حضرت رسول کريم صلى

اللّٰه عليه وسلم سوال او دعا خصوصًا هغه دعا چې په لمانځه کښ وه ، بلکل مستجابه وه،مګر ده ووئيل چې ما درې سواله خداى پاك ته وکړل دوه ئې خداى پاك قبول کړل او يوه ئى رد کړه . ده خداې پاك ته دا سوالونه کړې وو چې خدايه پاکه!زما امت د اعداو په دين او د کافرانو په سلطه او سيطره باندې مه هلاکوې يعنى په دوى باندې خدايه اغياراو دښمنان مه غالب کوې چې دوى هلاك کړې. دويم سوال ئې داکړى ؤ چې خدايه! زما امت په غرقيدلو سره لکه د نوح عليه السلام قوم چې دې په غرقيدلو سره هلاك کړ ، يا دې نور قومونه په غضب سره هلاك کړل دازما قوم خدايه په غرقيدلو سره يا په قحط عام سره ، په لوږه سره خدايه مه هلاکوې دريم سوال ئې داکړى و چې اللّٰه پاکه!زما دامت نه بأس ، اختلاف ، جنګ او مشاجرې تر قيامته پورې پورته کړې . نو الله پاك اول دوه سوالونه چې ستا په امت باندې به کافران نه غالب کوم او په هغو به ئې نه هلاکوم او ستا امت به په غرقيدلو نه هلاکوم يا به ئې په لوږه نه هلاکوم دادوه سوالونه اللّٰه تعالى قبول کړل،دريم سوال پروردګار رد کړ او ورته ئې وفرمايل تر څو پورې چې امت مسلمه په عالم کښ موجود وي ددوى په منځ کښ به بأس مشاجرې او مجادلې او قتل او قتال موجود وي ، نو څرنګه چې اللّٰه جل جلاله دپيغمبر صلى اللّٰه عليه وسلم سوال په دې کى نه دى منلى او دا دامت مسلمه له خواصو نه ګرځيدلى چې ددې امت په منځ کښ به دا مشاجرې او تنازع راځي،نو په مونږ باندى دا فرض دى چې د متخاصمو ډلو تر مينځ مصالحه وکړو اللّٰه تعالى په قرآن کريم کښ فرمايلي دي چې که چيرې د مسلمانانو دوه طايفو خپلو منځو کښ تقاتل وکړ ، نو تاسو ددوى په منځ کښ اصلاح وکړئ . مسلمانان وروڼه دي تاسې اصلاح

ذات البين وکړئ دا په تاسو باندې فرض دی او که
وروسته د صلحې نه بیا ددغو دوو ډلو نه یوه ډله بغاوت
وکړي نو تاسې د متعدي علیه ډلې چې مظلومه ډله ده
څنګ کې ودریږئ او د ظالمې ډلې لاس ونیسئ او هر ځای
کې چې ظالم ظلم وکړي تاسو د مظلوم معاونت وکړئ د
مظلوم معاونت دادی چې له ظالم نه ئې حق واخلئ او د
ظالم معاونت دادی چې ظلم ته ئې پرې نږدئ نو دا حادثه
او ددې حادثې امثال او نظائر د افغانستان په انقلاب کې
او د انقلاب نه مخکې او په نورو دولتونو کې ډیر دي په
اسلامي امت کې حتی په خیر قرون کې هم لکه چې مې
ورته اشاره وکړه داسې پیښې راغلي دی . باس او مشاجرې
به په امت اسلامي کې موجودې وي خوله بله جانبه الله
پاک پدې باندې امر کړیدی چې کله د مسلمانانو تر منځ
بأس او مشاجره راځی نو نور مسلمانان دې د دریم ګړي
په صفت ددوی ترمینځ مصالحه وکړي او دا ډول مصالحه
دې بې له تعصبه وي او د حزبیت ، سمتیت ، نژاد او قومیت
په نامه دې د ظالم ملګرتیا ونه کړي بلکې د ظالم لاس
دې د ظلم نه ونیسي او د مظلوم حق دې له ظالم نه
واخلې او پدې باره کې چې دا دځه نه نشئت کوي باید
وویل شي چې یوه وجه ئې داده چې مونږ وویل چې په امت
اسلامي کې به داسې شخړې ترقیامته پورې موجودې وي
او ددې نه پورته بله خبره دا ده لکه چې مو ورته
اشاره وکړه چې د صحابه ؤ وخت کې چې دا شخړې واقع
شوې منافقین پکې ننوتل،که د حضرت معاویه رضی الله
تعالی عنه او د حضرت علی کرم الله وجهه اختلاف ته
ځیر شو نو د حضرت معاویه رضی الله تعالی عنه او
حضرت علی کرم الله وجهه تر منځ د قصاص اخیستلو په
مسئله کې د نظر اختلاف راغی نو منا فقینو ته فرصت
لاسته ورغی چې هلته مداخله وکړي او یوه ډله د بلې ډلې
په ضد استعمال کړي ، نو هما غسې دلته هم څرنګه چې
اووه ډلې یا اووه تنظیمونه موجود دي او دا اووه تنظیمونه
خپلو منځو کې د نظر اختلاف لري ددې اختلاف او ددې
اوو ډلو جوړیدلو کافرانو او منافقینو ته یوه موقع په لاس
ورکړه او دا چې د حضرت رسول کریم صلی الله علیه
وسلم په ډله کې منافقین موجود وو تاسو ته معلوم دی دا
تاسو ته منصوص معلوم دي چې داحد په غزوه کی درې
سوه تنه منافقین د عبد الله بن ابی بن سلول په ریاست د
پیغمبر صلی الله علیه وسلم له لښکر نه راوګرځیدل او
دغه جنګ کې ئې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم فیصلې ته
خطا وویل ، منافقت ئې په ډاګه شو . هغوی وویل چې مونږ
په جنګ باندې بلکل نه پو هیږو ، که پوهیدای ، ستاسو
ملګرتیا به مو کړې وای او یا ئې ویلی ووچې دا جنګ په
صحیح طریقه نه دی یا دا چې ویلي بې و وچې نبی کریم
صلی الله علیه وسلم د مشرانو رایه نده منلې او د کشرانو
رایه ئې قبوله کړه او داصحیح جنګ ندی که مونږ پوهیدای
چې دا صحیح جنګ دی نو خامخا به مو اطاعت کو لای.نو
هغه منافقین بیرته وګرځیدل او هغه جنګ ئې پیغمبر صلی
الله علیه وسلم او صحابه کرامو ته پرېښود . پدې جنګ
کې ددې خلکو نه چې بیرته وګرځیدل علاوه نور منافقین
هم وو او په مدینه منوره کې ډیر منافقین موجود وو .
څرنګه چی د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په زمانه کې
منافقین موجودیدای شول او د هغو په ډلو کې ننوتلی
شول او د صحابه ؤوخت کې چې خیرالقرون ؤ هلته
عبدالله بن سبا یهودي غوندې منافقین په هغو ډلو کې
ننوتلی شو نو اوس خو د مسلمانانو په ډلو کې د زرګونو
په شمیر منافقین ننوتلي دی او ننوتی شي او هغوی تر یوه

وخته پورې ډېر په اخلاص باندې د کفر مقابله کوې او مسلمانانو ته ځان موثوق ثابتوي کله چې ځان موثوق او معتمد وگرځوي بیا نو د بل جانب او بلې ډلې او بل تنظیم په مقابل کې داسې یوه فاجعه منځته راوړي چې هلته ښځې ماشومان یا بې گناه مسلمانان قتل کوي یا د هغوی لار وهې یا ئې بندیان کوې یا ئې مالونه په زوره اخلې، چې بیا د دغې بلې ډلې خلك د هغوی په مقابل کې جگ شي ، احساساتي شي او د مسلمانانو ترمنځ کی قتل و قتال راولې،نو ددې ټولو فجائعو نشئت یوازې ددې نه کیږي چې ددې یوولس کلن جهاد د مودو په اوږد وکې ډیر ځلي داسې شوي چې ملحدینو، روسانو ، زندیقانو ، منافقینو خلقیانو ، پرچمیانو،شعله یانو دکی جی بی غړی او نور جاسوسان دمسلمانانو د ډلو په صفونو کی داخل کړیدي او بیا یې تر ډیرې مودې پورې د خلکو په نظر کې د اسلام په ډیر اخلاص سره خدمت کړیدی د قوماندانانو امرئې منلی دی او پس له هغه چې وثوق پرې راغلی او معتمد گرځیدلي د بل تنظیم په مقابل کې،د بل قوماندان په مقابل کی،دبلې جبهې او بل ولایت په مقابل کې یې داسی فاجعه داسی شنیع او قبیح عمل تر سره کړې چې هغه ئی په غضب راوستلی او هغوی بیا ددې تخصیص او تمیز ونکړې چې دا په هغه ډله کې منافقین وو چې هغه عمل ئې وکړ نو د هغو پیژندل او له نورو نه د هغوی توپیر او تفریق په کار دی او خاص د هماغو خلکو نه قصاص اخیستل په کار دی. ددې تفریق نه پرته یو تنظیم د بل تنظیم په مقابل کې او یو قوم دبل قوم په مقابل کی او یو قوماندان دبل قوماندان په مقابل کې دریدل یو ناوړه او فاسد عمل دی.کله کله مشرانو او قوماندانانو ته داسې خبرې راوړل شویدي چې دوی په هغه کې تحقیق ندی کړی او په هغه باندې د هغو سره سم له لاسه د جنگ اعلان کړی.

الله جل جلاله فرمایي :«یا ایها الذین امنو ان جاءکم فاسق بنباء فتبینوا» یعنی ای مومنانو! که راشې تاسی ته کوم یو فاسق په یوې خبرې سره نو د خبرې ښه تحقیق وکړئ. لیکن دې صاحبانو ، محترمینو تحقیق او تبین ندی کړی او سم له لاسه ئې د هغه بل تنظیم یا د هغه بل قوماندان یا د هغه بل قوم یا د بلی جبهې په مقابل کې د جنگ او انتقام اخیستلو عملي اقدام کړیدی.

بله منشأ داوه چې په شمالي ولایاتوکې د مجاهدینو داکمالاتو طریقې او لارې دهغو سیمو د مسلمانانو نه د عشر او تبرعاتو او صدقاتو لاسته راوړل دی ځکه چی ددوی دپاره داکمالاتو او د غذائی موادو او د خوراکی شیانو درسولو امکانات د مجاهدینو مرکزونو ته مشکل دی او دوی د مجبوری له مخې د هغوی نه عشر او زکوۀ او صدقات اخلي چې داخدای جل جلاله ورته روا کړیدی او بې له دې هم په هره منطقه کې د مجاهدینو نفقه د هغو منطقو پر مسلمانانو باندې لازمه ده دهغه عشر په ټولولو باندې کله کله دهغې منطقې دقوماندانو ترمنځ چې وائي دا منطقه زما په تنظیم پورې مربوطه ده یا ما آزاده کړیده ، جرړ او تصادم راځي،که دلته د قیادت او د قوماندې وحدت راغلی وای او تنظیمونه نه وای نو دغله او رهزن او سارق او فاسق مخه به ډیره ښه نیول کیده،ځکه چې که چیرته یو تنظیم یا یو قوماندان یو غل ووینی او ثابت کړې چې هغه غل دی او اسلحه خرڅوي یا د مسلمانانو مالونه لوټ کوي یا غنیمت لوټ کوي ، یا د مسلمانانو په مقابل کې بدعملو نه اجراء کوي،نو هغه ورټې ، وئې شړي یا دې ته مجبورشي چې وئې نیسي او

دعمل جزاء ورته ورکړي نو که چیرې ټول یو تنظیم وای او ټول یو حکومت وای بیا به دده د منډې لارنه وه او دې به خامخا مسلمانانو ته تسلیم کیده، چی ده ته ئې جزا ورکړی وای. لیکن څرنګه چې دلته او وه تنظیمونه دي او اووه زره قوماندانان دي نو چی کله دیو تنظیم نه په غلا باندې ورتل شی یا په غلا باندې محاکمې ته راکاږل شي بیا نو دی به بل تنظیم او بل قوماندان ته ولاړ شی او دلته چې ئې د خورد ضابطۍ وظیفه وي هلته ورته د قوماندانۍ وظیفه هم ورکړي او ښه ئې په اسلحه باندې هم قوي کړي او په پیسو باندې هم، نو هغه غلاخوئې ورکه شي او ډیر لوی برائت او افتخار هم تر لاسه کړي او بیا دهغه چا په مقابل کې چی دی ئې د غلا په وجه محکمې ته کش کړی ؤ او د وظیفی نه ئی ایسته او په غلا باندې ئی نیولی ؤ او تحقیق ئې ترې کاوه د هغه په مقابل کې بیا دی راجګیړی ډول-ډول بیا نو نه کوي او بیا به وائي چې زه ئې په درواغو باندې تومتي کړی ؤم، زما غلا حقیقت نه ورلود، زما جاسوسۍ حقیقت نه ورلوده که نه ماته به بل تنظیم دابرائت ولې راکاوه او دالوړ مقام ئې راته ولې راکاوه، نو دی بیا دهغه بل دښمن په مقابل کې جنګیږي او داتنظیم ددې په ځای چې ووائي چې داقوماندان هغه بل تنظیم غل ثابت کړیدی او دی ئې شړلی دی زه بیخې ده ته ځای نه ورکوم، شرم ئې، غیرږه ورته خلاصه کړي او هغه غل د غلا نه هم پاك وښیي، دټیټی وظیفی نه ئې جګې ته هم ورسوي او ملایې هم ورته ټینګه کړي او چې څومره تبلیغات دبل قوماندان او دبل تنظیم په ضد کوي دوی ئې تصدیقوي او داسې نور. د څلورمې منشاءاواساس دادی چی یو ګروپ، یو قوماندان، یوه ډله، یو قوم دیو تنظیم نه په ما دیاتو باندې خفه شی یا ئې دهغه تنظیم نه ښه اکمالات نه کیږي، جهاد ئې ښه نه پالل کیږي نو بل تنظیم ته راشي بل تنظیم داورته نه وایي چی یو ځلي به ستا تحقیق وکړم چې هغه تنظیم نه چې ته مرورکیږې ظالم ئې، که مظلوم ؟ او داهم ورته نه وائی چې دهغه تنظیم دې چې کوم امانت د جهاد دپاره اخیستی دی هغه ټول راوړه او هغه تنظیم ته ئې تسلیم کړه نو بیا به د جنګ دپاره تا ته زه خپل امانت درکړم، بلکی هغه امانات ورسره موجود وي د هغه بیا لست هم ورنه نه اخلي چی دا په تنظیم کې قید کړه داد بیت المال مال دی چی د هغه بل تنظیم په قومانده دې پرې جنګ کاوه نو چې ماته راځې هغه امانت به ماته تسلیموې او ددې پوښتنه به درنه نه کوو او زما د قوماندې لاندې به ئې استعمالوې او خرڅوې به ئی نه، دهغو پوښتنه هم ترې نه کیږي هغه به ورته وائي چې زه چې تا ته راځم نو ماته به دومره اسلحه راکوې، موټر به راکوې، پیسې به راکوې. داټول ورته ورکړي هغه دبل تنظیم نه ئې چې راوړي هغه د ځان دپاره مغتنم وګرځوي او هغه د ځان دپاره خرڅ کړي، نو داتقریبًا دسوونو ګروپونو قوماندانانو کې پیښ شوي چې هغه امانت وسلې خرڅې شوي او دلته بیا نورې وسلې ورته ورکړل شوي کله چی بیا هغه زوړقوماندان او مخکینې زوړ تنظیم ددې ډلی مخې ته دریدلي چې ماته هغه وسله راکړه. دې ډلې ددې په ځای چې غل ورته تسلیم کړي او یا وسله بیرته ورکړي، دغله ملایې ټړلي، ورسره جنګ ته دریدلي. دادجنګ او مجادلې بله منشأده.

د جنګ بله منشأ داګرځیدلي چې اکثره قوماندانان بې علمه خلك مقرر شوي دي، اکثره به نه وایم خو مطلب دا دی چې په ډیرو جبهو کې بې علمه خلك مقرر شویدي او بیا متأسفانه هغه داکار هم ندی کړی او په خپل څنګ کې يې

علماً هم ندي کښېنولي، نو جهاد او د ژوند په زرګونو احکام په خپل اجتهاد ناپوهې سره فردي او اجتماعي مسئلې، دحيات او مرګ مسئلې او د کفر او اسلام مسئلې د خپل خواهش مطابق پر مخ بيا ئې پداسې شرايطو کې چې نه ورسره علم او نه ورسره په څنګ کې علماً وي چې د هغو د علم نه استفاده وکړې داسې شخړې د مسلمانانو په مينځ کې راځي . د علماؤ نه موږ ډير ځله داخواهش کړی چې په سعودي کې ستاسو اوسيدل، دخليج هيوادونو کې ستاسو اوسيدل او په مدرسو کې تدريس کول او په پاکستان او ايران کې کښيناستل پدې باندې چې جومات کې لمونځ کوئ او ماشومانو ته تدريس کوئ او يا تاسو هلته د صحيح بخاري او ترمزي تدريس کوئ يا تاسو په مکه معظمه کې طوافونه کوئ په مدينه منوره کې دروضې خدمت کوئ حال دا چې قدرت د جنګ کولو لرئ او داخل کې مسلمانان په جهاد خو ځولی شئ د مسلمانانو په منځ کې اصلاحات کولای شئ، لمونځونه ورکولی شئ او مسلمانان په علم باندې روزلی شئ، ستاسو دا لمونځ اودس او دا هجرت او تدريس او طواف خدای پاك بالکل نه قبلوي او خطره داده چې خدای پاك مو منافقين کړي. الله دې موږ او تاسو وساتي،تاسو په قاعدينو کی يا د ښځو په خدمتګارانو کی يا د خپل ځان د حيات په ساتلو کی يا ستړی او د افغانستان مسلمان ملت مو په جهل کی پريښی دی.

دوی خپل علم د علم په ځای کې نه دی استعمال کړی. نو دائې بله منشا ده،نور علتونه هم شته چې د هغوی توضيحات ډير تفصيل غواړي او دلته پدې تفصيلاتو اکتفا کيږی.

ایا اسلام د تعدی په خاطر جهاد کوي

لیکونکی: مولوی عزیز خان

او که د دفاع په خاطر

الحمدالله الذی حبب الامن والمسالمة بین الشعوب الانسانیة وابغض القلق والعداوة بین الجماعات البشریة والصلوة والسلام علی من جاء بالحب والمواخاة وعلی اله وصحابته الذین استقروا الامن لجامعة البشر اللهم حبب الی قلوبنا الحب والاخوة والمواساة وکره الینا البغض والعدوان و بعد :

په تیرو شویو دوو پیړیو کې علماؤ ، قانون پوهانو کوښښونه وکړل چې باید داسې اصول او قوانین جوړ کړل شي چې دهغو په اساس یو دولت له بل دولته سره داسې علاقه او ارتباط ولري چې دروغې جوړې اوښوارېکو په اساس بانديې ثابت او ولاړوي،څو وکړای شي چې دولتونه یو له بل سره تعاون او د ټولو د منفعت سره سم تجارت ولري. د قانون علماً دا جائز نه ګڼي چې دارنګه تعلق صله او ارتباط له مینځه لاړشي. خود اضطرار او ضرورت په وخت کې چې انسانان حرب او جهاد ته مجبور کړای شي بیانو د متخاصمو دولتونو تعلقات ختم شي. اسلام څوارلس پیړۍ د مخه د همدغې صلحې امن او د مسالمت د درك او احساس په لحاظ کوشش کړیدی او دامن او سلام اساس او بنسټ یې د بشریت د ټولنې لپاره په پوره اهتمام او غور سره ایښی

او مسلمانانو ته هیڅکله اجازه نه ورکوي چې له نورو پرګنو سره پدې وجه او بنا باندې چې هغوی مسلمانان ندي او په بل دین باندې متدین او د باطلې عقیدې خاوندان دي جنګ ، ظلم او تیری وکړي. همدغه حقیقت په پوره ډول سره په لاندې آیت کې څرګند او ثابت دی : «لاینهاکم الله عن الذین لم یقاتلوکم فی الدین ولم یخرجوکم من دیارکم ان تبروهم وتقسطوا الیهم.» یعنی الله تعالی تاسو نه منع کوي له نیکۍ او انصاف کولو دهغو کسانو کفارو سره چې له تاسو سره یې جنګ نه وي کړی او له خپلو کورو څخه یې ایستلی نه یاست. الله تعالی بل ځای فرمائي: «فان اعتزلوکم فلم یقاتلوکم والقوا الیکم السلم فما جعل الله لکم علیهم سبیلا.» یعنی که چیرې کفار ستاسو څخه ګوښه او کنارشي او ستاسو سره مقابله او جنګ نه کوي او د مسالمې لاسونه تاسو ته وړاندې کړي بیانو تاسو ته جایز او رواندی چې همدغو کفارو سره جنګ او جهاد وکړئ ، لیکن په هغه صورت او شرط کې چې کفارو تاسو له خپلو کورو څخه ، ایستلی نه یاست او ستاسو اسلامي فرهنګ ته ئې ضربه نه وي ورکړی او ستاسو په مځکو او زیرمو مسلط او قابض نه وي ، نو اسلام تاسو

ته پر هغو باندې د تجاوز حق نه درکوي.
خلاصه دا چې اسلام په صلح سلامتيا امن باندې دومره مين دی چې خپلو پيروانو ته ئې ادب او تهذيب ورکړی چې په هر وخت او هرځای کې چې ملاقات سره کوي بايد چې پخپل منځ کې دامن شعار چې «السلام عليکم» دی يو بل ته و وايي او په پای کې په لمانځه کې چې معراج د مسلمانانو دی، په دوی واجب دی چې دسلامتيا او صلحې تعهد يو بل ته سره تحفه کړي چې هغه له «السلام عليکم ورحمة اللّٰه و برکاته» څخه عبارت دی، او په مليونونو مسلمانان په ورځ کې پنځه ځله همدغه سوغات يو بل ته سره وړاندې کوي. تاسو فکر وکړئ چې په بل دين کې همدغسې دامن سلامتيا مينه او محبت ليدل کيږي او که نه؟ ليدل خو څه کوي چې تصوريې هم نشي کيدلی.
د رسول الله صلی الله عليه وسلم د نبوت له مسئوليت څخه وروسته ديارلس کاله په مسلسله توگه بې له جهاد او قتال څخه د مکې معظمې خلکوته د توحيد او اسلام بلنه ورکړه، او د عربو د ظلم او جفا په مقابل کې يې د کظم الغيظ څخه کاروا‌خيست. او دده صحابه ملگری به ډير ځله زخميان او وهل شوي ورته راتلل او دا غوښتنه به يې ورڅخه کوله چې مونږ هم بايد په بالمثل انتقام باندې لاس پورې کړو. خو رسول الله صلی الله عليه وسلم به د خپلو ملگرو په ځواب کې توصيه کوله چې: «اصبروا لانی لم أومر بالقتال» يعنی صبر کوئ زه د خدای جل جلاله له طرفه په قتال نه يم مامور شوی. د اسلام ستر پيغمبر (صلی اللّٰه عليه وسلم) ترديارلسو کلونو پورې صبر او تحمل کاوه چې د مکې معظمې مشرکينو د پيغمبر صلی الله عليه وسلم د قتل دسيسه او پلان جوړکړ او کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم پرې خبر شو نو د هجرت اقدام يې وکړ او مدينې منورې ته ولاړ.
د مکې مشرکينو د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم په تللو او هجرت باندې هم اکتفاو نه کړه او رسول عليه السلام يې په مدينه کې هم قرار او آرام ژوند ته نه پريښود. د عربو نور د کفر او جهل خاوندان يې د هغه پر ضد راوپارول، څو د اسلام نور د خدای جل جلاله له ځمکې څخه ورك کړي. نو د همدې حکمت په اساس اللّٰه تعالی فرمايي:
«ولو لادفع اللّٰه الناس بعضهم ببعض لفسدت الارض»
خدای جل جلاله مسلمانانو ته امر کوي چې: «وقاتلوا فی سبيل اللّٰه الذين يقاتلونکم ولا تعتدوا ان اللّٰه لايحب المعتدين واقتلوهم حيث ثقفتموهم واخر جوهم من حيث اخر جوکم»
يعنی جهاد وکړئ په لاره د اللّٰه جل جلاله کې له هغو کسانو (کفارو) سره چې تاسو سره جنگ کوي او تجاوز مه کوئ اللّٰه تعالی تجاوزگران دوستان نه نيسي او مړه يې کړئ هر ځای کې چې پرې غالب شئ او کافران خارج کړئ له هغه ځای نه چې تاسی يې ورځنې خارج کړي ياستئ.
او اللّٰه تعالی بل ځای فرمايي: «و قاتلو هم حتی لاتکون فتنة ويکون الدين للّٰه» يعنې ای مسلمانانو کفار مړه کړئ چې فتنه او فساد د خدای جل جلاله له ځمکې نه ورك شي او دين (عبادت) خاص د اللّٰه تعالی لپاره وگرځي.
مطلب دادی که چيرې د پيغمبر او صحابه ؓ او تيرو شويو مسلمانانو غزواتو ته نظر واچول شي او داسلامي غزواتو تاريخ په غور سره مطالعه کړای شي نودا واقعيت به څرگند شي چې په هره غزا او جهاد کې

لومړی د کفارو له خوا تیری او تجاوز شوی دی او بیا وروسته پیغمبر صلی الله علیه وسلم او صحابه ؤ د دفاع په خاطر د جنګ میدان ته وردانګلي دی.

د مثال په توګه ویلی شو د «بدر» غزا چې په اسلام کې لومړنی غزاده د مشرکینو له خوا تیری او تجاوز وشو. حتی د مکې معظمې مشرکین د بدر مقام ته چې د مدینې منورې له مضافاتو څخه دی، ورغلل. پیغمبر صلی اللّٰه علیه وسلم او صحابه ؤ د تکبر او عدوان په اساس نه بلکې د دفاع او مجبورۍ په اساس د بدر په مقام له کفارو سره جنګ او جهاد شروع کړ. همدارنګه د «احد» غزا د مدینې منورې په ډیر نږدې محیط کې مینځ ته راغله او دغه ډول د احزاب (خندق) غزاهم د مدینې منورې په چاپیریال کې و شوه. او همداسې د پیغمبر صلی اللّٰه علیه وسلم نور غزوات او جهادونه.

هر کله او په هرځای کې چې کفار او د باطل دین خاوندان د اسلام او مسلمانانو په مقابل کې د جنګ او حرب اعلان وکړي، مسلمانان وژني او نور خلك د اللّٰه تعالی له لارې څخه بندوي او داقصد او اراده وکړي چې خپل ناپاك د ظلم، استعمار او کفر لاسونه د مسلمانانو په مقدسه خاوره قابض او مسلط کړي، نو د خدای جل جلاله له خوا په مسلمانانو باندې جهاد فرض او حتمي دی او امت مسلمه په دې مکلف اومسؤل دی چې داسلام ل. مقدساتو څخه دفاع او حمایت وکړي او د کرامت دینی نصرة الحق حریت انساني، تمامیت ارضي او د ظلم او استکبار د دفع لپاره خپل شیرین روح، سر او مال او ټوله هستي او پانګه د اللّٰه تعالی په لاره کې قرباني کړي. دا قرباني ددې لپاره نه ده چې مسلمانان د جهاد په وسیله د ځمکو، معدنیاتو او ذخایرو خاوندان شي او دوی د خدای جل جلاله مخلوق ذلیل خوار او د ځان غلامان وګر ځوي. بلکې په دې غرض به د جهاد میدان ته و ځي چې (لتکون کلمة الله هی العلیا او کلمة الذین کفروا سفلی وګر ځوي د خدای جل جلاله ځمکه له فساد څخه خلاصه کړي، د خدای جل جلاله مخلوق له ظلم څخه خلاص شي او د اسلام او مسلمانانو ناموس محفوظ او حریت او انساني کرامت په ځای پاتې شي. او د مسلمان ملت صفت هم دادی چې همیش به عزیز، کریم، قوی حاذق ثابت قدمه او د راسخې عقیدې خاوندوی. ضعف، خوف، جبن، ذلت، خوارې او غلامی به هیڅکله نه قبلوي (وللّٰه العزة ولرسوله وللمؤمنین) زموږ د اسلامی امت قایدین او رهبران چې صحابه سلف صالحین وو، هغوی ټول د قوی ایمان او راسخې عقیدې خاوندان، په اللّٰه توکل کوونکې او اعتصام یې په قرآن او احادیثو باندې ؤ. د عزت، شرف او شهرت سرونه یې په ټول جهان کې لوړ او پورته کړي وو او د الله تعالی په لار کی یې خپل سرونه، وینې او ارواح د الله تعالی سره د جنت او رضا په مقابل کې تبادله کړي وو. همدغه وجه ده چې د اسلام او ایمان ستر نعمت د همدوی د جهاد او عمل په برکت موږ ته رارسیدلی دی. هغوی خپل کورونه، مالونه او جائیدادونه د اللّٰه تعالی د رضا لپاره پریښی وو. (والذین امنوا و هاجروا و جاهدوا فی سبیل الله والذین اؤاو نصروا اولئك هم المنومنون حقالهم مغفرة ورزق کریم)

یعنی هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او په لار د الله تعالی کې یې هجرت کړی، بیا یې جهاد کړی، او هغه کسان چې مهاجرینو ته یې پناه ورکړې او بیا یې کومکو نه ورسره کړي، همدغه دواړه ډلې یقیني او حق مسلمانان او د ایمان خاوندان دي او د دوی لپاره د

الله تعالی له طرفه عفوه د گناهونو او رزق جید کریم دی.

په مسلمان ملت هر وخت او هرځای کی دا مهم فرض دی چې خپل ځانونه د عقیدې او عمل له لارې مستعد او چمتو کړي، خپل ټول قوتونه سره یو ځای کړي ډول ډول وسلې تهیه کړي او د یو بدن په څیر د دښمنانو په مقابل کې په یو صف کې ودریږي.

واعدوالهم ما استطعتم من قوة ومن رباط الخیل ترهبون به عدوالله وعدوکم واخرین من دونهم)

یعنې برابر تهیه کړئ هغه شی چې ستاسو په توان کې وی چې عبارت دی له قوه ساتنه داسانو چی پرې و ډار کړئ دښمنان د اللّٰه تعالی او ستاسو دښمنان او هم نور کفار.

قوت هر هغه شي ته وایي چی مسلمان ملت له دښمنانو سره په جنگ باندې قادر کوي لکه جنگي قلاگانی، وسلې، نظامي تعلیم، چې که چیرې فني اوحربی ځوانان تربیه شي نو د مسلمانانو ژوند به تأمین، ناموس به یې محفوظ او ځمکه او ذخایر به یې ورته خوندی پاتې شي. او په اوسني عصر کې همدغې ته د تورې صلح او جوړه وایي.

او اللّٰه تعالی د جهاد د ترك بداونا وړه عواقب امت مسلمه ته په لاندې آیاتونو کې همدغسې وړاندې کوی:

«یاایها الذین امنوا مالکم اذا قیل لکم انفروا فی سبیل اللّٰه اثاقلتم الی الارض ارضیتم بالحیوة الدنیا من الاخرة فما متاع الحیوة الدنیا فی الاخرة الاقلیل الآتنفروا یعذبکم عذاباًالیماً ویستبدل قوماً غیر کم ولاتضروه شیأ واللّٰه علی کل شئ قدیر»

یعنی ای مسلمانانو! څه وجه ده هغه وخت چې وویل شي تاسو ته چې خارج شئ په لار د اللّٰه تعالی کې بیا تاسو درانه شئ ځمکې ته، ایا راضي یاستئ په ژوند د دنیا په مقابل د ژوند د آخرت کې او نه دی ژوند د دنیا په مقابل د ژوند د آخرت کې،مگر کم شی، که چیرې د اللّٰه تعالی په لار کې د دښمن د مقابلې لپاره ونه وځئ اللّٰه تعالی به تاسو ته سخت عذاب درکړي او تاسو به د ځمکې له مخ څخه ورك کړي او په بدل کې به مونور قومونه راوړي او خدای پاك ته به هیڅ ضررونه رسوئ.

له همدغو آیتونو څخه معلومه شوه هر مسلمان قوم چې جهاد ترك کړي خدای (جل جلاله) په هغوی باندې خواری او ذلت مسلط کړي، له خپل وطن نه فرار او حکومت به یې بل چاته منتقل شي. چې دا حقیقت په موجوده پیړۍ او تیرو پیړیو کې ډیر ځله تکرار شوی دی. پیغمبر صلی اللّٰه علیه وسلم فرمایی: (اذاتبا یعتم بالعینة واخذتم باذناب البقر ورضیتم بالزرع و ترکتم الجهاد سلط اللّٰه علیکم ذلالاینزعه حتی ترجعوا الی دینکم) یعنی چې په بیعه او عینة مبتلاشی او د غوایانو لکی مو ونیولې او په کښت راضي شئ او جهاد ترك کړئ اللّٰه تعالی به تاسو باندې ذلت او خواري مسلط کړي. خواری اوذلت به له تاسو ورك نکړي ترڅو چې بیرته دین ته رجوع ونکړئ.

پیغمبر اسلام فرمایې: (ما ترك قوم الجهاد الاعمهم اللّٰه بالعذاب) یعنې هیڅ قوم جهاد نه دی پریښی،مگر خدای پاك عام عذاب پرې راولې.

بل ځای فرمایی: (من مات ولم یغزولم یحدث به نفسه مات علی شعبة من النفاق) یعنې څوك چی مړشی او غزا ونکړي او د غزا په فکر هم نه وي همدغه نفر مړ شو په یوه نوعه د نفاق.

په آخر کې خپله لیکنه په دې دعاختموم چی: (ربنا افرغ علینا صبراوثبت اقدامنا وانصرنا علی القوم الکافرین.)

په خوست کښې د جهاد د روانو عملیاتو لنډه

راپورتاژ

دخوست دلومړنۍ کرښې دسنګرونو یوه لنډه کتنه

زمونږ د خلکو لپاره دجهاد دا وختونه لوړ اهمیت لري . دا د خدای په لاره کی زمونږ دقربانۍ د احساس او د اسلام سره زمونږ دمینې د امتحان وختونه دي . په دی امتحان کی ډیره لویه کامیابی د الله جل جلاله په لاره کې قربانۍ ته حاضریدل دي . د دغو لوړ و اصولو په استناد د افغانستان مسلمان خلك د تیرویو ولسوکالو را هیسې د اسلام د مقدس دین په حکم د اسلام او اسلامی شعایرو د حفاظت لپاره په جهاد بوخت دي . زمونږ مسلمان خلك د هیواد په هر ځای او هره سیمه کې د ملحدینو د وحشت او تجاوز څخه دهیواد د نجات په منظور جهاد کوی . د جهاد مینه او جهادی عمل مونږ ته د نصرت زیری او زمونږ ګران هیواد کې داسلام د حاکمیت د روښانو وختونو دراتلو استازی دی .

زمونږ خلکو د دې یوولسو کالو په اوږدوکې روسی ملحدینو او ملحدونو کرانو ته دا واقعیت وښود چې دنړۍ هیڅ قوت داتوان نه لري چی اسلام مغلوب کړي. مونږ د مقدس جهاد په قوت د روس متجاوز و ملحدینو ته ماتی ورکړ او دهغوی دوحشي نوکرانو جنایات موزوال ته نژ دې کړل.

په دغه مرحله کی چې زمونږ دټولو خلکو اساسی مشغلت جهاد دی لوستونکو ته دغوره او مکملو معلوماتو د برابرولو په مقصد د خوست جهادی سنګرونو ته په یو لنډ سفر بریالی شوم دا دجهاد د ډیرې وړاندې کرښې هغی برخی ته یو سفر وچی هلته د اسلام مینان توریالی د خپل ستر قائد الحاج مولانا حقانی تر قوماندی لاندې د دښمن د صفونو په ماتولو بوخت وو . دلته په دی عملیاتو کی دټولو جهادی تنظیمونو مجاهدینو او لویو قوماندانانو برخه درلوده او د مختلفو سنګرونو نه د واحد هدف لپاره یو د بل ملاتړ او داسلام د کامیابۍ په مقصد په جهادي عملیاتو بوخت وو . نیټه د محرم الحرام د میاشتی

درویشتمه وه چی د خوست دبړی دسیمې یوې حاکمی ځوکی ته د عابد او مجاهد مشر حقاني صاحب سره ورسیدم. د جهاد دغه ستر قوماندان له دې ځای څخه په داسې حال کی چی یولاس کی یی دمخابرې وړه دستګاه وه بل لاس کی یی دوربین اوپر اوږه یی یوه در نه وسله اوملاوستنی یی دګولیو له کڅوړونه ډك و داسلام د دین ننګیالیو مجاهدینو ته دسوقیانو او جهادي فعالیتونو لارښوونه کوله. د دې عملیاتو له یو بل سنګرنه د یو بل مجاهد مشر مولانا نظام الدین حقانی آواز د قائد غوږوته رساوه . دغه دیني عالم او د خدای د لارې مجاهد د جهاد په ټولو اوږدو کې د ستر قوماندان مولانا جلال الدین حقاني د جهاد او نورو اسلامي خدمتونو په سنګرونو کی همکارپاتی شوی . په هغو شیبوکی مولانا نظام الدین حقاني هم د مجاهدینو دلارښوونې او د عملیاتو د څارنی لپاره د مجاهدو سربازانو سره د جنګ میدان کې ؤ . هلته له ټولو سنګرونو نه د جهاد قائد ته د برې دلحظې دنږ دیوالی زیری ورکول کیدل او اتل مجاهدین د خپلو قائدینو په پرله پسې قوماندو مخ په وړاندې روان وو . که څه هم د جنګ پرټولې ساحې باندی د روسانو دسکږ دټوغندیو او د ډیرو مخربو الوتکو د بمونو او رونه خوریدل او ورسره جوخت د توپونو ګولۍ وریدلې، خو مجاهدین د هدف لورې ته په ډیر شوق او مینه روان وو .

د مجاهدینو دلومړنۍ کربنې ټانکونه چې ډیر پخوا د الحاج مولانا حقاني د جهادي سنګر ونو مجاهدینو له ملحد دښمن څخه په غنیمت نیولی وو د دغه مجاهد مشر تر عمومي قوماندې لاندې د جهادي قطعاتو دقهرمانو قوماندانانو مجاهد محمد اسمعیل، مجاهد خلیل الرحمن او مجاهد سخي جان سره دتڼیود ولسوالۍ دملنګ اودرګی غنډونو لورې ته په بیړه روان وو . هغه متدین قهرمانان چې پرلومړني فاتح ټانك باندې دقوماندان محمد اسمعیل سره سپاره د درګۍ عسکري غنډ ته ننوتل، سلطان ، امین ، دستګیر ، ګل رحمان او نور محمد وو . د بل زړور



ستر مجاهد الحاج مولانا جلال الدین حقانی د جهاد سنګر ته د تللو په لار

قوماندان خلیل الرحمن المجاهد تر قوماندې لاندې ټانك هم د اسلام د سنگر د دغه اتل سنگروال سره چې ورسره عمرا خان ، گل محمد ، ظفر ، شیر آغا او راکټ ویشتونکی میړنی اتل الحاج عبدالقادر سواره وو هغه عسکری غنړته د تکبیر په نارو ننوتل . د دې مؤمنو میړنو د قوت شاته د مجاهد اتل شیرین جمال او نورو قوماندانانو جهادی یو نټو نه مخ په وړاندی روان وو . ددی کامیابۍ په څارنه کی یوتوریالی ژنکی چی نوم یی گل رحمان و او لکه چی ذکر شود لومړنی فاتح ټانك له جنگیا لیو څخه و دلیکوال نظر جلب کړ . ددې هلك عمر ډیر خام او تازه شپاړس کلنۍ ته رسیدلی وخود کفر او الحاد په مقابل کی دجهاد عزم یی ډیر پوخ و . د ده

زړور قوماندان الحاج خلیل الرحمن المجاهد

جهادي مینه ، میړانه او راسخه اسلامی عقیده او ټینګ ایمان د تمجید وړدی او همدغو عالي صفتونو ده ته هم د نورو څنګ کی د درگۍ دفتحی د قهرمانی و یاړ په برخه کړی و .

نومیالی قوماندان محمد اسمعیل

د اسلام دښمنانو د خپلو ټولو هوایی او ځمکنی مخربو وسایلو او وسلو سره هڅه کوله چی د مجاهدینو دوړاندې تګ مخه ونیسي . دتوپونو گولی ، د الوتکو بمونه او دسکړ توغندې به پر ځمکې او کورونو باندې دلگیدلو سره داسې نمرودې او رونه خواره کړل چې لمبې یې لیرې لیرې ځایونو کې په ښه څرګند ډول ښکاریدلې . د دې تباکونکو اورونو تورولو خړو به وار په وار د مجاهدینو له نظره دیرغل روښانه لاره پټه کړه خو هغه تکل چی د خدای په حکم پیل کیږی له مخکې تګ نه په هیڅ ډول بمونو نه تم کیږي . دکمونستو وحشیانو د وحشت

هغه لوخړې به د مجاهدینو د ایمان د نور په توان تس
نس شولې او د حق دسنگر هغه توریالی به غلیم ته داسلام
د قوت څرگندولوکې د تکبیر په نارو د جالو تیانو د پناه
ځایونو لوري ته تلل .

میړنی قوماندان شرین جمال

دهغو میړنو ځوانانو لومړۍ ډلې د روښان سهار
په اوو بجو د جهادی ټولگیونه مخکې د ملنګ غنډ ته
ننوتلې او د روسانو د ملحدونو کرانو هغه تپه تیاره نظامی
مرکز یې د کامیابۍ د روښان سهار په پلوشو روښان کړ .
دکمونستانو د ملحد رژیم په دې عسکري قرار گاه کې هغه
پلورل شوي اجیران چې د روس د الحادی او امپر یالستی
اهدافو لپاره تر ورروستۍ شیبۍ پوری جنگیدل دبې دینۍ په
حالت کې دخپلو روسی بادارانو غوندې دابد لپاره جهنم ته
لاړل .

مجاهدینو د دې روسي نوکرانو ډیرلوی شمیر چې
اکثریت یې اجیر ملیشه او کمونست افسران هم پکی وو
ژوندي ونیول . د دې بری په شیبوکې د زړورو مجاهدینو
ژبو کې د تکبیر ناری او د „ژوندی دې وی اسلام„ شعارونه
وو . په دې کامیابۍ باندې هغه قرارگاه د اسلام او
اسلامی عقیدې په حفاظتی مورچل او دحق په سنگر بدله
شوه او مجاهدینو د دې غنډ ټولې درنې او سپکې وسلې ،
ټوپکونه ، تومانچې ، توپونه درانه جنگې وسایط اوثقیلې
وسلې د غنیمت په ډول ترلاسه کړلې . او دا ځائ د
مجاهدینو سنگر شو .

له دې ځای څخه هغوی د بل وړاندې هدف درگی
لوري ته وخوځیدل . د ځمخکې تګ دکمونستانو د عسکری
فرقی د اجیرانو زړوکې یوه لویه ویره وغورځوله او د دې
ویرې سره یې د مجاهدینو پرمر چلونو د توپونو دگولیو
او دالوتکو دبمونو وروال زیات کړل . خو د حق د سنگر



تکړه قوماندان سخی جان

اتلانو د درگی دغنړ دفتحې عملیات د هماغه سهار په نهو بجو بشپړ کړ او لومړنی پلې دټانکو سره لکه چې مخکې وویل شو درگی غنړ ته ننوتلې . درگی په ستراتیژیکې لحاظ مجاهدینو ته ډیرلوی اهمیت لري ځکه چې ددې عسکری غنړ په نیولو د مجاهدینو تګ راتګ نادر شاه کوټ ، ځدرانو . زرمل او نورو لیرې سیموته ډیر آسانیږی . خو په هغه ځل روسې نوکران دیونا آشنا تاکتیك په کومك په

ترددنه دی شودلی ,نو ځکه د منبع الجهاد د لوستونکو د خبرتیا لپاره می ترې داهې معلومات وغوښتل :

پوښتنه :

محترم حقانی صاحب! د محرم د میاشتې په شلمه نیټه ستاسو ترقیادت او مشری لاندې پردرگی غنړ ، درگی ولسوالي او ملنګ باندې یوه کامیابه حمله وشوه که مهربانې وکړی

بیا وری مجاهد مشرالحاج مولانا جلال الدین حقانی دجهاد په سنگرکی

دی بریالې شوي ووچې هغه سنګر د مجاهدینو له لاسه بیاهم د شپږو ورځو لپاره وباسی دې مرکز ته د روسې اجیرانو راتګ داتلوسه را پیدا کړه چې ددې عملیاتو له مدبر قائد حقانی صاحب څخه اسره وکړم څو د مجلې لوستونکو ته هغوی پخپله هم څه معلومات په دې برخه کی راکړې هغوی دداسی معلوماتو په وړاندې کولوکې هیڅکله

دهغو عملیاتو په باب مونږ ته څه معلومات راکړئ ؟

ځواب :

(بسم الله الرحمن الرحیم)نحمده ونصلی علی رسوله الکریم : دا حقیقت دی چې څو ورځې مخکې مجاهدینو د نادر شاه کوټ دازادولو او د درگی او ځاځې میدان دلارو

د بندولو فیصله کړی وه . الله تعالی مجاهدین د نادر شاه کوټ په نیولو کامیاب کړاو نادر شاه کوټ او دوه مندو اول مجاهدینو ته تسلیم شول هلته ډیر زیات غنیمتونه مجاهدینو ته لاس ته ورغلل او ډیره لویه منطقه الله تعالی دکمونستانو له تسلط نه خلاصه کړه ورروسته بیا پر عملیاتو باندې د بیا غور لپاره دویمه شوراو شوه چې د درګی دنیولو لپاره هڅه وشی او دخاځی میدان دلارې قطع کولو ته مجاهدین بیرته خپل عملیات تجدید کړی.

نو دا واقعیت دی چې دهغې شورا دفیصلې په نتیجه کې مجاهدینو په دغه نیټه باندې چې تاسو ذکر کړ دلته لوبه قربانې ورکړه او په درګی باندې یې حمله وکړه . د حملی دتاکتیك دا طریقه وه چې د مختلفو تنظیمونو تقریبا دوه نیم سوه تنه د غرب له طرفه ددوو ټانکونو سره چې دهغو لپاره هدف یو د موسی خان کوټکې پوسته وه چی هلته ددښمن مدافع ټانکونه وو اویو دوالیم دپوستې قرارګاه او یوه د سید کې پوسته او ورسره نورې وړې پوستی وی د خوست نه درګی ته یوه مواصلاتی لاره وه چې دهغې لارې نه د دی پوستو اکمالات کیدل ددوی هدف داو چې په عین حال کې به لاره نیسی او هغه عسکر چی د درګی یانوروپوستونه دخوست لوری ته وتښتی دوی به هغوی محاصره کوی او هغه درې څلور پوستې چی د درګی دحمایی لپاره پرتې وې هغه به دوی له منځه وړی .

همدا رنګه تصمیم وچې د شرق له لورې نه دوه سوه یا دوه نیم سوه کسان د دوو ټانکونو سره په ګډه حمله وکړې او دا فیصله وشوه چې په درګی باندی عملیات وشې . په درګی کې درې ځایونو کی عسکری قوا وه یوه قوه په ولسوالی کې بله دغنډ په قرارګاه کی او دریمه دتوپچې قواوه.له دی قوا ونه سر بیره د درګی په کلی کی





څيني نوري مدافعوي پوستې هم موجودې وې . دښمن د
مجاهدينو ددې پروګرام نه په پوره ډول اطلاع ترلاسه کړې
وه . دهغوی د اطلاع لرلووجه د اوه چی دا پروګرام د
ډيرو خلکو منځ کې طرح اوتثبيت شوې ؤ او دپروګرام د
تړلو او عملې کولو په منځ کی څوشپې هم وتلې وې .

زه په دې طريقې خپه وم زما فکر داوچې ياخو د
پروګرام د تثبيت او تړلو سره سم له لاسه حمله شوې وای
او يا پروګرام او د عملياتو دتاکتيك اؤ د شروع معلومات
د خاصو خلکو منځ کې وای او دعامو خلکو منځ کی
داسې آوازه وای چې دښمن له اصلي هدف نه غافل وای په
هر حال بيا مونږ داسې وکړل چې کو مونقطو کې چی دښمن
د مجاهدينو دتعرض فکر کاوه او هغو خو اوته متوجه وو
او هغو ځايونو کې يی دا کمالاتو بندوبست کړی و او د
ټانکونو د مدافعې لپاره يې تياری نيولی و اولاره يی بنده
کړې وه مونږ هغه مشهوره او معروفه لاره پريښودله اؤ د
ډيری نا آشنا او ډيرې بعيدې لارې نه ټانکو نه راوستل او
دښمن باندې موږد شالورې نه دهغوی دغفلت په حالت
کې حمله وکړه . هغوی هيڅکله داسې فکرنه کاوه چې مونږ
به دهغې لارې نه پرهغوی حمله وکړو نو په هغو عملياتو
کی الله جل جلاله نصرت وکړ او په درګی کې د دښمن
تقريبًا ټول پرسونل له منځه لاړ يوازې دوه ټانکونه يی له
درګی نه وتښتيدل . که څه هم په اصل کې درې ټانکو نه
ووخويو يی مجاهدينو وويشت او دوه نوريې په تښتيدلو
موفق شول او نور د درګی ټولې ثقيلې وسلې د مجاهدينو
لاس ته راغلې او له شپيتو تنو نه زيات عسکر او صاحب
منصبان اسير شول او تقريبًا داتياو تنو خو او شاکې چی
نه تسيلميدل د جنګ په جريان کې په ټانکونو او راکټونو
او نورو خفيفو وسلو باندې له منځه لاړل او تقريبًا دپنځو

سوو او شپیتو تنو په خوا او شا کې یې چې دوالیوم کټکې پوستې او قرار ګاه خوا ته چې ورته لنډو وتښتیدل.

نو په درګې باندې د شرق لورې نه د مجاهدینو عملیات کاملاً کامیاب شول دملنګ له غنډنه خلك د مجاهدینو د قواو له رسیدلو سره سم چې هغوی د شرق خواته متوجه وو د مجاهدینو د عملیاتو او ضربو په ګرد

چې وویل چې دا عملیات بالکل افشاوونو هلته دښمن دوې ته متوجه واوددوی یو ټانك د دښمن له طرفه ولګیده او دهغه په لګیدلو له مجاهدینو نه یو شمیر زخمیان اویو شمیر شهیدان شول . دا ټول زخمیان او شهیدان د شرقې لورې حمله کې هم وشول د شرقې محاذ په حمله کې لس کسه شهیدان او تقریبا ددیرشو کسانو په حدودو کې

او غبار کې وتښتیدل او خپل ځایو نه یې خوشې کړل چې مجاهدینو ونیول او هلته مجاهدینو یو ټانك او نورې خفیفې وسلې د غنیمت په ټول لاس ته راوړلې . نو دا چې وروسته بیا دښمن بیرته درګې ته راغی دهغوی راتګ دکوم زور او قوت په استعمال او د مجاهدینو د تعجیز په اساس نه وُ بلکې هلته دوه مشکله پیښ شو؛یو دا چې غربې محاذ د تعرض په وخت کې مشهورې لارې له خوا چې دښمن ورته متوجه اوځیرو حمله وکړه او لکه مخکې مې

زخمیان شول خو د غربې محاذ له لورې نه څه شهیدان او زخمیان شول او یو ټانك یې وران شو او بل ټانك کې یې ګولۍ ونښته اوله کاره ولویده نو دهغه لورې مجاهدینو په عملیاتو کې د لارې په بندولو او دپوستو په وهلوکې هیڅ اقدام ونه کړ او هغسې عملیات چې لاره یې باید د ټانکونو په واسطه له ما ینونو نه پاکه کړې وای او پوستې یې له اور لاندې نیولې او تعجیز کړې یې وای او په مجاهدینو باندې دهغوی دانداختونو مخه یې نیولې وای

ممکن نه شو او مجاهدین په رڼا وخت کی ووتل حال دا
چې هغه منطقه بالکل ښکاره او مکشوفه منطقه وه او د
مجاهدینو د پټیدلو ځای نه وُنو له هغه کبله مجاهدینو یو
ډول په شا تګ وکړ او هغه درې پوستی اولاره چې
مجاهدینو غوښتل چې باید تر اور لاندې ونیول شي د رژیم
کنترول لاندې پاتې شول او د درګی حمایت له هغو ځایو
نو څخه پخپل حال پاتې شو اوله درګی نه هم یو څه
قوتونه هغو ځایونو ته تلی وو او بیا کوم مخکینې
مجاهدین چې دورځې په جنګ کې ستومانه شوي وو
اوورنه زخمیان او شهیدان هم شوي وو هغوی له هغه ځای
نه کوم غنیمت چی وو نقل کړ او هغوی ته ما امر کړی وُ
چی له هغه ځایه څخه ټانکو نه د کلی نه یو څنګ ته
وباسی ځکه چی هلته ټانکونه د بمباریو او سکو په ذریعه
تخریبیدل نوامرمې ورته وکړ چی ټانکونه چیرته پناځای ته
یوسئ او هلته یې عوارض ونیسئ او بیرته یې اکمال کړئ
او چیرته کوم پنا ځای ګې یې عملیاتو ته حاضر کړئ
دهغه ځای نه مو مخکینې مجاهدین وایستل او دهغو په
ځای مونوې مجاهدین ولیږل نو هغو نورو مجاهدینو مونږ
ته خبر راکړ چې مونږ د درګی د منطقې د مدافعې
ترتیبات نیولې او حال دا چې هغوی هلته د درګی منځ ته
نه وو داخل شوې او په یو څنګ کې یوه منطقه کې ناست
وو او دشپې په وخت کې دوی د درګی حالت تر کنترول
لاندې نه شونیولای او دښمن ته داسی پته لګیدلې وه چې
د درګی د منطقې داخل کې مجاهدین بالکل نشته او هغوی
د منطقې نه خارج ځایونو کې دې چې مونږ نه شی لیدای
نو دښمن هلته بی له جنګه مداخله وکړه او زاړه ځای ته

یی ځان ورسا وه چی په هغه باب مونږ یقین لرو چې
دښمن ضعیف دی او حتی په هغه وخت کی یی چی ډیری
پخې مورچې جوړی وې او ډیر ماینونه یې وو او ډیر قوي
پرسونل یی لاره او دلسویو ولسو کالو زاړه یاران یې پکې
وو او توپچیان او ټانکو نه وو او شلکی او زیکو ـ ١
یی وو او د ټانکونو په مقابل کې یې توپونه او راکټ
ویشتونکې وسلې یې وې هغه ټول خدای له منځه یوړل دوی
یی مدافعه ونه کړای شوّنو اوس په نوې پرسونل سره او په
نوی مدافعوي خط او طریقې سره انشاء الله دوی به هیڅ
ونه کړای شې او د ملنګ غنډ چې ځای یې ستراتیژ یکی
اهمیت لری او د درگی د کنترول لپاره مهم ځای دی
دمجاهدینو لاس کې پاتې دی .

او د درگی په منطقه کې او د درگی نه لاندې کلي
کوټکی او پوستی وې چی هر یو یې دیوې پوستې معنا لرله
او خلك یی د ملحد حکومت له طرفه په سلاح ګانو
مجهزوو او تنخواګانی یې خوړی خو کله چی د حکومت
فشار پرې راغی له کورنیو سره یا د تهیو لوري ته او یاد
خوست لورې ته وتښتیدل او دا منطقه له هغوی نه هم په
اکثر ډول خلاصه شوه نو د خدای نه غواړو چې انشاء الله
العزیز د غربې محاذ په فعالولو سره او د مجاهدینو په
تنظیمو لو سره خدای پاك دا عملیات اخري نتیجې ته
ورسوی .

نومیالی مجاهد الحاج مولانا جلال الدین حقانی له مجاهدینو سره یوځای د جهاد په سنګرکې

پوښتنه:

محترم حقاني صاحب ، تاسوو فرمایل چې د ځاځي میدان لوري کی هم جنګ روان ؤ که مهرباني وکړئ د «منبع الجهاد» مجلې لوستونکو ته دهغه لوري د جنګ په باب هم یو معلومات راکړئ او همدا رنګه ـ مونږ اوریدلي چې مجاهدینو د تیری خواکې چې د کابل او گردیز تر منځ لاره کې ده ستاسو ترقیادت لاندې مجاهدینو یوه کامیابه حمله وکړه او ځینې پوستې یې له منځه یوړلې که په دې باره کې هم مونږ ته لږ څه معلومات راکړئ ؟

ځواب : د ځاځی میدان د لارې د قطع کولو لپاره چې مجاهدینو تصمیم نیولی ؤ دهغه سره سم په خلبیساتو باندې حمله وکړه په هغه حمله کی یې نری توری کې درې پوستې چې دلاری د قطع کولو لپاره ډیرې مهمې دي مجاهدینو ونیولې یوه پوسته هلته پاتې شوې ده او هغه باندې هم جنګ روان دی،خدای ته امید کوم چې هغه پوسته زر تر زره سقوط وکړي . کله چی هغه پوسته سقوط وکړي بیانو دځاځې میدان مواصلاتی لار چې د خوست داکمالاتو لپاره دښمن ته ډیر اهمیت لري په کامله توګه به قطع شي او دخوست او دکوبیو ارتباطات به د ځاځې میدان سره او ځاځې میدان ته د نظامی یا تخریبې موادو درسولو لاره به کاملاً قطع شي،نو امید دی خدای ته چې په لنډ وخت کی مونږ په دې باندې موفق شو چی دالاره په کامل ډول زمونږ تصرف کی شي .

دویم د تیری طرف کی په عین وخت باندی عملیات شروع شو څو چی په دښمن باندې په یو وخت کې او د یو

پروگرام لاندې عمليات وشي . څرنگه چې په خوست کی په څلورو ځايونو کی عمليات وو او يو عمليات په گرديز کې هم وُچی تيره يوه جگه ستراتيژيکه منطقه ده او په هغه کې پوسته وه او هلته د سړك دبندولو لپاره د مجاهدينو عمليات دهغې پوستې له وجهې نه ممکن نه وونو مجاهدينو په هغې پوستې باندې حمله وکړه او پوسته يې کامله ونيوله چې اوس هم د مجاهدينو لاس کې ده او د دښمن دپرسونل يو شمير ووژل شول او يو شمير يې ژوندي ونيول شول او څه يې وتښتيدل او د پوستې اسلحه او مهمات د مجاهدينو لاس ته راغلل .

دا پوښتنی له مدبر قائد نه هغه وخت کې شوې وې چې مجاهدين د دغه عابد مشر ترقوماندې لاندې د جهاد په کلکو سنگرونو کې د ملحد رژيم دالحادي پلان په ماتولو بوخت وو په دې مرکه هغه مونږ ته او د منبع الجهاد مجلې په واسطه زمونږ دهيواد نورو مسلمانو خلکوته ډاډراکړ چې مجاهدينو ته به د خدای په نصرت په هغه برخه کې ډيرې لويې فتحې ور په برخه شی . دا وعده يې د الله جل جلاله په نصرت ترسره شوه او ددرگی د فتحې او ورسره د نورو زيا‌تو پوستو د فتحې زيری راکړشو . د محرم د مياشتی په اووه ويشتمه نيټه ددويمې مرحلې عمليات دټولو سنگرونو د مجاهدينو له خوا پيل او د پرله پسی بريو سبب شو .

د جهاد د سنگرونو خبرونه

په دغو تاریخی شیبوکی چی د حق د لاری ننگیالو دهیواد په ټولو سیمو کی د اسلام د دایمی بری لپاره جهادی عملیاتو ته سرعت بخښلی زمونږ د مسلمانو خلکو مقدس جهاد په خوست کی او دپکتیا ځینو نوروسیموکی د ستر قائد الحاج مولانا جلال الدین حقانی تر لار ښونی لاندې دلوړو بریو مرحلی ته رسیدلی د دی بریو واقعیتونه مونږ ته یقین را بخښی چی د اسلام د دایمی بری شپی لیری نه بلکی هغه وخت ډیر نژدی دی چی کفر او الحاد د افغانستان له اسلامی خاوری نه د تل لپاره محوه شی .

د دی لپاره چی د منبع الجهاد لوستونکی د خوست د ورستیو جریاناتو نه خبر شی مونږ هغه ټول جریان دنیټی د ترتیب سره سم محترمو لوستونکو ته وړاندی کوو :

نادر شاکوټ له ملحدینو نه نجات وموند

په هغو عملیاتو کې چی د ١٤٠٩ ه ق د ذوالحجی د میاشتې په لسمه نیټه د نادر شاه کوټ د فتح کولو لپاره د مجاهدینو له خوا تر سره شول او په هغو کسې د الحاج مولانا حقانی تر قیادت لاندې مجاهدینو ستره ونډه درلوده د نادر شاکوټ غنډ ، د دوه منډې پوسته او دخوست د لویې ولسوالې درې لویی پوستی(سری ـ شډل ـ گل محمد) او په تورغر کې د دښمن پوستی فتح شوې او دغه بریالیتوبو نه مجاهدینو لاس ته راوړی دی :

١ـ د دښمن له قواو څخه(٨٠) تنه ژوندي نیول شوي دي چی (٣٠) تنه صاحب منصبان دی .

٢ـ (٢٠) تنه کمونستان وژل شوي دي .

٣ـ (٥) عرادې زغروال ټانکو نه په غنیمت نیول شوي دي .

٤ـ (٥٠٠) میل کلاشینکوف

٥ـ یو پا یه ١٢٢ ملی متری توپ

٦ـ (٧) پایی د ٧٦ صحرا توپونه

٧ـ (٥٥) میل تومانچې

٨ـ (٤٥) میله دگرینوف ماشینگنې

٩ـ (٧) میله د څلور میلو لرونکې دهوا دافع

١٠ـ (٢) میله زیگویك

١١ـ یوه عراده موټر له یومیل شلکا سره

۱۲ـ (۱٦) پایی وړې مخابرې

۱۳ـ یوه پایه لویه مخابره له یو عراده جیب سره

۱٤ـ (٦) عرادی لوی تاترا موټرونه .

۱۵ـ (۳) عرادی جیب موټرونه

۱٦ـ (۳) داوبو ټانکر موټرونه

۱۷ـ (۵۰۰۰۰) دانې دګرینوف مرمۍ

۱۸ـ (۳۵۰۰) صندوقه د کلاشینکوف مرمۍ

۱۹ـ (۵) پایې دابوس تو پو نه له پنځو عرادو موټرونو سره .

۲۰ـ (۳) عرادی ټانك وړونکې موټرونه

۲۱ـ (۱۵) پایې وسط هاوان

۲۲ـ (۳۰۰۰) د پرسونل ضد بمونه

۲۳ـ څلور عرادې موټر چې د ټانك له مرمیونه ډك وو .

۲٤ـ اوو عرادې تخریب شوي موټرونه

۲۵ـ دوه د تیلو ذخیرې

۲٦ـ (۳) عرادې موټر سایکلونه

۲۷ـ (۳۵) سیټه رادیوګانې

۲۸ـ (۲) سیټه تلویزیونونه

۲۹ـ (۲۵۰۰۰۰۰) دوه میلونه او پنځه سوه زره افغانی .

۳۰ـ (۱۰) عرادې پرسونل وړونکی موټرونه .

پدی مهم بری کې د ضروری اړتیاوړ موادولویې ذخیرې هم د مجاهدینو لاس ته ورغلی دی .



د دښمن د قوا څخه نیول شوی افراد

پکتیا

د پکتیا له ولایت څخه په رارسیدلی خبر کی ویل شوی دی چی د ۱٤۱۰ کال د محرم الحرام په لمړی نیټه د پکتیا او پکتیکا د ولایتونوقوماندانانو غونډه وکړه .

په خبر کی زیاته شوی ده په دغه غونډه کی چی په میرانشاه کی وشوه ، پریکړه وشوه چی دخوست په لویه ولسوالی باندی دپراخی حملی لپاره باید واحده قومانده مینځ ته راشی .

د پکتیا له ولایت څخه په رارسیدلو خبرونو کې ویل شوي دي چې د اسلام دلارې میړنیو مجاهدینو د ۱٤۱۰ کال د محرم الحرام دمیاشتې په څلورمه نیټه دخوست دلویی ولسوالی په هوائی ډگر عملیات و کړل چی دهغی په نتیجه کی د دښمن یوه الوتکه له منځه یوړل شوه .

په خبر کې زیاته شوې ده چی په دغو عملیاتو کی د مزدور رژیم (۲۰) تنه عسکر د یو صاحب منصب په شمول ووژل شول .

د محرم الحرام په لسمه نیټه مجاهدینو دخوست پرپوځې او کمونستی تأسیساتو حمله وکړه او دښمن ته یې ډیر درانه تلفات ورسول په دې حملو کی د دښمن یو زیات شمیر کمونست منسوبین ووژل شول .

مجاهدینو د محرم الحرام په (۲۲) نیټه د سهار په پنځو بجو د درگی او ملنگ دغنډونو دنیولو لپاره عملیات پیل کړل چی د همدی ورځی د سهار په (۷) بجو لومړی د ملنگ غنډ فتح شو او ورپسی د (۹) بجو په

شا وخوا کی د درگی غند او ولسوالی هم د مجاهدینو په لاس فتحه شو .

د محرم الحرام د میاشتی په (۲۸) نیټه مجاهدینو د خوست جنوب غرب خواته د درگی په ولسوالی کی د رگی په غنډ او توپچی قرارگاه باندی او د موسی خان او(سیدکی) په امنیتی پوستو او د(سیدکی) په قرار گاه باندی عملیات پیل کړل . پدغو عملیاتو کی د دښمن ځایونه دتو پونو دگولیو تر اورونو لاندی ونیول شول او دشپی تر دری نیمو بجو پوری د دښمن ټولی امنیتی پوستی او قرار گاوی د مجاهدینو له خوافتحه شوی . خبر زیاتوی چی مجاهدینو پنځه سترتو پونه ځلور زرهپوشو نه یو زرهدار ټانگ دوه سوه پنځوس (۲۵۰) میله کلاشنکوفونه لس میله ثقیله ما شینداری لس میله هاوانونه پینځه میله دهشکی اته میله (زیکو- ۱) توپونه او دوه میله شلکا اوهمدا رنگه یوه اندازه مهمات او راکټونه ، تلویزنونه ، ټایپونه ، رادیوگانی او تخنیکی سامان ، الات په غنیمت نیولی دی . د حق او باطل تر منځ په دغه جگړه کی د دښمن له قواو څخه (۸۰) تنه صاحب منصبان ملیشه او نور اجیران وژل شوی او (٦۰) تنه یی مجاهدینو ژوندی نیولی دی . خبروایی چی په دغو عملیاتوکی د اسلام د حقی لاری له مجاهدینو څخه (۳۰) تنه ټپیان او (۱۱) تنه د شهادت لوړ مقام ته رسیدلی دی . (انا لله وانا الیه راجعون)

د یو بل خبر له مخی مجاهدینو د خوست په شمال ختیځه خوا کی د محرم الحرام په (۲۸) نیټه خپل عملیات پیل کړل او په عملیاتو کی د خلبساتو غونډۍاو د توری غنډۍ پوستی او د (نور) کلی پوستی چی د

عسکرو او ملیشه و مرکزونه وو فتحه شوی دی. د دغو پوستو د فتحه کیدلو په نتیجه کی دځائیو او خوست ترمنځ مواصلاتی لاره هم بنده شوه . د یوبل خبرله مخی د درگی د غنۍ او ولسوالی د فتح کیدلو په عملیاتو کی د مزدور رژیم له خوا نه په مجاهدینو (۸۰) سکاډ توغندی ویشتل شوی خود خدای جل جلاله په فضل مجاهدینو ته کوم ځانی تلفات نه دی اوښتی .

د محرم الحرام د میاشتی په (۲۸) نیټه مجاهدینو د یعقوبی په پوسته اویو شمیر نورو پوستو باندی هم حمله وکړه چی په نتیجه کی یی د دښمن دری مهمی پوستی فتحه کړی . په همدغه نیټه دشپی داتو بجو په شا و خوا کی د ملحد او مزدور رژیم پنځه څلویښت (٤٥) تنه عسکر د خپلو خفیفو او ثقیلو وسلو سره مجاهدینو ته تسلیم شول. دغو تسلیم شوو عسکرو ویلی دی چی مونږ ته د مزدور رژیم د افسرانو له خوا د درگی د ولسوالی دنیولو دستور راکړل شو خو مونږ رئیس، ارکان، سیاسی معاون او قوماندان ووژل او مجاهدینو ته تسلیم شوو. خبر زیاتوی چی په دغو عملیاتو کی مجاهدینو د ثقیله وسلو په وسیله د دښمن یو ټانك هم له منځه وړی دی .

د محرم الحرام د میاشتی په (۲۹، ۱) شپه مجاهدینو د خوست د زنی خیلو د مندوزی په پوستو خپل عملیات پیل کړل او دښمن ته یی د سر او مال درانه تلفات ورواړول . خبروایی چی په دې عملیاتو کی د اسلام د حقی لاری مجاهدینو ته کوم ځاني تلفات نه دی رسیدلی .

د صفرې د میاشتی په (۲) نیټه مجاهدینو د خوست په سیمه کی د گلم په نامه د دښمن یوه پوسته فتحه کړه او په همدی نیټه یی د مزدور رژیم له قواو څخه (۱۵) تنه ژوندی نیولی دی .

په نوموړی نیټه د رژیم پنځه دیرش (۳۵) تنه عسکر چی دری تنه یی افسران وود خپلو وسلو سره مجاهدینو ته تسلیم شول . خبر زیاتوی چی په همدغه نیټه دیارلس کړی د خوست له هغی برخی څخه چی د کمونستانو ترتسلط لاندی دی لڅی ته یعنی هغی برخی ته راغلی چی د مجاهدینو تسلط پری ټینگ دی .

د سلمان فارسی د غنۍ مجاهدینو د صفرې د میاشتی په پنځمه نیټه د خوست د شاروب په پوسته کی ددښمن یو ټانك تخریب کړ .

خبر زیاتوی چی په دغه تخریب شوی ټانك کی ټول ناست افراد وژل شوي دي .

د صفری د میاشتی په شپږمه شپه د ملحد رژیم یوه د څلورو انجنو الوتکه د خوست په هوایی میدان کڅ زړور مجاهد افضل کوچی له خوا وویشتل شوه او له منځه یوړل شوه .

په یو را رسیدلی خبر کی ویل شوی دی چی مجاهدینو د جمعی په ورځ د سنبلی د میاشتی په (۱۷) نیټه په خوست کی د زرپای ، گلپای، باغ او د درگی د ولسوال دکور پوسته فتحه کړه .

په خبر کی زیاته شوی ده چی په دغوبریالیو عملیاتو کی مجاهدینو له دښمن څخه دری فعال ټانکونه دهغی دعملی سره یو ځای ونیول.

په خبر کې ویل شوي دي چې دحق او باطل ترمینځ په دغه جگړه کې مجاهدینو د دښمن له قواو

ځخه د لسو تنو صاحب منصبانو په شمول او یا تنه عسکراو ملیشه ژوندی نیولی دی .

په دغو عملیاتو کی داسلام د حقی لاری د مجاهدینو له جملی ځخه پنځه تنه ټپیان او ځلورو تنو دخدای (ج) د رضا په لارکی د شهادت مقام وگاټه .

(انا لله وانا الیه راجعون)

د یو بل خبر له مخی مجاهدینو د سنبلی د میاشتی په ۱۷ /۱۸ نیټه د خوست په هوائی ډگر کی د دښمن یوه ځلور ماشینه الوتکه تخریب کړه .

دبېرارسیدلی خبر له مخی مجاهدینو د سنبلی د میاشتی په ۱۸ /۱۹ نیټه د شپی په یوه بجه د خوست په هوائی ډگر کې د دښمن یوه الوتکه تخریب کړیده .

خبر زیاتوی چی د سلمان فارسی د غنډ مجاهدینو د سنبلی د میاشتی په ۱۹ نیټه د خوست هوائی ډگر ته نژدی ددښمن یو ټانك تخریب کړ .

په خبر کی ویل شوی دی چی په ټانك کی ناست کسان هم وژل شوی دی .

کابل

مجاهدینو د کابل ښار کی خپلو پوځی اهدافو باندی دکامیابو حملو په تر څ کې د ۱٤۱۰ کال د محرم الحرم د میاشتې په (۳) نیټه د ملحدینو د مخربو وسلو پریوې لویې ذخیرې باندې یو کلك بریدو کړ او د رژیم د مخربو وسلو او د مهماتو یوې ډیره لویه ذخیرې د مجاهدینو د توغندیو په باران کې اور واخیست او د سوونو زرو په

شمیر ډول ډول ګولیو له تندر اوازونو سره په چاودنو پیل وکړ . دې چاودنو د کابل د ښار زیاتو برخو ته په مسلسل ډول ټکان ورکاوه،ډیرو ځایونو کې یې دکورونو ښیښې ماتې کړې. په دې پیښه کې کمونستانو ته لوی تاوان رسیدلی . او د ملحد رژیم یو زیات شمیر کمونستي پوځیان او افسران وژل شوي او یو زیات شمیرېې ټپیان شوي . د دې چاودنې سره د رژیم درادیویې خپرونو مرکز د سخت زیانمن کیدلو په وجه د زیاتوشیبو لپاره غلی پاتې شو . همدا رنګه دبریښناجریان هم د یو زیات وخت لپاره قطع شوی ؤ .

د کابل له ولایت څخه درارسیدلی خبر له مخی د اسلام د لارې میړنیو مجاهدینو د ۱٤۱۰ کال د محرم الحرام د میاشتی په دریمه نیټه کله چی د روسیی د بهرنیو چاو وزیر شیواردنازی په یو ناڅاپی توګه کابل ته تللی ؤ د کابل په ښار کی د مزدور رژیم حکومتی تأسیسات دتوغندیو دډز و په وسیله هدف ونیو چی دهغی په نتیجه کی ۸ توغندی د روسیی په سفارت او دارالامان کی ولګیدل چی یو شمیر ملحدین پکی ووژل شول. په خبر کی زیاته شوې چې یو توغندې په انتر کانتی ننتل هوټل کی ولګید چی دهغه له امله د هوټل په ودانۍ کی اور بل شو اوهمدا رنګه یو شمیر نور تو غندی په هوایی ډګرکی ولویدل .

د محرم د میاشتې په دریمه نیټه مجاهدینو د کابل د ښار شاو خوا پوځي او حزبي مرکزونه د توغندیو تر او رونولاندې ونیول او یو زیات شمیر پوځی ځایونه‌یې له منځه یوړل.په دی عملیاتو کی د ملحد رژیم ډېر زیات شمیر ملحد افسران،خادستان حزبي کارکونکي او هغه ملحدین چی د تخریبي دستګاه په فعال ساتلوکی ونډه لرې ووژل شول .

د محرم الحرام د میاشتی په شپږمه نیټه مجاهدینو د دښمن پر حزبې ، استخباراتی او د تخریبی فعالیتونو نورو مرکزونو باندې د کابل په ښار کی د راکټونو له اورونو سره برید وکړ . د دی برید له کبله د رژیم د راډیو د ویناله مخې نهه تنه کمونستان مړه او شپارس تنه ټپیان شول .

بی بی سی د مسکودراډیو په حواله ویلی د مسکوراډیو اعلام وکړ چی د مسکو حکومت د کابل رژیم ته ډیر پر مختللی جنګی مګ ۲۹ ډوله الوتکې ورکړې دي څو د رژیم د هوایی بمباریو او برغلونو توان نورهم ډېر زیات پیاوړی شی .

د محرم الحرام په لسمه نیټه مجاهدینو د کابل دښار پرپوځی او حزبي او د خاد په مرکزونو او د رژیم په نورو مهمو ځایونو باندې دتوغند یو مسلسل بریدونه وکړل او د دښمن یو زیات شمیر تأسیسات یې له منځه یوړل او زیات کمونستان یې ووژل .

ننګرهار

د محرم الحرام په دریمه نیټه د جلال آباد ښار د شا وخوایو زیات شمیر پوستی دسپکو او درنو وسلو تراور لاندی ونیول شوی او په دې عملیاتو کی د دښمن یو زیات شمیر پوستې چی مخکې له منځه وړل شوی وی او ملحدینو بیا ورته ملحد کمونستان راوستي وو،ونیول شوې.

په دی عملیاتو کی مجاهدینو ته یو زیات شمیر سپکې او درنې وسلی او مهمات لاس ته ورغلل .

د محرم الحرام د میاشتې په شپږمه نیټه مجاهدینو د جلال آباد په جنوب او جنوب ختیز کی د دښمن پرسنگرونو حمله وکړه چې دښمن ته یی سخت تاوانو نه وروړسول او دکان پرغونډۍ باندې د دښمن یو ټانك د ټولو عمله وسره له منځه یوړل شو . په همدغه نیټه مجاهدینو په یو کامیابه حمله کی دگردې کڅ یوه کلکه او مجهزه پوسته چې د مجاهدینو دپرمختللولوی خنډ و ونیوله او مجاهدینو ته او وه کلاشینکوفونه یو راکټ ویشتونکی او یوهاوان د غنیمت په ډول تر لاسه شو .

مجاهدینو د ١٤١٠ کال د محرم الحرام میاشتی په ٩ نیټه جلال آباد کی د دښمن په پوځی مرکزونو باندی یوه سخته حمله وکړه او د ملحد دښمن یو زیات شمیر پوځی تأسیسات او پوستې یی له منځه یوړلې او یو ډیرلوی شمیر ملحدین ووژل شول .

مجاهدینو د محرم په (١٠) نیټه د جلال آباد په سیمه کې د ملحد رژیم په پوستو باندې د سرخرو د په شیخ مصري او همدا رنگه د ثمر خیلودسر اچې اوکان په پوستو باندې کلك بریدونه وکړل او زیات کمونستان یې ووژل .

د ننگرهار له ولایت څخه په راږسیدلي خبر کې ویل شوې چی د نوموړې ولایت مجاهدینو د محر الحرام د میاشتې په روستیو ورځوکې دگډې او واحدی قوماندی درامینځ ته کولو لپاره دیوې غونډې په ترڅ کې انتخابات وکړل .

خبر زیاتوی په دغه غونډه کې چی دټولو جهادي

تنظیمونو د قوماندانانو په ګډون جوړه شوې وه د افغانستان
د اسلامی حزب،چې مشریې مولوی محمد یونس خالص دی،
حاجې عبدالقدیر دعمومې قوماندان ، د ملي اسلامی محاذ
قوماندان شمالی د معاون په توګه ، د افغانستان د
اسلامي حزب چې مشریې انجنیر ګلبدین حکمتیار دی
قوماندان خالد د نظامي مسئول او د اتحاد اسلامی
قوماندان حافظ الحق د مالی چارو د مسئول په توګه
وټاکل شول .

لوګر

د لوګر له ولایت څخه په رارسیدلو خبرونو کی
ویل شوی دي چې د ۱۴۰۹ کال د ذوالحجې د میاشتی په
وروستیو ورځو کی په نوموړي ولایت کی د ملحد او
مزدور رژیم د هوایی بمباریو له امله دکلیوالو اوسیدونکو
ښځو او ماشونو په شمول (۳۰) تنه شهیدان او زیات
شمیر ټپیان شوي دي .

په خبر کې زیاته شوې ده چې دغه بمباري د
لوګر ولایت د محمد آغې په ولسوالي زرغون ښار ، ده نو
او مغل خیلو او نورو سیموکې شوې وه .

یو بل خبر له مخی مجاهدینو د دښمن دوه جیټ
الوتکی راغورځولی دی . ویل کیږی چی یوه الوتکه د
چهار آسیاب په اولسوالۍ کې او بله د محمد آغې په
اولسوالۍ کې رانسکوره شوې ده .

لغمان

په یو رارسیدلي خبرکې ویل شوي چې د محرم په
(۹)نیټه د لغمان په ولایت باندې مجاهدینو عملیات وکړل
چې دهغه په نتیجه کې دښمن ته د سر او مال درانه تلفات
ورسیدل .

کندز

د کندز له ولایت څخه په رارسیدلو خبرونو کې ویل
شوي دي چې د نوموړي ولایت مجاهدینو د ۱۴۰۹ کال د
ذوالحجې د میاشتې په وروستیو ورځوکې د مزدور رژیم یو
هلیکوپتر چې پکې د الوتکې دعملې په ګډون (۱۷)
تنه سواره وو ، راوغورځاوه .

په خبر کې زیاته شوې ده چې په الوتکه کی ټول
سواره کسان چی (۱۲) تنه یی د خاد غړی وو او
دنظامی زده کړو لپاره روسیې ته بیول کیدل وژل شوي دي.

د یو بل خبر له مخی مجاهدینو په دی وروستیو
وختونو کی د بیلو بیلو عملیاتو په لړکې چې د کندز په
ښار ، هوائي ډګر او بالاحصار باندې یې کړي دي دښمن
ته د سر او مال درانه تلفات وراړولي دي .

هرات

د هرات له ولایت څخه په رارسیدلو خبرونو کې
ویل شوي دي چې د نوموړي ولایت میړنیو مجاهدینو د
۱۴۰۹ کال د ذوالحجې د میاشتی په دیرشمه نیټه په هوایی
ډګر باندې حمله وکړه چې دهغې په نتیجه کې یې د
دښمن څلور هلیکوپترونه وسوځول .

خبر زیاتوی چې په دې عملیاتو کې د مزدور رژیم

۱۲ تنه پیلوټان او ۲٤ تنه عسکر ووژل شول .

ارزگان

د رارسیدلي خبر له مخې د ارزگان ولایت په مرکز ترین کوټ باندې د مجاهدینو دسختو حملو په نتیجه کې د دښمن پوزیات شمیر پوستې له منځه یوړل شوې. په دې بریدونوکې د رژیم ډیر لوی شمیر ملیشه او پوځي افراد او افسران ووژل شول او مجاهدینو ته یوه ډیره زیاته اندازه وسله لاس ته ورغله .

له علماء کرامو څخه د دفاع د وزیر غوښتنه

د ۱٤۱۰ کال د محرم الحرام دمیاشتې په٤ نیټه د عبوري حکومت د دفاع وزیر او د حرکت انقلاب اسلامی امیر مولوي محمد نبی محمدی په پېښور کی دافغانی علماء کرامو یوې لویې غونډې ته په خطاب کې وویل چې دافغاني مهاجرینو کمپونو او د جهاد جبهاتو کې خپلو موعظوکې له مجاهدینو او مهاجرینو نه غوښتنه وکړي چې له شخصي اختلافاتو نه دې لاس واخلي ، ځکه چې په دې اختلافاتو زمونږ مقدس جهاد ته سخته صدمه رسیږي. ده وویل مونږ باید خپل ټول فکر، ټول وخت او ټول قوت د دښمن مغلوبولو ته متوجه کړو او له خپلمنځي اختلافاتو نه لاس واخلو . په هغه غونډه کې چې ډیر زیات شمیر علماؤ پکې گډون کړی وُ محمدي صاحب وویل چې ټول مجاهدین یو واحد هدف لري او هغه هدف د نجیب دگوډاګي رژیم ړنګول او د یو اسلامي حکومت تاسیس دی . ده زیاته کړه زمونږ بری ډیر لنډ او د نجیب رژیم دځنکدن په وروستي شیبه کې دی .

د محرم الحرام د میاشتی په شپږمه نیټه د انتقالی حکومت غړو د تخار د واقعی په باره کی یوه غونډه وکړه چی هغه کی د محترم حکمتیار او د محترم استاذ ربانی په شمول د حکومت ټولو غړو گډون کړی و ځو د تخار پیښی غور وکړی .

روسانو (۳۰۰۰) نوي ډول - ډول توغندی خپل مزدور رژیم ته ورکړل

په خپروشویو خبرونو کې ویل شوي دي چې روسانو په دې وروستیو وختونو کې (۳۰۰۰) ډول – ډول توغندي خپلو مزدورانو ته په واک کې ورکړی دی .

خبرونه زیاتو ي چې دکابل رژیم خپل (۷۰۰) تنه صاحب منصبان چې ټول د خاد غړي دي د دغو وسلو د ټریننګ لپاره ترمزته لیږلي دی .

په خپرو شویو خبرونو کې ویل شوي دي چې روسان هره ورځ (۲۵ ، ۳۰) الوتکې وسله او مهمات د کابل او مزار شریف هوائي ډگرونو ته راوړي .

په خبرونو کې زیاته شوې ده چې دغه وسلې او مهمات روسانو د مزدور رژیم په(۱۵) ډیپوگانو کې ځای پرځای کیږي . دغه ډیپوگانې په قرغه ، پلچرخي ، تپه تاج بیك ، خیرآباد ، د خواجه رواش هوائي ډگر، کلوله پشته ، شهراراه او د پولیسو اکاډمي ترځنګ واقع دي .

پرافغانستان

باندې د روسانو مستقیم تیری او

شرمېدلې ماتې

لیکوال: سید محی الدین هاشمي

استعمار چې هرځای، په هره جامه او د هرچا له خوا وي، هدف یې یو، یعني د ځان د آبا دولو په تکل د نورو لوټل دي.

په بشري نړۍ کې له ډیرې پخوا زمانې راهیسې یو پر بل باندې تیري او د زورور له خوا د کمزوري د حقوقو لاندې کول دود ؤ او دی. که د بشري تاریخ پاڼې په غور سره واړوو راواړوو د دې ډول پیښو ډیرې نمونې کې لیدلای شو او ډیر ژر به راته څرګنده شي چې په څه رنګ، څه ډول او د کومولارو څخه سترو قوتونو (قبیلو، قومونو، حکومتونو او دولتونو) پر کمزورو او بې وزلو یرغل کړی، د هغوی مادي او معنوي حقوق یې سلب کړي، هغوی یې یاد ځان غلامان کړي او یایې د خپلې سیمې او هیواد پریښودوته مجبور کړي دي.

له پیړیو پیړراهیسې استعماري قدرتونه د تاریخ په بیلو بیلو وختونو او دورونو کې پر نورو بلوسیدلي او د خپل زور او ځواك ازمویښت یې کړی دی. داسې وخت هم راغلی دی چې د مستعمرې جوړونو او لرلو موضوع دسیالۍ (رقابت) بڼه غوره کړې ده او ځینې استعماري قوتونه(لکه انګریزان) په دې بریالي شوي دي چې د ټولې نړۍ یو پرڅلورمه برخه هیوادونه په خپل استعماري جال کې راښکیل کړي.

خو باید ووایو چې که له یوې خوا دنړۍ پرمخ د ملك نیونې او پراختیا غوښتنې رقابتونه په ډیرې چټکۍ سره روان وو، نوله بلې خوا د هغوی په مقابل کې په ملتونو او خلکو کې د خپلې عقیدې او ټاټوبي سره د مینې او د خپلو حقوقو او شتمنیو څخه د دفاع روحیه او جزبه دومره پیاوړې شوې چې همدا لوی لوی قدرتونه بیا د ډیرو کوچنیو او کمزور هیوادونو په مقابل کې

مات شوي او د بيلو بيلو ملتونو د پرله پسې پاڅونونو په نتيجه کې يې په ډير لږ وخت کې د استعماري سلطې ټغر ټول شوی دی.

زمونږ ګران هيواد افغانستان هم د آسيا په زړه کې د خپل حساس جغرافيوي موقعيت او تاريخي حيثيت په لولو سره په بيلو بيلو وختونو کې د بهرنيو متجاوزينو د وحشيانه تيريو لاندې واقع شوی دی، له سکندر څخه راتيولې بيا تر چنګيزيانو، انګريزانو او ان تر روسانو پورې يرغلګرو قوتونو پرې په بيلو بيلو وختونو کې له بيلو بيلو لارو يرغلونه کړي دي. ديو مخيزې وژنې او د سرونو څخه دځلو (کله مناورونو) جوړولو په ګډون يې هرډول مادي او معنوي شتمنۍ لوټ کړې دي. خو لکه چې ټولو ته معلومه شوې ده د افغانستان مسلمان او قهرمان ملت هيڅ يرغلګر او استعماري قوت ته دتسليمۍ سرنه دی ټيټ کړی، تل يې د خپل ايمان او اسلامي عقيدې په وسله د دښمنانو او تيري کوونکو په مقابل کې مقابله او مبارزه کړې ده او ترڅو چې يې د خپلې عقيدې او پلرنې هيواد دښمن ته ماته نه ده ورکړې يوه شيبه هم آرام نه دي ناست.

دنړۍ په تيرې کوونکو او استعماري قوتونو او پراختيا غوښتونکو ځواکونو کې يو هم روس دی چې ترنورو ټولو څخه په وحشت، لوټماري او وينې تويولو کې دمخه دی. دغه ملحد او وحشي استعماري قوت د بشريت د ځپلو، کوټلو او رابشکيلولو لپاره له ډول - ډول وسلو او وسيلو څخه کار اخلي، له يوې خوا خپل زور او وحشت په کاراچوي، بل خوا د زرو او رشوت په وسيله مخ په وړاندې ځي، ترڅنګ يې په خلکو کې د خپلې جاسوسۍ جالونه او دامونه غوړوي، که ضرروت پيښ شي په زاريو او ننواتو تو هم نه شرميږي، د خلکو ترمينځ په تفرقه اچولو او سره بيلونه کی هم ډير ماهر دی او په غولونه، تيروريستنه، تزوير او ريا کې يې هم مثال نه ليدل کيږي.

دلته غواړو چې په افغانستان باندې د روسانو د تيري په هدف او د هغې په نتيجه کې د شرميدلې ماتې په هکله څه ناڅه رڼاواچوو:

۱- په افغانستان باندې د روسانو د تيري شوم پلان او هدف:

پر افغانستان باندې د وحشي او سره استعمار د تيري او بلوسيدنې شوم پلان ډير زوړ او پخوانی دی چې د پتر له وخت څخه راتيولې بيا پر افغانستان باندې د وحشي او ملحدو کمونستانو تر مستقيم او بربنډ تيري پورې يې په بيلو - بيلو وختونو کی بيلې - بيلې بڼې ځانته غوره کړې دي، خوداچې دلته دهغې پرټول سياسي او تاريخي پس منظر بحث کول د دې لنډې تنګې ليکنې په چوکاټ کې نشي ځائيدی نو د موضوع څيرنه او سپړنه په افغانستان کې د روسانو په ملاتړ او حمايت ترسره شوې، د ثور د خونړۍ کودتا څخه پيلوو.

له ډيرې پخوا زمانې څخه د هيوادونو په مستعمره کولو کې د روسانو دا لاروه چې لومړی به يې د ډول-ډول نيرنګونو او زور زياتې په وسيله هغه هيواد لاندې کاوه چې له دوی سره به يې ګډه جغرافيايي پوله (سرحد) درلوده او چې کله به يې هغه د خپلې خاورې جزوګرځاوه، نو بيا به يې ځان د هغو سره د ورځرمه هيواد ګاونډی باله او چې هغه به يې هم په دغه ډول ترخپل ستونې تيرکړ نو بيابه دهغه بل هيواد دنيولو او ښکيلولو په لټه کې شو چې له دغه هيواد سره به يې ګډه پوله درلوده.

په دې ترتيب روسانو د مرکزي آسيا اوشمير نور مستقل

اسلامی هیوادونه لکه بخارا، خیوا، خوقند او قازان او نورې آزادې خانۍ یو په بل پسې لاندې کړل او ځان یې دافغانستان ترپولو راورساوه او په وچ زور یې ځان د افغانستان گاونډی کړ.

د روسانو له پاره د هیوادونو په نیولو کې ترټولو ډیره اغیزمنه (موثره) لار داهم ده چې لومړی ددوستۍ او گاونډیتوب په جامه کې ترنظر لاندې هیواد کې د اقتصادي، تخنیکي، فرهنگي او پوځي مرستو په پلمه ځانته د پښې ایښودلو ځای گوري او چې څنگه یې هلته دپښې ایښودلو ځای پیدا کړ، نو بیا د ډول ـ ډول نیرنگونو له لارې هلته خپل جاسوسان و گوماري او دهغو په وسیله یوشمیر بې دینه،بې ضمیره ټیت، بې همته، د قدرت او دولت وږي ملحد اشخاص دپیسو او رشوت په زور د ځان کوي، او په دې ترتیب په هغه ځای کې د فساد، الحاد، شیطاني او جاسوسۍ د ځالې په جوړولو سره د خپل ښکیلاکي او استعماري پلان او نقشې د عملي کولو لارې چارې برابر وي. روسانو زمونږ هیواد ته هم لومړی په همدې پلمه سر رادننه کړ او د وخت له سیاسي اوضاع او د بې کفایته او فاسدو حکومتونو له کړنو څخه په گټې اخیستلو سره په دې بریالی شول چې د خپلو لاس په نامه غلامانو او په روبلو اخیستل شو یو ایجنټانو په وسیله د «خلق» د بانډ په نامه د الحاد، فساد او شیطانۍ ځاله جوړکړي.

وروسته یې بیا روسانو د خپلې استعماري پالیسۍ له مخې داناولی بانډ په دوو ډلو وویشه، یوه یې د «خلق» او بله یې د «پرچم» په نو مونو ونوموله. بیا یې د پرچم د ډلې په وسیله چې د دوی په دستور یې له پخوا څخه له سلطنتي کورنۍ او دربار سره نژدې اړیکې درلودې، سلطنتي او درباري اشخاص (لکه داؤد) چې قدرت او واکمنی پسې لیونی او د قدرت لیونی عقده یی درلوده، د ځان ملگری کړل.

روسانو په لومړي قدم کې د دؤاد په مشرتابه دیوې کودتا طرحه رامخې ته کړه چې په ۱۳۵۲ هـ ش کال د سرطان په ۲۶ نیټه ترسره شوه.

د دې کودتا هدف ظاهراً د سلطنتي او شاهي رژیم ړنگول او پرځای یې د جمهوري نظام رامینځ ته کول وو،خوتر شایې روسانو په دې توگه د خپل شوم استعماري پلان د تطبیق په ډگر کې دیوې تجربې کول غوښتل. په دې ترتیب روسان د خپلو شومو پلانونو اوهدفونو په ترسره کولو کې لازیات گړندي شول. د اود یې د خپلو هغو ایجنټانو اوغلامانو په وسیله چې د مخه یې پرې راټول کړی وو، او په دولتي چارو کې یې لوړو ـ لوړو پوستونو ته رسولي وو، په ملت کې منفور او تجرید کړ او کله چې داؤد د خپل ژوند په وروستیو کې د روسانو د پلان مخالف شو روسانو د خلق او پرچم ناولی بانډونه سره یو کړل او په هیواد کې یې په ډول ـ ډول دسیسو او توطیو لاس پورې کړ. او کله چې بیا ورسانو ته د خپل استعماري پلان د عملي کولو زمینه مناسبه ترستر گوشوه، نو خپل یو پخوانی نوکر میراکبر خیبریې ددې لپاره مردار کړ چې د یوې بلې خونړۍ کودتا د کولو لارې چارې برابرې کړي.

بالاخره روسانو خپلو مزدورو او اجیرو بانډونو (خلق اوپرچم) ته چې څه موده د مخه یې د همدې هدف لپاره سره یو ځای کړي وو، د خونړۍ کودتا قومانده صادره کړه. چې د ۱۳۵۷ هـ ش کال د ثور په (۷) د روسانو په ملاتړ او حمایت د زرگونو افغانانو په وژنه ترسره شوه او په دې ترتیب یې خپل پخوانی ایجنټ او نوکر «تره کی» دد اود په وینولړلی تخت باندې کښیناوه.

روسانو د خپل استعماري پلان له مخې دافغانستان پر خلکو باندې د دوی له خوا دورتپل شوې حکومت ترکیب داسې رامنځ ته کړ چې لومړی پسې د قدرت پله د «خلق» خوا ته درنه کړه چې په دې وسیله یې پرچمیان د قدرت ترلاسه کولو جنگ ته اړایستل دغه کار د خلق او پرچم ترمینځ زړه دښمني له سره نوې کړه. بیا یې په خپل امر دببرك په گډون د پرچمیانو ځوتنه مشران د سفیرانو په جامه له افغانستان څخه بهر کړل او په بهر کې د افغاني سفارتونو د شتمنیو له لوټولو وروسته یې هغوی ته په خپلی غیږ کې ددې لپاره ځای ورکړ څو په راتلونکې کې د خپل وروستنی شوم او ناولي پلان په ترسره کولو کې ترې دیوې اغیزمنی او موثرې وسیلې په توگه کار واخلي.

دا خو هر چاته معلومه ده چې د ثورله خونړۍ او کرغېړنې کودتا څخه راوروسته په افغانستان کې ټولی دولتي (ملکی او عسکری) چارې مستقیماً د روسانو له خوا اداره کیدې. د «کا، جی، بی» جاسوسان یې د مشاورینو په نامه په ملکي او عسکري ساحو کې په کارونو گومارلي وو، هر څه او هر څنگه به چې دوی امر کاوه لاس په نامه نوکرانو یې په هماغه ډول د عمل جامه وراغوستله.

د روس نوکرانو قدرت ته درسیدو له لومړۍ ورځې څخه د خپل بادار په امر د افغانستان د مسلمان ملت په وړاندې له هیڅ ډول جنایت او خیانت څخه ډډه ونکړه او په ډیرې بې رحمۍ سره یې د مسلمانو افغانانو بندیانول، وهل، ټکول، لوټول او وژل پیل کړل، بې شمیره کلي اوښارونه یې په کنډوالو بدل کړل او په ښوونځیو کې یې د کفر او الحاد او هیواد پلورنې په روحیه د ښوونې اوروزنې پروگرامونه رامخې ته کړل او په خلکو کې یې د بې اتفاقي او پخپل منځ کې د دښمنۍ تخمونو په شیندلو پیل وکړ

خو!

د دوی د زور یاتې، چور چپاول، کفر او الحاد په مقابل کې د افغانستان مسلمان ملت چوپ پاتې نه شو او ددې رژلي او ناولې الحادي رژیم لا څو ورځې نه وې تیرې شوی چې د هیواد په څینو سیمو کې خلك د دوی پرضد را پا څیدل او په تش لاس، په اسلامی او ایماني جذبه یې د دوی مقابلی ته ورودانگل. لومړی یې د دوی په سیمه ایزو ارگانونو (علاقداریو، اولسوالیو اوښوونځیو) حملې وکړې، د روس نوکران (خلقیان او پرچمیان) او د دوی ملاتړ یې له منځه یوړل او دومره وسله یې ترې په غنیمت ونیوله چې په ډیر کم وخت کې یې په لویو مرکزونو باندې د حملې لپاره ځان چمتوکړ.

د کفر او الحاد پرضد دافغانستان د مسلمانو خلکو هغه پا څونونه چې په تش لاس پیل شوې وو، ډیر ژرېې دیو سرتا سري اسلامي پاڅون بڼه غوره کړه او د هیواد په گوټ گوټ کې د کفر او الحاد پرضد جهاد پیل شو.

روسانو که هر څو خپلو نوکرانو ته درنې وسلی او وسیلې په واك کې ورکړې او که هر څو یې ورته د وحشت او زور زیاتي تومانده صادره کړه، او که هر څویې خپل نیرنگونه په کارواچول دې یو هم د مسلمانو افغانانو د جهادی غور ځنگ د توپانی بهیر مخه و نشوه نیولای، مگر لاپسی پیاوړی او ځواکمن شو.

۲- په افغانستان باندې د روسانو مستقیم تیری:

د روس د نوکرانو ترمینځ د قدرت او څوکیو پرسر را ولاړ شوي تضادونه له یوې ورځې څخه بلې ته مخ په زیاتیدو وو او بالاخره داسې نقطې ته ورسیدل چې بداخلاق رهبر «تره کی» د خپل وفادار شاگرد (حفیظ لعین) له خوا د غلامانه قدرت له څوکی څخه را

وړځول شو دا هغه وخت ؤچې ټول هیواد د روسانو د نوکرانو لپاره داورتبې گرځیدلي و ، د دښمن دتگ راتگ زیاتره لارې بندې او زیاتې وسلې او وسیلې یې له کاره لویدلې وې او د روس نوکران او د هغوی دپوځي قو او ټولگي او بلگې په خپلو خپلو ځایونو کې محاصره وو .

دا هغه وخت و چې د هیواد په گوټ گوټ کې پرملحد دښمن باندې د مسلمانو مجاهدینو د برې آوازې خپرې وې او هر چیرته به یې د ماتې خبرې کیدې .

او بالاخره دا هغه وخت ؤ چې د افغانستان مسلمان ملت د خپل اسلامي غورځنگ او پاڅون برې ته سترگې په لارؤ ، په همدې نن او سبا کې پر دښمن باندې د بریالیتوب واړ د هر مؤمن افغان په زړه کې ځای نیولی ؤ ، چې په همدې حساسو شیبو کې د وحشي او بې دینه روسانو له سلوزرو څخه زیات په ټانکونو ، الوتکو او نورو عصري وسلو سمبال پوځ د ټولو نړیوالو موازینو پرخلاف زمونږ پرهیواد باندې وحشیانه یرغل وکړ . خپل پخواني نوکر حفیظ لعین یې له منځه یوړ او د ۱۳۵۸ هـ ش کال د جدی په شپږ مه نیټه یې د مسکو او تاشکند له راډیوگانو څخه د خپل گوډاگي ببرك (چې دهمدې ورځې لپاره یې ساتلی ؤ) غلامانه واکمنې اعلان کړه .

روسانو پر افغانستان باندې دا بربنډ تیری د دې لپاره وکړ چې له یوې خوا په دلته د دوی دکفر او الحاد او بې دینۍ پرضد دافغانستان د خلکو اسلامي پاڅون له منځه یوسي او له بلې خوا به افغانستان هم د مرکزي آسیا داسلامي هیوادونو په څیر په خپله استعماري لومه کې راښکیل کړي او بیا به د خپل پخواني شوم او ناولي آرمان (دهند تودواوبو) ته د رسیدو په لور مخ په وړاندې لاړشي .

خو د روسانو دا خیال هم د نورو په شان د دوی د توقع خلاف غلط ثابت شو ، او ددوی بربنډ مستقیم وسله وال تیری د افغانستان په مسلمانو خلکو کې ددوی پرضد د جهاد او مبارزې روحیه لاپسې پیاوړې کړه .

۳- په افغانستان کې د روسانو شرمیدلې ماتې :

روسانو څه د پاسه نهه کاله په خپل زور او قوت سره د افغانستان د مؤمنو خلکو داسلامي پاڅون او غورځنگ د له مینځه وړلو هڅه وکړه ، خو په دې لار کې هیڅ ډول وسلې او وسیلې په خپل کرغیړن هدف کې د دوی د برې تضمین ونه کړای شو . که د افغانستان د مؤمنو خلکو په وړاندې یې له هر څو مره زور وحشت او لوټمارۍ او عامه وژنو څخه کا واخیست ، هومره یې په مقابل کې له یوې ورځې څخه بلې ته د مقاومت غورځنگ ځواکمن او پیاوړی شو . هماغه لوی ښکیلاکي (استعماري) قدرت چې تل به یې په خپل زور او قوت ـ ویاړ کاوه او خپل سره وحشي پوځونه یې ماتې نه خوړونکي ، او ځان یې سُپر طاقت گاڼه ، د یوتش لاسي ، خو د ایمان او عقیدې په وسله سمبال ملت له خوا یې سُپر طاقت د صِفر طاقت ته تقرب وکړ او په پوځي ، سیاسي ، اقتصادي او ... ډگرونو کې یې داسې له شرمه ډکه ماتې و خوړه چې اوس یې په هیڅ ډول د خپلو خلکو اونړ یوالو له نظره نشي پټولای . په زرگونو پوځیان یې ووژل شول ، په لس گونو زره یې معیوب په سل گونو تنه یې مجاهدینو ژوندی ونیول او بې شمیره جنگي وسلې او وسیلې یې څه له کاره ولویدې او څه مجاهدینو په غنیمت ونیولې .

روسانو فکر کاوه چې د جنیوا د معاهدې په وسیله به خپلې شرمیدلی ماتې ته د شرم پرتوگ واغوستلی شي ، نو ځکه یې دغه تش په نامه تړون د خپلې تیښتې لپاره

پلمه کړ او د ۱۹۸۹ م کال د ٥ فبروری په (١٥) چې
۱۳٦۷ هـ ش کال د لوې و میاشتی د (۲٦) نیټی
سره سمون خوري، له افغانستان څخه ووتل. روسانو که
په فزیکی لحاظ له افغانستان څخه خپل پوځونه
وایستل، خوتر شایې خپلې ټولی جنګي وسلې او وسیلې
خپل مزدور رژیم ته پریښودې او د نور و ډول ـ ډول
عصری مهرنو جنګي وسلو او وسیلو په رالیږ لویې پیل
وکړ، چی دا لړۍ تراوسه هم دوام لري.
خو په مقابل کې دافغانستان مسلمان او مجاهد ملت په
ډیره لوړه روحیه او مورال لکه څنګه چې یې د ملحدو
او یرغلګرو روسانو په مقابل کې وسله وال جهاد کاوه
په هڅه ډول د هغوی د مزدورانو او غلامانو (خلقیانو
او پرچمیتانو) پرضد هم په وسله وال جهاد بوخت دي
د هیواد زیاتره سیمې (علاقداری ولسوالی ـ ولایتونه)
د مجاهدینو په لاس یوه په بلې پسې فتح شوې او
لافتح کیږی، اوس نو دښمن یواځې په څو محدودو
مرکزونو کې د محاصرې په حال کې شپې ورځی تیروي
او ورځ په ورځ یې د محاصرې کړۍ تنګیږی، لری نه
ده چې د لوی خدای (جل جلاله) په مرسته به له ټول
افغانستان څخه د مزدور رژیم ټغر ټول او پرځای یې د
مجاهدینو اسلامي حکومت، چی د هغی لپاره
دافغاسنتان مجاهد ملت تریونیم ملیون زیات شهیدان
ورکړل، قایم شي. ومن الله التوفیق

په سرخ دیوال کښې

د شهیدانو وینو

لیکوال: محمد طاهر بابري

له دښمن نه انتقام واخیست

د سرخ دیوال کندې چې خاوره یې اوس هیره سره بریښي، دمخه داسې سره نه وه لکه دوینې رنګ، خوله هغه وخت نه راپدې خوا چې روسي اجنټانو او غلامانو له دغه ځای نه د پلچرخي پولیګون غوندې قتلګاه جوړه کړې وه. ددغې سیمې خاورې هم دوینې رنګ ځانته غوره کړیدی، خوپدې باندې هر څوک نه پوهیدل چې دا د شهیدانو پټ مزار دی او دلته په دې کندو کې د زرګونو بې ګناهو په اسلام مینو افغانانو وینې توئی شویدي.

دا واقعیت یوازې هغه چاته معلومیده چې دزندان په تورو خونو کې له دوی سره وو او دو طنفروشو خاد ستانو په کوټه قلفیو کې د زجر او شکنجو لاندې یې

د خپلو هغو پتمنو او باشهامتو ورونو حال لیده چې د جلاداو قاتل مؤظف شخص لخوابه د شپې په توره تیاره کې هغو ته دوتلو غږ کیده او دوتلو سره سم به یې د هغه لاسونه شاته و تړل او سترګې به ئې ورپلستر کړې، یا به ئې دیوې زړې بوجۍ یادعسکرو په زړې دریشۍ او یا به یې د هغه د کمیس لستوني و شکاوه او دهغه سترګی به ئې پرې و تړلې او په تور موټر کې به ئې دغو کندوته راوستل او بیا به ئې په هیرې بې رحمۍ سره په دغه ځای کې وژل کومې وینې چې دهغو د بدن له پرهارونونه توئیدلې د دې دښتی سره خاوره به ئې لاپسې سره کوله.

هوکی! دا هماغه کندې دې چې هره ورځ به ملحد و جلادانوزمونږ د بې ګناه مسلمانانو په لسګونو کورنۍ د هغوی د کورنی د نیول شو و غړو په ماتم کې کښینول.

د سرخ دیوال سیمه د جلال آبادطورخم د لارې په

اوړدوکې داسی دښته ده چې هغه ته نږدې کوږونه نشته ، دغلته د مخه دیر غلگرو او بی دینه روسانو قرارگاه وه کله، چې هغوی مونږ په خاوره کې ماتې و خوړه او زمونږ د هیواد نه مخ توري و تښتیدل نوځایونه یې د هغوی غلامانو ته پاتې شول او څه موده د مخه د ملحد رژیم یوه فرقه هم دغلته پرته وه.

د خدای (جل جلاله) قدرت ته گورکه چې دهماغو په اسلام مینو مسلمانانو وینې چې په دغو کندو کې تویی شوې وې دهغو د پلرونو ، میندو او د کورنۍ د نورو غړو د آه او فریاد سره یو ځای شوې او داسی یوطوفان ورځخه جوړشو چې په هماغو ځایونو کې یې دروسانو مزدوران او غلامان د خپلو اعمالو په سزا ورسول. کله چې مجاهدینو د جلال آبادطورخم په لویه لار اوشاوخوا سیمو باندې عملیات شروع کړل،نو په ډیر کم وخت کې د طورخم نه ترهوائې ډگرپورې ټوله سیمه د مجاهدینو لخوا فتح شوه. په دغو ټولو فتح شویو ځایونو کې ملحد رژیم ته ډیر زیات تلفات په همدغه سرخ دیوال کې واوښتل. نو ښایي دا دهماغه طوفان څپه وه چې د بې گناهو او په اسلام مینو قربانیانو دوینې له موج او د هغوی د کورنیو له آه او فریاد څخه راپورته شوې وه.خدای (جل جلاله) مجاهدینو ته دا توفیق ورکړ چې د خپلو هغو شهید انوچې د ملحد و دښمنانولخوا د سرخ دیوال په کندو کې په شهادت رسول شوي وو ، مړي ئې ورك او قبرونه یې نامعلوم وو، انتقام واخیست او هماغه سړی وژونکي یې په هماغو کندوکې د خپلو اعمالو په سزا ورسول.

د ملحدینو جنایات

لیکوال: مجاهد عزیزي

په افغانستان کی داسلام، ملحد دښمنان روسان او د روسانو ملحد غلامانْ د دې هیواد د مومنو خلکو په ضد د هغسې جنایاتو مرتکب وگر ځیدل چې روسان یې پخپل روسې هیواد کې د الحاد د تطبیق او تحمیل په وخت کې نه وو مرتکب شوي. دوی د افغانستان نه داسلام د محوه کولو په تکل کې او د روسي الحادي سیستم د کامیابۍاو په دی هیواد کې د روس د سیاسي تسلط د تأسیس لپاره له هیڅ ډول وحشت جنایت او وحشي اعمالونه ډډه ونه کړه.

د خدای (جل جلاله) د مقدس کتاب عظیم الشان قرآن د توهین جنایت، د مساجدو د بی حرمتی او و یجاړولو وحشت، د دیني علومو په تدریس باندې د بندیز ناوړه عمل او د هغو مجاهدو دینی علماؤ او روحاني شخصیتونو وحشتناك شهادت چې د دیني خدمت په حالاتو کی د دوی لاس ته ورتلل، همدارنگه دوړو ماشومانو، سپین سرو ښځو، سپین ږیرو نارینه ؤ عام قتلونه، دکورونو لوټل او ویجاړول، دکښتونو، باغونو او ځنگلونو سوځول او داسلام د مینی او خدمت له کبله د نیول شوو خلکو تعذیب او شکنجې او د زندانونو د تورو تمبوترشایې غورځول، هغه وختونه دي چې د بشرپهتاریخ کې یې مثالونه نشته. روسانو او د روسانو نوکرانو د خپل تسلط دټینگولو لپاره دښوو نځیو او پوهنځیو په علمي، تدریسي او تربیتي پروگرامونو کې یو بشپړ تغیر راوړ، دیني تدریس په ټولو ښوونځیو او پوهنځیو کې په قطعي ډول له منځه یوړل شو. په رسمي دفترونو، فابریکو، ښوونځیو او پوهنځیو کې د اسلامي شعایرو په ضد پروپاگند تقویه او زیات شو. د تلویزیون پروگرامونه د عمومي ماهیت له مخې د الحاد د تحمیل لپاره په کارواچول شول. له یوې خوا د کمونستانو په واسطه د بې دینۍ د تشویق فعالیت مخ په زیاتیدو شو،له بلی خوا د دیني علومو تدریس او دیني تدریسي نصابونه له منځه یوړل شول.

تعلیمي نصاب داسې یوه بڼه ونیوله چې زده کوونکي ټول اسلامي شعایر هیر کړي او د کمونستي افکارو تراغیزې لاندې راشي، دښوو نځیوتنکي هلکان دواقعیتونو په باره کې ژور فکرونه نه شي کولای او ډیر زر او په آسانۍ سره د کمونستانو د منحرفو و- نکولمسونونو محکوم گرځي. پروپاگند تبلیغ، تطمیع، تشویق او دوړیا برې لیکونو ورکول، دلوړورتبو او موتفونو پیروزوینې، دپیسو ورکول او د معاشونو تادیه

هغه وسیلې دي چې کمونستي وحشي نظام تر ې زمونږ په هیواد کی د خپل وحشت د تطبیق لپاره کاراخلې، د کمونستانو بله هڅه داده چې د اسلام د حقې لارې مجاهدین چې د هیواد د اسلامي تشخص د نجات لپاره او د اسلامي شعایرو او مظلومو او محکومو خلکو د نجات لپاره خپل سرونه نذر کړي په بد و اوصافو معرفي کړي او د الحادي کمونستي خلکو ته د تبلیغ، تلقین او مسلسل پروپاګند او دپروپاګندې او تمثیلي وسایلو له لارې داسې وښیي چې دوی مسلمانان دي.

دا زمونږ د تاریخ ډیرې تورې ورځې دي، څکه چې تلقین او پروپاګند چې ټول وسایل او ټولې ذریعې یې د هغو جنایکارانو واك کې دي پرهغو خلکو چې هغوی ته د دې کمونستانو د وحشي سیستم واقعیت، اصلي هویت، اهداف او اغراض نه شي ښودل کیدلای په تدریجي ډول اغیزه کوي. کمونستانو زمونږ د جهاد د یوولس کالو په موده کې دافغانستان خلك د دیني تدریس او تبلیغ نه لیرې وساتل شو او زیات شمیرې د رژیم داغیزې لاندې سیموکې او د هیواد نه بهر کمونستي هیوادونو کې تر کمونستي روزنې لاندې ونیول شول چې اوس هغوی د کمونستي نظام او د روس د الحادي او پر اختیا غوښتنې منظمو پروګرامونو لپاره فعالیت کوي. د همدغو بې دینو، بې ایمانو او د روس د اهدافو د نوکرانو نه څینې لویې ډلې د «ګارد خاص» په نامه جوړې شوي او په دې نوم فعالیت کوي. ګارد خاص هغه ملحدین دي چې د الحاد لپاره او د روس د اهدافو د پرمختیولو او عملي کولو لپاره د مجاهدینو مقابلې ته په منظم او مجهز ډول د جنګ ډګرونو ته لیږل کیږي. داهغه خلك دي چې اسلامي او افغاني هویت یې د روسي تلقین او روسي نوکرانو د

مسلسلو او پرله پسې ویناګانو او ښوونو له کبله محوه شوی او د قتل د ماشینونو په صفت د افغانستان د مسلمانو خلکو د اسلامي عقیدې، اسلامي کلتور، اسلامي هویت او تاریخي وقار په ضد د لوړو معاشونو په پیشکش استخدام شوي. دا د کمونیزم او د روس د پروګرامونو د عملي کولو متعهد کمونستان دي چې یو شمیرې د افغانستان دننه د کمونیزم دښوونې او د خاد د روزنې ځایونو کې روزل شوي او بیا روسیې ته استول شوی او څینې یې له لومړۍ وخت نه د دین او دینې شعایرو ضد کمونستي تربیې له پاره په مستقیم ډول روسیې ته استول شوي او اوس د اخلاقي مفاسدو او دینې قیود و ضد اعمالو په ترویج او د جنګ میدانونو کې د اسلام په ضد په وژنو بوخت دی.

اوس په کمونستي حزبي ادارو، پوځي قطعاتو، ښوونځیو او پوهنځیو کې د اسلام د هیرو لو لپاره ډول-ډول پروګرامونه د تطبیق مختلفو مرحلو کې دي. د نجیب او د نجیب دا مثالو د روزلو چالونه هم د روس د پلان جوړونکو له خوا پلان شوي لارې چارې دي. د نجیبیانو، روسانو، ببرکیانو حفیظیانو او د تره کی پیروانو، شعله ئیانو او نورو ملحدو ډلو اهدافو کې هیڅ توپیر نشته. دا ډلې له رنګا رنګ لارو څخه د الحادي او د وحشته یك هدف لوري ته په سرعت روان دي. دوی د اسلام دلومړیو وختونو د منافقینو غوندې مسلمانانو ته د مسلمان په ډول ورانديې کیږي، د اسلام صفتونه کوي او د اسلام د خدمت دعواګانې کوي او د ډیرو خلکو باور جلبوي خو په واقعیت کې به د کمونیزم لپاره او د روس او روسي الحاد لپاره خلکو کې نفوذ کوي؛ نو په هماغه اندازه چې د جهاد دسنګرونو مجاهدین د الحاد او کمونیزم د محوه کولو

او د الحاد سره د مقابلې مسؤلیت لري د هغو خلکو چی پورته یاد شو تاکتیکونو ، فعالیتونو او د فعالیتونو اشکالو او د فعالیت ځایونو ته هم باید ځیر شي. ددې ډول بی ایمانه منافقینو د فعالیت ساحه په مشخص ځای او مشخصی سیمې او مشخص هیواد پورې منحصر نه دي.

د دوی د الحادي فعالیت امکان په هرځای کې شته. که نجیب چی الحاد او بی دیني یې یود لمر غوندی څرگند او معلوم واقعیت دی،د پل خشتی جومات کې د لمونځ کوونکو په صف کی دلمانځه اداکولو له تیر ایستونکی ادعاسره دریدلی شي،نو نور ملحدین هم له هماغه ډول ادعاگانو سره په خلکو کی ننوتلی او خلك د اسلام له لارې څخه اړولی شي. نن سبا دافغانستان د ننه د ځینو له ژبو څخه دا آواز هم اوریدل کیږی چی هلته لمونځونه او د خدای تعالی عبادت موجود دی ، نو ځکه نجیبیان او د نجیبیانو غوندې نور خلك د دوی د عقیدې مخالف نه دي. داسې گمان هم دروسي فعالینو او د خاد دمعوسیعو پلانونو یو ډول کامیابي ده. کمونیزم د ماهیت له مخی د دین او عقیدې او د دیني تشخص مخالفه لاره ده او د کمونیزم او روسی اهدافو ټول کارکوونکی د همدغه لپاره تربیه اخیستې،نوله هغوی نه د اسلامي عقیدې لپاره د خدمت معنابه داوی چې خپله لاره یې پریښې او د اسلام خدمت ته او د اسلامي فکر تقویې او استحکام ته حاضر شوې ، حال دا چې مونږ هم داسلام لپاره جهاد کوو ، نو که دوی منافقین نه وې باید اسلام او د اسلام دلارې مجاهدینو ته تسلیم شي او پخپله الحادي ماضي باندې تأسف او ندامت څرگند کړي،خو واقعیت دا دی چې هغوی د خپلې غلطې لارې له کبله او د خپل ناوړه پلان له کبله هیڅکله دې ډول اسلامي دعوت منلوته حاضر نه دي. له همدې کبله د هغوی دا دعاگانو پراهدافو پوهیدل او د دسیسو درك زمونږ یوه اسلامي وظیفه ده،مونږ د اسلام او اسلامي عقیدې د دښمنانو پرضد په جهاد ماموریو او جهاد د اسلام د دښمنانو په ضد د مسلمانانو یو – رایمی مکلفیت دی. د ملحدینو دسیسې ډیرې زیاتې دې زمونږ لاره،زمونږ هدف او زمونږ نصب العین په افغانستان کې د اسلام کامیابي ، د اسلامي احکامو تسلط او دیوه اسلامي حکومت تأسیس دی،د دې مرام لپاره زمونږ مؤمن ملت د سوونوزرو په شمیر د ځانونو او د سرونو نذرانه وړاندې کړې. د دې نذرونو چی د خدای (جل جلاله) د دین د حاکمیت لپاره وړاندی شوې نتیجه په ضروری ډول د خدای (جل جلاله) په مرحمت کامیابي ده. هغه ملت چې د خدای په لاره کې قربانـي ورکوي پخپل مقدس مرام کې هیڅکله نه ناکامیږی.

نن نجیب او د نجیب امثال ملحدین یوازې په افغانستان کی د تباهی او ابدی زوال په حالت کی نه دي،بلکې د دوی د شرمیدلي جنایت دسیسې د ملحدو رژیمونو د تسلط لاندې نوروسیمو کې هم د سقوط او ابدي زوال لوري ته رواني دي. زمونږ د جهاد اوسنی کامیابي چی زمونږ هیواد کی فاسد الحادی رژیم د ابدي نابودی سره مخامخ کړی په واقعیت کی ټول بشریت ته د بې دینی له مفاسدو او د الحاد له جنایاتونه د نجات زیری دی. اوس مونږ د روس الحادی تسلط په ضد له ټولو سیمونه د الحاد د تردید او مذمت اوله هغه سره د مقابلې آوازونه اورو. د دې آوازونو نه دا واقعیت څرگندیږي چې زمونږ جهاد ټوله نړی کې دملحدینو د وحشت په ضد بشري احساسات پارولي. مونږ نړی ته

خصوصاً د روسانو ترکمونستي تسلط لاندې هیوادونو ته
د هغه جنایتکار سیستم او دهغه سیستم د هغونو کرانو
جنایات وښودل چې زمونږ د مجاهد ملت په ضد د
روسانو د تعرض په وخت کې او اوسني روان وخت کې
په جنایاتو ، بوخت دي . مونږ یقین لرو چې د روس هغه
نوکران چې اوس زمونږ په هیواد کې د «گارد خاص»
په نوم زمونږ د خلکو په وژلو ، زمونږ د اسلامي عقیدې
په محوه کولو او زمونږ د اسلامي هویت په بدلولو
لگیادی زربه د خپلو روسي بادارانو غوندې نابود شي .
دا جهاد د خدای (جل جلاله) د منلي دین د کامیابۍ
لپاره پیل شوی او په دې کی خدای تعالی مونږ ته
نصرت راکوي نو ځکه د کمونستانو ټول هغه پلانونه
چې یاد شول زرتر زره به د دایمي ناکامۍ سره مخامخ
شي او کمونستان به په ابدي لعنت محکوم شي . خدای
تعالی فرمایی : «و ما النصر الامن عند الله العزیز
الحکیم .»

د شهيد مولوى فتح الله « حقانى» لنډه پيژندنه

د اسلام دلارى د دغه نوميالى مجاهد اصلى نوم حبيب الرحمن ، په قوم ځدراڼ او په ۱۳۲٦ ه ش کال کې د پکتيا د ولايت دوزې د ولسوالۍ دفخرې د ملايانو په کلي کې زيږيدلى ؤ . د پلار نوم يې مولوى عبدالرحيم دى .

په ۱۳۳۸ ه ش کال کى يې له خپل ورور مولوې نظام الدين « حقانى» څخه د دينى علومو په زده کړه پيل وکړ . لومړني مروجه ديني علوم يې پخپل کلي او دزرمت داړې د علاقدارى په شا او خوا سيمو کې سر ته ورسول ـ وروسته يى بيا دزرمت د شاهى کوټ په سيمه کى هم له دينى عالمانو څخه ځيني کتابونه ولوستل ، خو پوره تنده يې پرې ماته نه شوه او دلوړو دينى علومو د زده کړې په تکل د اسلامي ګاونډي هيواد پاکستان په لور وخوځيد . په ۱۳٤٦ ه ش کال کى يى د اکوړه خټك په حقانيه دارالعلوم کى په لوړه دينى زده کړه پيل وکړ ، څلور کاله يى دغلته د دينى علومو په زده کړه تير کړل او شهادتنامه يى ترلاسه کړه .

په ۱۳۵۲ ه ش کال کی د داؤد له کودتا څخه وروسته يې په تحريکي جهاد پيل وکړ اوځه وخت وروسته يې دغه تحريکي جهاد په عملي جهاد بدل شو او په دې لړ کې يې د لوګر، پکتيا، وردك او غزني په ولايتونو کې د جهاد قومانده په غاړه درلوده. دمولوي جلال الدين حقاني تر قوماندې لاندې يې د معاون په توګه وظيفه هم اجرأ کوله او هم يې دتور خيلو په مدرسه کې د تدريس وظيفه په غاړه وه.

په ۱۳۵۷ ه ش کال کې يې د پاکستان اسلامي هيواد ته هجرت وکړ، د حبيب الرحمن پرځای يې ځان ته د فتح اللّٰه نوم غوره کړ. په همدغه کال يې دارګون دګوملی اولسوالی فتحه کړه.

مولوی فتح الله « حقانی» په ۱۳۵۹ ه ش کال کی د مولانا جلال الدين حقاني د جبهاتو آمروډاکل شو چې په همدې وخت کې يې دلڅه، بړی، ډبکی تانې فتح کړې او د ځاځي ميدان، شهرنو او يو زيات شمير نورو جنګونو کې يې د قوماندان په توګه وظيفه اجرأ کړله او هرځل يې دښمن ته سخته ماتې ورکړه.

په ۱۳٦٤ ه ش کال د حج د فريضې د ادأ کولو لپاره بيت اللّٰه شريف ته لاړ، له حج څخه تراستنيدو وروسته يې سمدستي بيا دجهاد ميدان ته و دانګل.

بالاخره د اسلام دلارې دا نوميالی مجاهد او ستر عالم په ۲۲ / ٦ / ۱۳٦٤ نيټه دجمعې په مبارکه ورځ د شهادت لوړ مقام ته ورسيد.

(اِنا للّٰهِ وانا اِليه راجِعون)

د شهيد مولوی احمد ګل لنډه پيژندنه

د اسلام د حقې لارې د قربانيانو، او سرښندونکو په ليکه کې چې خپل سرونه يې داعلای کلمة الله لپاره د خدای (ج) حضور ته نذرانه کړي، يو هم شهيد مولوی احمد ګل د بايګل زوی دی چې په (۱۳۲۰) ه ش کال کې د پکتيا ولايت د ځدرانو دنکی علاقدارۍ په يوه ديندارہ کورنۍ کې زيږيدلی ؤ. نوموړي خپله ابتدائي زده کړه د خپل کلي (نکی) په مدرسه کې پيل کړه او وروسته ئې دارګون دلويې ولسوالۍ د بابا جي صاحب په مدرسه کې خپلې زده کړې ته دوام ورکړ. يو کال ئې د غزني په ولايت کې زده کړه وکړه او وروسته د علم حاصلولو لپاره پاکستان ته راغی او د اکوړه خټك په حقانيه مدرسه کې يې ځان شامل کړ. او خپل تحصيلات

یی په نوموړی مدرسه کی سرته ورسول . دیگړیه ترلو ځخه وروسته بیرته خپل کلي ته ولاړ او هلته د(نکی) په مدرسه کی سر مدرس شو . وروسته د داؤد په دوره کی اته میاشتی دگردیز په بندیخانه کی بندی شو . د بندیخانی نه چې ځنګه خلاص شو د یوې دیني مدرسې د سر مدرس په توګه وټاکل شو ، خو کله چی د ثور ناولي کودتا وشوه او په هیواد کې د روسانو خلقي او پرچمی ګوډاګیان قدرت ته ورسیدل مهاجر شو او بیا یې په وسله-وال جهاد لاس پورې کړ .

په (١٣٥٨) کال مولوي صاحب احمد ګل د مولوي جلال الدین حقانی لخوا د (ج - ج) د محاذ دآمر په صفت وټاکل شو ، وروسته له یوه کال ځخه د حزب اسلامی دنظامي چارو آمر په صفت مقرر شو . چې د خپل وخت ښه مدبر او په کار پوه شخص و . او د تنظیم د مجاهدینو چارې یې په ښه شان سرته رسولې .

په (١٣٦٤) کال د مولوي جلال الدین(حقانی) لخوا دلیږې د مجاهدینو عمومي قوماندان مقرر شو .

بالاخره یې د خدای (ج) د رضا په لار کې د جمعی په مبارکه ورځ په(١٥ /٧ /١٣٦٤) نیټه د شهادت لوړ مقام په برخه شو .

(انا لله وانا الیه راجعون)

د شهید مولوی عتیق الله لنډه پیژندنه

په افغانستان کې دکفر او الحاد پرضد د حق د لارې د میرنیو مبارزینو او مجاهدینو په ډله کې یو هم الحاج مولوي عتیق الله د الحاج محمد والی زوی ؤ چې په ١٣١٨ ه ش کال کې د پکتیا دولایت دځیرمې دکلي په یوه دینداره کورنۍ کې زیږیدلی ؤ .

لومړنی دینی زده کړه یې پخپله کورنۍ کې له خپل پلار ځخه پیل کړه،وروسته یې دخوست ، ګردیز او غزنی په مدرسو کې هم ځینې دیني کتابونه ولوستل ، او بیا دلوړو دیني زده کړو په نیت پاکستان ته راغی ، په



اکوړه خټك او مردان کې یې له دینی عالمانو ځخه یو شمیر دیني کتابونه ولوستل . په ١٣٤٤ ه ش کال کې یې دپیښور د سرحد په مدرسه کې د مولانا ایوب جان بنوری صاحب ځخه داحادیثو دوره وکړه اوله همدغې مدرسې ځخه یې دفراغت سند ترلاسه کړ ، دفراغت سند له اخیستلو ځخه وروسته بیرته خپل هیواد افغانستان ته لاړ او د دیني علومو په تدریس یې پیل وکړ . په همدغه وخت کی یې

دکمونستانو پرضد په مبارزه پیل وکړ . د افغانستان د جیدو علماؤ په ډله کې یې د ظاهر شاه پرضد مبارزه کې فعاله برخه اخیستې وه ، کله چې ظاهر شاهی حکومت د دیني علماؤ په ځورولو تکلیف رسولو ، بندیانولو اووول شکنجو ورکولو پیل وکړ مولوي صاحب عتیق الله پاکستان ته راغی او یو کال یې د تبلیغ په سلسله کې تیر کړ . بیرته خپل وطن ته لاړ او د وخت د حکومت پرضد یې خپله مبارزه پیل کړه . کله چې په۱۳۵۲ ه ش کال داود د روسانو او کمونستانو په حمایت او ملاتړ قدرت ته ورسید ، دحکومت له خوا د مولوي صاحب عتیق الله دنیولو لپاره ډیری هڅې وشوې خو مولوی صاحب ورڅخه خدای (ج) په خپل امان کې وساته . کله چې بیا په ۱۳۵۷ ه ش کال په افغانستان کې د روسانو په ملاتړ او حمایت کمونستانو د تره کي په مشری قدرت تر لاسه کړ ، مولوی صاحب د خپلې کورنۍ سره پاکستان ته هجرت وکړ او په وسله وال جهاد یې لاس پورې کړ . د جاني خیلو ولسوالی ، دخوست میلی علاقداری د شهرنو او ځمکنو د ولسوالی په فتحه کولو او یو شمیر نورو جهادی عملیاتو کې یې په ډیره میړانه برخه واخیسته .

مولوی صاحب عتیق الله په ۱۳۶۳ ه ش کال د مولوی جلال الدین حقانی صاحب له خوا د پکتیا دشمال په استقامت د (۳۱) جبهو اوگروپونو دعمومي امیر په حیث وټاکل شو ، خپله دغه ستره وظیفه یې په پوره ایماندارۍ سره سر ته ورسوله .

نوموړی په ۲۴ /۲/ ۱۳۶۷ ه ش کال درمضان المبارك په ۲۷ نیټه،په داسې حال کې چې شهرنو فتح شوی ؤ ، دنورو (۱۳) تنو مجاهدینو په شمول د دښمن له خوا دایښودل شوي مین په ذریعه په شهادت ورسید .

(انا لله وانا الیه راجعون)

شهید غادي محـــمد

د حق د لارې د هغو قربانیانو نه چې د اسلام د پاك دین لپاره یې دجهاد کارنامې زمونږ د مقدس جهاد په روښان تاریخ کې د ممتازو عناوینو حیثیت لرې یو تن

شهید غادی محمد دی . غادی محمد د سید محمد خان زوی او د پکتیا ولایت دوزی ولسوالی د سلطان خیلو اوسیدونکی، په قام سلطان خیل ځدران ؤ . هغه خپله مقدسه مبارزه دکفر او کمونستي الحاد او الحادی دسیسو په ضد دحق د سنگر د فداکار قوماندان مولانا جلا الدین

حقاني تر مشرۍ لاندې دداود د رژیم په وخت کې دهغو الحادي فعالیتونو په شرایطو کی پیل کړه چی د داود دالحاد پالونکی رژیم په سیورۍ کی دودی او انکشاف په حالت کی ؤ . غادی محمد له لومړی شیبی نه د نورو ټولو مجاهدینو غوندې خپل سر داسلام د کامیابۍ نذر کړی ؤ . نو ځکه آرزو ، ارمان او تصور یی دیو آزاد ، آباد او اسلامی افغانستان د جوړیدلو نه پرته بل څه نه ؤ.

هغه د جهاد په سنگرونو کی د حق لپاره د شهامت په مسابقه کی داسې میرانه ښوده چی ډیر خلك به ورته په حیرت کې وو . هغه د اسلام له پاك دین څخه د پاك نیت سره قربان شوی زلمی ؤ . نوموړی دداود د الحاد پالونکی رژیم په وخت کی دالحاد او کمونیزم په ضد مبارزو کې د ۱۳۵۲ کال څخه تر (۱۳٥٤) کاله پورې د خپل محبوب اومنلی قائد مولانا جلا الدین « حقانی» سره فعالیت کاوه. بیایی دتره کی دکمونستی وحشت له پیل څخه یی دخپل قائد تر مشرۍ لاندې په مسلح جهاد پیل وکړ او د خدای(ج) په لاره کې یې دخدای د رضا د حاصلولو په هیله د شهادت تر شیبو پورې په میرانه جهاد کاوه او د شهادت تر وخته پورې د جهاد په سنگر کې ؤ . شهید غادی د جهاد فی سبیل الله په مودو کی دری ځلې زخمي شوی ؤ،خو زخمی توب دهغه په جهادي فعالیتونو کی هیڅ ډول کمی نه ؤ راوستی اوتر آخره پورې د حق سنگر کې دیو زړور نامتو او فداکار قوماندان په حیثیت پاتی شو . شهید غادي دبری تانی د فتح کولو په وخت کی کله چی ابراهیم او عالم جان ټانکو نه وخیژول د مجاهدینو دقیادت و ظیفه درلوده او هلته ئې لوړ شهامت وښود. په (۱۳٦۱) کال کې کله چې مجاهدین په روحاني صاحب کې د ملحدینو سره په یوه سخته جگړه کی محاصره شول پوازې غادی

خان او یو بل زړور وړور ئې محاصره ماته کړه او مجاهدینو ته یې د کمونستانو له وحشت څخه نجات ورکړ . په (۱۳٦۱) کال کې د حق دلاری مجاهدین چې قوماندان یې محمد ابراهیم او معاون یی خدای بخښلی غادي ؤ دشیخ فیروز سیمه کی د دښمن له خوا دیوی سختې جگړی په وخت کې محاصره شو،هغه دخپل زړور قوماندان تر قیادت لاندې هغه محاصره ماته کړه او دښمن په هغه سخته جگړه کې ماتې وکړه دهغه میړنی قهرمان د جهاد تاریخچه داهم راښي چی په(۱۳٥۸) کال کی د تعمیر دولسوالی دنیول کیدلو په وخت کې غادی لوړ شهامت ښودلی و.دغادی محمد د نورو لوړو جهادي کارنامو په شمیر کې هغه عمل هم دیادولو وړدی چی باتور کې یی یوه لویه قوا تسلیمیدلو ته مجبوره‌کړه.په مزری کڅ کی یي هم د دښمن یوه قوا تسلیمیدلو ته مجبوره کړه او د غادی محمد د قهرمانیو په شمیر کی دهغو قهرمانیو یاد هم د ستایلو او تمجید وړ دی چی غادي په هغه جگړه کې وښوده چی د دښمن د پوځونو یوې ډیری لویی قوا څخه کوله چی دشمل نه خوست ته تیره شي. هغه جگړه چی (٥٦) ورځې یې دوام وکړ دنورو مجاهدینو د شهامت ځنگ کې د غادي محمد دشهامت عالي واقعیتونه به په زړو او اذهانو کی دتل لپاره روښان او تازه وساتي. هغه جگړه کی د خدای په مرحمت ددې زلمی او د نورو سوونو مجاهدینو د اسلامي غیرت په برکت دښمن مات اوتیښتې ته مجبور شو خوغادي محمد په یو ماین باندې د راتلو په وجه دشهادت مقام حاصل کړ او ددې فانی دنیا نه لاړ او د دیني احساس او د اسلامی همت واقعیتونه یی دیادگار په ډول پاتې شول.

(انا لله وانا الیه راجعون)

شهید مطیع الله خان مطیع

د ۱٤۰۹ قمري کال د ذوالحجې په (۱۷) نیټه د اسلامي حزب د نظامی چارو رئیس او د عبوري حکومت دکورنیو چارو د وزارت مرستیال مطیع الله « مطیع » چې اصلي نوم یې گلباز او د پکتیکا د ولایتی امورو مسئول هم وُ ، د نادر شاه کوټ له فتحې څخه وروسته د نادر شاه کوټ او دومندی ترمینځ لاره کې د یو ماین د الوتلو په وسیله د دریو تنو نورو مجاهدینو سره د شهادت اعلی

مقام وګاته (انا لله وانا الیه راجعون) د شهید مطیع جنازه د شهادت نه وروسته ددوی پلارنی ځای زیروك ته یوړل شوه . شهید مطیع دهغو مجاهدینو څخه و چې جهاد یې د کمونستانو د تسلط نه مخکې د سترمجاهد مولانا حقانی ترقیادت لاندې د کفر او الحاد په ضد چې ملحدو کمونستانو یې په خپرولو پیل کړی وُ،شروع کړی و.

د شهید مطیع د شهادت په وخت کی الحاج مولانا « حقانی » د حج په سفر تشریف وړی وُنو ددې وروړې جنازه کې له ګډون نه لیری پاتې وُ . د مطیع د جنازې په مراسموکې د حزب اسلامي امیر د عبوري حکومت د کورنیو چارو وزیر مولوی محمد یونس خالص او د جهاد نور زیات شمیر قوماندانانو ګډون کړی وُ .

د مطیع شهادت د اسلامي حزب د امیر او د عبوری حکومت د کورینو چارو د وزیر له خوا د یو لوی زړور او نه هیریدونکي قوماندان شهادت وبلل شو. محترم خالص صاحب وویل چی د افغانستان مسلمان مجاهد ملت د شهید مطیع دشهادت د سفر په وجه د یو لوی مجاهد له جهاد نه محروم شو . مطیع الله « مطیع » په ۱۳۹۵ قمری کال کی د داود د رژیم په ضد د عملی .اقداماتو نه وروسته پاکستان ته هجرت کړی و . او د جهاد له پیل نه تراوسه پورې په جهاد بوخت و . هغه د افغانستان په مختلفو ولایاتو کې لکه ننگرهار ، کنړ ، پکتیا ، پکتیکا او لوګر کی مسلسل جهاد کړی وُ . مطیع الله د شهادت نه مخکې د جهاد په دوران کې دوه ځلی زخمې شوی و . او دهغو شخصیتونو له جملې څخه وچې هغوی د اسلامی انقلاب لپاره دپکتیاپولایت کې دټولو اسلامی جهادی تحریکونو نه مخکې قیام کړی وُ او دهغه قیام قیادت د پکتیا ولایت کې الحاج مولانا حقاني درلود .

شهید مطیع په ډیرو فتوحاتو کی د مولانا حقاني په څنګ کی خپل جهاد ته دوام ورکړی وُ .

دشهید مولوی قادر محمد گربز
لنډ ژوند لیک

د اسلام د حق لارې د مؤمنو مجاهدینو او میړنیو سر ښندونکو له ډلې څخه یو هم مولوي قادر محمد گربزؤ چې پخپلو سپیڅلو وینو یې دافغانستان داسلامي انقلاب شمع بله ساتلې او د خدای (ج) د رضا او داعلای کلمة الله لپاره یې په نه ستړي کیدونکې توگه جهاد وکړ

نوموړی د میرکی زوی ؤ چې دوړوکی د کلی په یوه دینداره کورنۍ کې زیږیدلی ؤ . خپله ابتدائی زده کړه یې د گربز و په ابتدائي ښوونځي کې سر ته ورسوله او بیائې د خوست له دیني عالمانو څخه د لومړنیو دیني علومو زده کړه وکړه ، وروسته پاکستان ته لاړ او په لاهور ، راولپنډۍ ، مردان او اکوړه خټك كې یی دلویو

لویو دیني عالمانو څخه زده کړه وکړه . په ۱۳۴۹ هـ ش کال کې یې دپیښور د صوبه سرحد له دارالعلوم څخه د یو تکړه مولوي په توگه د فراغت سند تر لاسه کړ .

شهید مولوي قادر محمد د خپل ژوند ډیره موده د یو فعال مدرس په توگه ددیني علومو د طالبانو په ښوونه او روزنه تیره کړې وه او په دې لړ کې یې په خوست ، تڼیو ، طراخیلو اود شمالي وزیرستان په دیني مدرسو کې ډیر طالبان روزلي دي .

کله چې په افغانستان کې د روسانو په حمایت او ملاتړ خونړۍ کودتا وشوه او ملحد او وطن فروش کمونستان (خلقیان او پرچمیان) قدرت ته ورسیدل ، مولوي صاحب قادر محمد په وسله وال جهاد پیل وکړ . او دخوست د مجاهدینو د عمومي قوماندان په توگه یې په زیاتو عملیاتو کې گډون وکړ چې هر ځل یې دښمن ته د سر او مال درانه تلفات واړول . دلته یې دځینو مهمو عملیاتو په یادونه اکتفأ کوؤ :

۱ـ د خوست دبکی په تانه
۲ـ دخوست دلکڼو په پوستو
۳ـ د خوست دخړی لوټی فتحه
٤ـ دخوست دهوایی ډگرادیوی پوستی فتحه
٥ـ دزرمت د شاهي کوټ عملیات
٦ـ ددومندی عملیات
۷ـ دارگون عملیات
۸ـ دلیژی تانې فتحه او داسی نور .

بالاخره د اسلام دحقې لارې دغه نومیالی مجاهد په ۱۳۵۹ هـ ش کال په بړې تانه کې له دښمن سره په یوه مخا مخ جگړه کې دشهادت مقام ته ورسیده .

(انا لله وانا الیه راجعون)

شهید قوماندان حاجی عبدالمنان

د اسلام د حقی لارې د قربانیانو په ډله کی چې ویاړلی کارنامی یی زمونږ د اسلامي انقلاب او جهاد په تاریخ کی په زرینو ګرښو ثبت دي یو هم حاجي عبدالمنان دی چې په ۱۳۳۰ ه ش کال دلوګر په ولایت کی زیږیدلی و

نوموړی په قوم کو چی او د لعل عمر زوی ؤ. په ۱۳۵۷ ه ش کال کې یې دستر مجاهد الحاج مولانا جلال الدین حقاني تر قیادت لاندی د ارګون په تر موره کی وسله وال جهاد پیل کړ او د شهادت تر وخته پورې یی دهمدغه ستر مجاهد تر قیادت لاندی جهاد کاوه .

دهغی زړورتیا او شهامت له امله چی د جهاد په چاروکې یې درلود په ۱۳۵۹ ه ش کال د جبهې دقوماندانۍ له مسؤلیته ډکه وظیفه ورتر غاړې شوه .

نوموړي د بیلا بیلو عملیاتو په لړ کې دښمن ته د سر او مال درانه تلفات وروارول. چی دلته یې یوازې دلیژه د علاقداری د فتحی ، دبړی منطقی دفتحی او په ۱۳٦٤ ه ش کال دژوری په مرکز باندې د روسانو او ملحدو کمونستانو دیر غل پرضد د عملیاتو او له ملحد دښمن څخه د جلالی ، خرڅین،لکن ،دشنیکی د سیمو د آزادولو او فتحه کولو په عملیاتو کی دده د فعالا نه ګډون یادونه د نورو فتوحاتو په لړکی ضروری ده.

داسلام دلاری دغه ننګیالي مجاهد د خپل جهاد په دوران کې دوحشي او ملحد دښمن (۲۵ ء ۳۰) ډول ډول الوتکې راغورځولي دي.

بالاخره دغه قهرمان مجاهد په ۱۳٦۸ ه ش کال دلکن له فتحی څخه وروسته په شینکی کې د ښمن له خوا دایښودل شوی ماین په ذریعه دشهادت لوړ مقام ته ورسید

(انا لله وانا الیه راجعون)

دجهاد د وخت قهرمانۍ

د پکتیا او پکتیکا ولایتونوکی د شهید عبدالمنان دلاندینو فتوحاتو یادونه ضرور ګڼو :

۱ـ ۱۳۵۷ کال کی دګوملی دعلاقداری په فتحه کی ده خپله قهرماني ښودلې ده .

۲ـ ۱۳۵۷ کال کې دوزی د ولسوالی په فتح اوهمد رشخور(۳۸) غنډ له منځه وړل په ځدرانوکی

۳ـ ۱۳۵۸ کال کې دریګي ټانی په فتح کی دده رول خورامهم ؤ

٤ـ ۱۳۵۸ کال کې د گورگرۍ تانۍ فتح .

٥ـ ۱۳۵۹ کال کې دبړې لويه قشله ده تر قوماندې لاندې فتحه شوه .

٦ـ په ۱۳۵۹ کال کې دليژۍ دتهانې په فتح کې ده خپله قهرماني څرگنده کړه.

٧ـ ۱۳۵۸ کال کې دزرمت په مشهورو جنگو کې ده ډيره بريالۍ ونډه اخيستې وه .

٨ـ په ۱۳۵۹ کال کې يې دارگون په محاصره کې لويه قهرماني څرگنده کړې وه .

٩ـ په ۱۳٦۲ کال کې دارگون په لويه محاصره کې دده زياتې قهرمانۍ په نصيب شوې .

١٠ـ په ۱۳٦۳ کال کې يې دځمکنيو په مشهور جنگ کې برخه اخيستې وه.

١١ـ په ۱۳٦۳ کال کې د سيد کرم داولسوالی په مشهورو جگړو کې دده ونډه نه هيريدونکې ده .

١٢ـ په ۱۳٦٥ کال کې د ځمکنيو د ښهرنو په فتحه کې دده ميړانه د زياتې ستاينې وړده .

١٣ـ په ۱۳٦٥ کال کې دژور په لوی تاريخي جنگ کې چې د مولانا جلال الدين حقاني ترمستقيمې قوماندې لاندې اداره کيده د عبدالمنان ونډه، فتوحات او بر ياليتوبونه نه هيريدونکې تاريخي کارنامې دي .

١٤ـ په ۱۳٦٦ کال کې دښتې کنډو او دسنکيود پوستو په مشهورو جنگو کې يې زياته ونډه آخيستې ده .

١٥ـ په ۱۳٦٧ کال کې دځمکنيو په مشهور جنگ کې د کابل رژيم قوا په بشپړډول ماته شوه ـ دده ونډه پکې تاريخي ارزښت لری .

١٦ـ په ۱۳٦۸ کال کې يې د زرمنکی، لکنو ، سپنکی، توری غاړې دجانداد غنډ او دروازگی پوستوفتحې کې فعاله ونډه آخيستې وه .

١٧ـ د ۱۳٦۸ کال دجوزا دمياشتې په دريمه نيټه دخوست دښينکی اوډيری پوستو باندی دبرياليو عملياتو په نتيجه کې يې دښمن ته زيات تلفات ورسول. شهيد عبدالمنان کوچی چې پوره يوولس کاله د مزدور رژيم او وحشی روسانو په مقابل کې بريالی جهاد کړيدی دپورتنيو جهادی عملياتو په ترڅ کی يی مشخص امتياز پدی ډول يادولی شو :

١ـ له (٣٠) ـ (٢٥) پورې مختلف النوع جنگی او باروړونکی اکمالاتی روسې طياری يی له منځه وړې دې.

٢ـ د (٥٠٠) په شا او خوا کې ددښمن موټر او ټانکونه ئی تباه کړيدې.

٣ـ د دښمن نه ئې دجهاد په موده کی د (٢٠) ميلو په شاوخوا زيکو يك ماشيندار ، هاوان توپونه ، ابوس 75mm توپونه ، دهشکې او نورې درندې وسلې نيولې دې .

٤ـ د (٥٠٠) ميله په شاوخواکې کلاشنکوف او نورې وړې وسلې يې نيولې دې .

٥ـ د دښمن زيات شمير رخوراکي مواد او ډيپوگان ئې نيولې دې او څه ئې د درندې وسلې په واسطه تباه کړيدې .

د شهيد مولوی محمود ، لنډه پيژندگلوی

د سره استعمار او دهغه د مزدورانو پرضد ، دافغانستان د مؤمن ملت د وسله وال جهاد د تا وده سنگر د زړورو مجاهدينو په ليکه کی يو هم مولوی محمود ، د مولوی عبدالحکيم زوی ؤ چې په ۱۳۰۸ ه ش کال کې د

پکتیا د ولایت دوزی د ولسوالی د ایوب خیلو په کلی
کې زیږیدلی ؤ .

د دیني علومو زده کړه یې په زرمت کې له خپل



تره مولوی محمد قاسم څخه وکړه . نوموړي د دینی
علومو ترڅنګ قرآن کریم هم حفظ کړی ؤ .

کله چې په ۱۳۵۷ ه ش کال د ثور خونړۍ کودتا
رامینځ ته شوه او د روسانو غلامان او نوکران قدرت ته
ورسیدل ، او پرضد یې دافغانستان مؤمنو خلکو جهاد
پیل کړ ، په همدغه وخت کې مولوي صاحب محمود هم د
ملحدو کمونستانو پرضد وسله وال جهاد کې فعاله برخه
واخیسته او د مجاهدینو د قوماندان په توګه یې په ډیرو

عملیاتو کې په میړانه او زړورتیا سره د ملحد دښمن
مقابله وکړه .

د نوموړي یو ډیر ستر صفت داؤ چې د جهاد په
جریان کې یې وسله ، کارتوس او خوراکي مواد په خپلو
پیسو اخیستل .

د حق دلارې دغه تکړه مجاهد په ۱۳۵۹ ه ش کال
کې د زرمت دشاهي کوټ په علاقداری د بم په وسیله
د شهادت لوړ مقام ته ورسید .

(انا لله وانا الیه راجعون)

د شهید لونګین لنډه پیژندګلوی

د سره استعمار او دهغه د مزدورانو پرضد د
افغانستان د مؤمن ملت د جهاد د سنګر د تکړه مجاهدینو
په لیکه کې یو هم لونګین ؤ چې له نن نه٤٩ کاله پخوا د

لوګر د ولایت د کلنګار په ولسوالۍ کې زیږیدلی ؤ .

نوموړی د نیك محمد خان زوی په قوم فتحه خیل کوچی ؤ . په ۱۳۵۸ هـ ش کال کې یې دالحاج حقانی صاحب تر قیادت لاندې په جهاد پیل وکړاو د دښمن پرضد یې په ډیرو عملیاتو کې برخه اخیستی وه کله چې مجاهدینو په ۱۳۵۹ هـ ش کال کی د خیرکوټ په چوڼی باندې حمله وکړه نو موړی د شهادت لوړ مقام ته ورسید .

(انا لله وانا الیه راجعون)

دشهید خان ګل لنډ ژوند لیك

د حق دلارې د قربانیانو په ډله کې یو هم خان ګل دی چې له نن څخه تقریباً (٤٦) کاله پخوا د لوګر د ولایت دکلنګار په ولسوالی کی زیږیدلی ؤ .

نوموړی د عالم دین زوی او په قوم فتحه خیل کوچی ؤ . دثور دکرغیړنی کودتا څخه وروسته یې په ۱۳۵۷ هـ ش کال د ملحدینو او کمونستانو پرضد د حاجی عبدالمنان تر قوماندې لاندې جهاد شروع کړ . او د بیلو بیلو عملیاتو په ترځ کی یې دښمن ته د سر او مال درانه تلفات واړول ، چې دلته یې دنمونی په توګه د بټی، تور کانی او چکن کمره او ډبګی د پوستې دفتحې د عملیاتو یادونه کړوو چې د چکن کمر په عملیاتو کی یې دکمونستانو یو جیپ موټر او درې تنه ملحدین ژوندي ونیول .

بالاخره د حق د لارې دغه مجاهد په ۱۳۵۹ هـ ش کال کی د میزان په ۲۷ نیټه د دښمن د ماین په ذریعه د شهادت لوړ مقام ته ورسید .

(انا لله وانا الیه راجعون)

د شهید نور ګل لنډ ژوند لیك

د هغو مجاهدو قهرمانانو په جمله کې چی کارنامې یی زمونږ د اسلامی انقلاب په تاریخ کې په زرین خط ثبت دي یو هم نور ګل دپیرګل زوی ؤ چی له نن نه تقریباً (۲۹) کاله پخوا دلوګر د ولایت دکلنګار په ولسوالی کې سترګې نړۍ ته غړولې وې . په قوم فتحه خیل کوچی ؤ .

نوموړی په ۱۳۵۷ هـ ش کال کی د ملحدینو او کمونستانو پرضد په وسله وال جهاد لاس پورې کړ او د بیلو بیلو عملیاتو په لړکې یې دښمنانو ته د سراو مال درانه تلفات ورواړول . خصوصاً د بټی ، تورکاڼی ، چکن کمره ، ډبګی او نورو سیمو باندې د مجاهدینو په عملیاتو کې ګډون یی د زیاتی ستاینی او یا دونی وړ دی.

بالاخره په ١٣٥٩ ﻫ ش کال کې د خپل تره سره یو ځای په سنګر کې د دښمن له خوا دایښودل شوي ماین په ذریعه د شهادت دلوړ مقام خاوند شو .

(انا لله وانا الیه راجعون)

د شهید عبد البصیر لنډ ژوند لیک

د اسلام د مقدس دین دحقې لارې دقهرمانو مجاهدینو په ډله کې چې زمونږ د اسلامي انقلاب په تاریخ کې یې نومونه او کارنامې د تل لپاره په زرینو کرښو ثبت دي ، یو هم عبدالصبیر ؤ .

نو موړې د محمد کبیر زوی ؤ چې ١٣٤٣ ﻫ ش کال کې د کابل ولایت د چهار آسیاب د ولسوالې دشات خانې په کلي کې سترګې نړۍ ته غړولي وې . زده کړه یې د چهار آسیاب په ښوونځي کې سر ته رسولې کله چې له دولسم ټولګی څخه فارغ شو دخپلې کورنی سره یوځای

مهاجرشو . او بیایې پخپله سیمه کې د ملحد اوبې دینه دښمن پرضد په وسله وال جهاد لاس پورې کړ . په زیات شمیر عملیاتو کې یې ګډون وکړ او هر ځل یې دښمن ته د سراو مال درانه تلفات ورواړول .

دغه ننګیالی مجاهد تر درې کاله وسله وال جهاد څخه وروسته په ١٣٦٠ ﻫ ش کال دلوی اختر په دریمه ورځ له دښمن سره په یوه مخامخ جګړه کې د شهادت لوړ مقام ته ورسید .

(انا لله وانا الیه راجعون)

د شهید میر باز خان لنډ ژوندلیک .

د اسلام د حقې لارې د هغو سرښندونکو مجاهدینو په ډله کی چې کارنامې به یې د تل لپاره زمونږ د اسلامي انقلاب په تاریخ کې په زرینو کرښوثبت وي ، یو هم میر-



باز خان ژ چې د حاجي معاذ الله خان زوی، د لوگرد ولایت د خرواردارز وخیلو اوسیدونکی ژ او په ۱۳۴۷ هـ ش کال کې په یوه دینداره کورنۍ کی زیږیدلی ژ .

نوموړی لاتنکی زلمی ژ چی د جهاد مینې هغه د سره استعمار او د هغه د نوکرانو پر ضد د جهاد سنگر ته وروست، او د نورو مجاهدینو سره یې اوږه په اوږه دژوند ترپایه پورې د ملحد دشمن په مقابل کی په ډیر ی میړانې سره جهاد وکړ . په ډیر وعملیاتو کې یې برخه واخیستله او هرځل یې دشمن ته د سر او مال درانه تلفات ورواړول .

بالاخره دغه زړوراو تکړه مجاهد د ۱۳۶۸ هـ ش کال دسنبلې د میاشتې په (۴) نیټه د پکتیا ولایت په مرکز گردیزکې د تیرې په کنډوکې د دشمن په یوه ډیره مهمه پوسته باندې د تعرض په حال کی د شهادت لوړ مقام ته ورسیده .

(انالله وانا الیه راجعون)

د شهید مولوی امین محمد امین

لنډ ژوند لیك

د اسلام د حقی لاری مجاهد او دینی عالم مولوی امین محمد امین د مولوي جنت خان زوی د پکتیا د ولایت د جاني خیلو دا ولسوالی دبلخیلو د قوم د مندي خیلو د کلي اوسیدونکی ژ .

دغه دیني عالم او مجاهد په نه ستړي کیدونکې توگه د خدای (ج) د رضا او د اعلای کلمة الله په لارکې جهاد او دیني تبلیغ وکړ او هم یې دقوم د مشر په



توگه دخپل اولس خدمت کاوه .

نوموړي د مولانا جلال الدین حقانی تر قیادت لاندې وسله وال جهاد کړی دی . بالاخره د حق دلارې دغه مجاهد په ۳ / ۷ / ۱۳۶۷ نیټه د شهادت لوړ مقام ته ورسید .   (انا لله وانا الیه راجعون)

مناجات

ای دلوی جهان مالکه! ای د درست عالم واکداره! د قوت، قدرت څښتنه! ای زموږ پروردګاره!

راوتلی یم ستا عشق کې خپلې مینې نه په مینه نذرانه مې سر قبول کړه په دې عشق کې په دې لاره

چې ځلانه ما د توري د شفق د سینې داغ شي د جهاد حرم ته بوځه ما له سباره له بازاره

هغه نور چې دې پېراو تره سولی په یو ځلک یم پاپتنګ مې کړه هغه ته یا مې خلاص کړه له روزګاره

ماویل ستا د جمال لمرته د ذرې غوندې به ناځم یمه لېرې پاتې شوی له دې هیلې له دې کاره

د غازي د توري شرنګ مې نخوي دا ستا په عشق کې ما محروم نه کړې د توري د مستۍ له شرنګهاره

نور څه نلرمه رب نه نذر کړې مې خپل سر دی صدقه مې کړه قبوله د اسلام د دین لپاره

چې ناتوانه توان پېشکش کړم نذرانه کې دې دې مینې را نصیب مې کړه خاونده هغه لاره هغه چاره

هغه کاڼی مې نصیب کړه د جالوت ماغزه چې شیندي جالوتیان واړه تباه کړه دا زما له هره واره

ملحدان مو کاروان بولي غلامۍ وحشت الحادته لېرې مه کړې ما هیڅکله د مؤمنو له سالاره

را کړه توان د جهاد لارکې هم ایثار په دغه عشق کې را کړه هغه څه چې غواړي زما عشق له ما نا داره

متانت را ته نصیب کړه د جهاد په امتحان کې روی ګردان مې کله نه کړې د دښمن له کوم ګوزاره

چې ایرې یې کړم ملین کړم اسلامي همت لمبو کې د ایمان جذبه مې او رکړه زما مینه کړه سرشاره

را پیرزو کړه هغه متره، هغه عزم، هغه حزم چې روسي وحشت کړم محوه خلاص مې قام کړم له تاتاره

ما وحشیان د روس ازمایي ستا په مینه کې خاونده! چې مغلوب مې وته نکړې زمار به مدد ګاره!

دا زاري، دا مې دعا ده، دا زما د زړه اسره ده چې محروم نه شمه پاتې د جهاد له افتخاره

زما فکر، زما زړه کې د خپل عشق رڼا کړه زیاته

د «محب» اقرار بل نکړې بې د مینې له اقراره